شهامت

د خپلمنځي انتشار او افتراق په ناورين کې

د ښکېل اسلامي نړۍ راتلونکی...

لسم کال، څلورمه، پرلپسې ۶۰مه ګڼه، ربیع الأول۱۴۳۸هق، دیسمبر۲۰۱۶م

د افغانستان د اسلامي امارت
د زعيم اميرالمؤمنين
شيخ الحديث مولوي هبة الله اخند زاده حفظه الله پېژندنه

افغانستان کې د رشوت او بډو اخيستلو
هيښونکی لوړ ګراف!!

برما کې د روهنګيا يي مسلمانانو زړه بوږنوونکی حالت
او د نړيوالو مجرمانه چوپتيا!

د ميډيا محاذ لپاره
د استعدادونو د روزلو اړتيا

دکابل له اداري څخه
دنهيليو کچه ولې مخ په لوړېدو ده؟؟!

- ربه راوله لښکر د ابابيلو!
- له اسلامي شعائرو سره نابلده ولسمشر
- د اوباما تاريخي اعتراف !!
- د افغانستان لپاره، بې کټې غونډې ... !!

شهامت

علمي، کلتوري او اسلامي مجله

لسم کال، ځلورمه، پرلپسې ۶۰مه ګڼه، ربیع الأول ۱۴۳۸هق، دیسمبر ۲۰۱۶م

دامتیاز خاوند :

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر :

ابو ظهیر

کتنپلاوی :

شاهد ''حقاني '' لطیف عزم
حسن '' علوي'' بلال ''وحید''
نعیم '' صافی '' عابد مجاهد
قاري حبیب

بیه :

یوه ګڼه ۲۰ افغانی او ۳۰
کلدارې په پاکستان کې

تخنیکي مسؤل :

تخنیکي څانګه

یادونه

شهامت له سرمقالې پرته دنورو لیکنو مسؤلیت
په غاړه نه اخلي.

لړلیک

ګڼه	عنوان	مخ
۱	سرلیکنه..	۱
۲	له اسلامي شعائرو سره نابلده ولسمشر........................	۳
۳	دامیرالمؤمنین شیخ هبة الله اخندزاده حفظه الله ژوند ته کتنه...	۵
٤	د ټرمپ انتخاب او ورسره د امریکایي ولس ترلې نه پوره.......	۱۵
۵	په برما کې د مسلمانانو بوږنوونکی حالت او دنړیوالو.........	۱۹
٦	د سرور کائنات صلی الله علیه وسلم نېکمرغه میلاد...........	۲۲
۷	اوبا: طالبان له منځه نه شو وړلی...!!........................	۲۷
۸	ربه راولې لښکر دابابیلو..........................	۲۹
۹	د زده کوونکي خوږ، ګټور او درس ورکوونکی مجلس.........	۳۰
۱۰	ګلورینې پاڼې..	۳۲
۱۱	د تاریخ په پاڼه..	۳۵
۱۲	د مېډیا محاذ لپاره د استعدادونو روزلو ته اړتیا..................	۲۸
۱۳	صحافت او ادب..	۳۹
۱٤	اسلامي امارت د نړیوال دیالوګ پرلور........................	٤۱
۱۵	د کابل له اداري څخه د نهیلیو کچه ولې مخ په لوړېدو ده؟؟!...	٤٤
۱٦	د امریکا د زوال او انحلال شیبې!!..............................	٤٦
۱۷	له افغانستان څخه دامریکا د وتلو همدا مناسب فرصت!!......	٤۸
۱۸	افغانستان کې د رشوت او بډو اخیستلو هیښوونکی لوړګراف.	۵۰
۱۹	د اوباما تاریخي اعتراف..	۵۲
۲۰	د شهید احسان الله احسان ژوند ته لنډه کتنه..................	۵۵
۲۱	د افغانستان لپاره، بې ګټې غونډې...!!.........................	٦۱
۲۲	د اسلامي ثقافت پرخلاف تبلیغاتي ډنډوره......................	٦۳
۲۳	اشرف غني ولې مندر ته ور وست؟............................	٦۵
۲٤	د اوباما د ستاینې وړ اعتراف..................................	٦٦
۲۵	په اروزګان کې مو څه ولیدل؟.................................	٦۷
۲٦	د شهید قومندان ملا نقیب الله مدني ژوند ته لنډه کتنه..........	۷۱
۲۸	آیا لیوني سپي په لیوني جګړه وګټلای شي؟....................	۷٤
۲۹	تاریخ ولې لولو؟..	۷٦

ادرس : کابل کارته پروان عقب سینمای بهارستان **بریښنالیک :** Sham.shahamat@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحيم

سرمقاله

د خپلمنځي انتشار او افتراق په ناورین کې

د ښکېل اسلامي نړۍ راتلونکی...

د خواشینۍ او خفګان وړده چې نن اسلامي امت دخپلمنځي افتراق او انتشار دډېر زړه بوږنوونکي او ډارونکي دور شېبې لنډوي، یوپلو په سوریه، عراق، لیبیا او یمن کې داستعماري هېوادونو په لمسون او بربنډو لاسوهنو دشیعه او سني ترمنځ جګړه دوحشتونو او ظلمونوپه نهائي حد کې جریان لري او په ډېر وحشت او بې دردۍ مسلمانان؛ د مسلمانانو په لاس وژل کېږي.

بل لور په برما، فلسطین، کشمیر او افغانستان کې کفري ځواکونه مخامخ د مسلمانانو سره په جنګ کې قرار لري او په خلاف یې له هیڅ وحشت او ظلم ډډه نه کوي او وینې یې داوبوپشان بهوي.

دسیاسي چارو کتونکو په اند: منځني ختیځ کې دشیعه او سني ترمنځ روان اخ و ډب او وحشیانه جنګونه داسلامي نړۍ د بد راتلونکي ښکارندوي کوي چې ترپیړیو پیړیو به یې زیانونه او بد عواقب جبیره نه شي.

په خاصه توګه حلب کې چې سني مسلمانانو سره کوم وحشیانه سلوک و شو اوکیږي؛ له امله یې داسلامي هېوادو واکمنوته شرم پکار دی، حلب د دنیا په مخ دجهنم ژوندی انځور دی!! دملګرو ملتونو دامنیت شورې نیولې تر اسلامي کانفرانس او عربي سرمشریزې ټول چوپه خوله دي لکه چې دمسلمانانو چیغې او فریادونه نه ور رسي په ورته توګه د دواړو لورو (شیعه اوسني) قیادتونو، علماوو او روحاینو نو له لوري هم د روان ناورین دمخنیوي په لړ کې داسې حرکت نه ترسترګو کېږي چې سره کینې او دمسلکي او فرقه

ایزواختلافاتو حل لپاره دافهام او تفهیم دریغ غوره وبولي او مسلمانان پخپلو منځو کې دجنګولوله شر ه وژغوري

دمعتبرو خبري سرچینو په وینا: په سوریه کې له ۱۲لکه زیات مسلمانان وژل شوي اوددېنه زیات دخپلو کورونو ، کلیو او ښارونو څخه شړل شوي دهمدي مجبوریت له امله په لکونو مسلمانان اروپا او امریکاته دپناه مندلو په موخه کډه شوي چې هلته ډېربدحالت سره مخ دي

په ورته توګه میانمار(برما) کې روهنګیايي مسلمانان دبوځ او بودایانو لخوا دپسونو او ځارویو پشان له تیغ تیریږي او میرمنې یې بې پته او بې ابرو کیږي؛ په فلسطین کې غاصب یهودان مسلمانان ښکاره وژني، په اسلامي شعایرو او احکامو قیودات سختوي افغانستان کې دامریکا په مشرۍ صلیبي یرغلګر ځواکونه دنړیوالو اصولو او مقرراتو نه په سرغړونه دمسلمانانو دوژلو لپاره کیمیاوي او عصري وسلې بیدریغه استعمالوي ...

حال داچې څو لسیزې وړاندې داسلامي نړۍ حال دومره خراب او دردونکی نه و او نه دنن پشان مسلمانان دیوبل له حال او غم بې پروا ول هرکله چې دنړۍ په کوم برخه کې به په مسلمانانو بده ورځ راتله په غبر ګون کې یې نور مسلمانان پورته کیدل لکه په ۱۹۶۹ز کې چې داسرایل له لوري داقصی مسجد سیزلو ناوړه هڅه وشوه په ضد یې ټوله اسلامي نړۍ په یو غږ په خوځښت راغله او د اقصی مسجد سیزل یې په ټوله اسلامي نړۍ دحملې مرداف او ګڼله هم په ټوله نړۍ کې اسرایل دمسلمانانو دقهر جن غبرګون سره مخ شول.

په ورته توګه دشوروي سرې لښکرې چې کله افغانستان ته ننوتې ټولو اسلامي هېوادونه په یو اواز دافغانانو ترشا ودریدل.

خو نن ورځ دمسلمانانو ترمنځ دیو والي روحیه عنقاءده، شام ،عراق اویمن کې اغیار دمسلمانانو وینې بهوي، کشمیر کې هندوان دمسلمانانو دازادۍ غږ زندۍ کوي ، میانمار کې وحشي بودپالانواو په افغانستان کې امریکایان دمسلمانانو ټولوژنه کوي په وړاندې یې نه په اسلامي کانفرانس او په عربي سرمشریزې کې د ژوند ساه شته چې دڅه ویلو او کولو جرئت وکړي او نه په عامه توګه مسلمانانو کې د ویښتابه احساس او د یوبل سره دهمدردۍ روحیه ژوندۍ ده نو په دې وجه داسلامي نړۍ دراتلونکي په اړه یوه عمومي نهیلې راټوکیدلې، دکومو خلکو لاسو کې چې د چارو واګې دي ور ته داسلام او مسلمانانو علیا مصالحو پر ځای شخصي ګټې وتې اولیت او اهمیت لري. الله تعالی دي مظلومو مسلمانانو ته روان ناورین له خونړیو ځپو څخه نجات ورکړي.

له اسلامي شعائرو سره نابلده ولسمشر

شاهد (غزنیوال)

ولسمشر غني د افغانستان د اسلامي دولت د مشر په توګه د خپل حکومت په دوه نیم کلنۍ دورې کې په بیلابیلو دیني مناسبتونو کې مکررې او فاحشې تیروتنې لرلې دي.

د دغو تیروتنو له جملې څخه یې ځینې داسې الفاظ هم شته چې که مسلمان انسان د هغه پرمفهوم باور ولري نو د اسلام له دائرې څخه خارجیږي.

د ښاغلی اشرف غني په دغو تیر وتنو کې لومړی هغه دا وه چې کله یې تیر کال د محرم په لسمه په کابل ښارکې د حضرت امام حسین رضی الله عنه د شهادت لمانځلو په مراسمو کې ګډون وکړ او هلته یې حضرت امام حسین رضی الله عنه د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د لمسي- پر ځای (نواسه خدا) وباله.

د تعجب وړ خبره دا ده چې په یاده غونډه کې چې د یوه مذهبي مناسبت په اړه جوړه شوې وه اکثریت برخوال عالمان او د دیني زده کړو لورونکي وو مګر یوه هم د ښاغلي غني د دغې سترې اشتباه د اصلاح کولو جرئت ونه کړ.

ولسمشر غني خپله لیکلې وینا په حاضرینو په داسې ډول واوروله چې نه یې خپله ده د لوستلو شوق درلود او نه یې هم اوریدونکو د اوریدلو مینه .

په هرصورت د غونډې څوساعته پهیر پایته ورسیدو او ارګ ته په بیرته ګرځیدو سره ښایي کوم شخص د ولسمشر رسنیز دفتر ته د ولسشر- د تیروتنې په ړه خبر ورکړی وي چې په ماښام کې یې ولسمشریزې ماڼې د ولسمشر د تیر وتنې د اصلاح په اړه رسمي اعلامیه خپره او په هغه کې یې د الله تعالی د وحدانیت په اړه د سورة الاخلاص مبارک ایتونه لیکلي وو.

د دې اشتباه په تعقیب ښاغلی غني سږکال په سپتمبر کې د ازبکستان د فقید ولسمشر اسلام کریموف د جنازې په مراسمو کې د ګډون لپاره تاشقند ته ولاړی او هلته یې د نورې اسلامي نړۍ د چاراکو په جمله کې د جنازې د لمانځه په لومړي صف کې ځای ورکړ.

د جنازې د لمانځه د لومړي تکبیر تر اوریدو وروسته ښاغلی غني هم لاسونه غوږونو ته پورته او بیا یې تر نامه لاندې کیښودل ، خو د دوهم تکبیر

په اوریدو سره سمدستي رکوع ته ولاړې چې د جنازې د مراسمو ثبتونکو ټلویزوني کامرو توجه یې ځانته راوګرځوله .

د روان دیسمبر د میاشتې په پیل کې ولسمشر غني د ۲۰۷ ظفر قول اردو قوماندان ډګرجنرال محي الدین غوري په جنازه کې د ګډون لپاره هرات ته ولاړې او هلته بیاهم د جنازې په لومړي صف کې ورته ځای ورکړل شو.

دا چې د جنازې د څلورو تکبیرونو په ځای به ولسمشر غني د څورکعتونو نیت تړلی وي الله تعالی د زړونو مالک دی ، خو د جنازې تر لمانځه وروسته د دوعا کولو په مهال نوموړی بیا خپل لاسونه غوږونو ته د تکبیر تحریمه په نیت پورته کړل او تر هغویي خپلې پتې ګوتې د غوږونو په نرمیو پوري لګولې وي تر څو یې د اداري دفتر مشر ورته په اشارې کولو سره لاسونه ښکته او دعاکول پیل کړل.

په پورتنیو عملي اشتباهاتو سر بیره ښاغلی غني په معلوماتې برخه کې هم یوشمیر داسې تیروتنې لري چې له اسلامي معلوماتو سره د نوموړي نابلدي څرګندوي.

مثلا نوموړي ازبکستان ته د سفر په مهال د تاشکند په پوهنتون کې میشتو افغان محصلینوته وویل:

کتابی که بعد ازحدیث نبوي زیاد ترین اهمیت رادارد بخاري شریف است.

همدارزیې د اوومې هجرې پیړۍ دمشهور سالک مصلح الدین سعدي شیرازي له نوم سره یې د رحمت الله علیه په ځای دعلیه السلام اصطلاح کومه چې د پیغمبر له نامه سره کارول کیږي وویله.

پر دې سر بیره د الله جل جلاله د نوم یادولو په مهال د الله (جل شانه) په ځای تل الله (جل شانو) کلمه وایي چې هیڅ مفهوم او اومعنی نه افاده کوي.

او تر ټولو هیښوونکي یې دا چې یومهال یې د یوې غونډې برخوالو ته وویل:

((د باران اوریدو په خاطر باید تاسي تهجد وکړئ !!! زه تل د همدې غرض لپاره په ورځ کې یوځل تهجد کوم...))

د ولسمشر له پورتنیو عملي او قولې اشتباهاتو څخه معلومیږي چې نوموړي له دیني شعائرو په تیره لمانځه سره چې د اسلام یو اهم رکن دي نهایت نابلده دی.

په هرات کې د جنرال محی الدین غوري په جنازه کې تر تیر وتنې وروسته کورنیو رسنیو هم د ښاغلي غني د مسلسلو اشتباهاتو په اړه تصویري رپوټونه نشر کړل او دا یې وویل چې د هر دیني مناسبت په غونډه کې د ټلویزوني کامرو ټول ترکیز د ولسمشر غني پر حرکاتو د دې په خاطر متمرکز وي چې له هغه څخه خامخا یو نادر او عجیب حرکت صادریږي

د افغانستان د اسلامي امارت
د زعیم امیرالمؤمنین

شیخ مولوي هبة الله اخند زاده حفظه الله پیژندنه

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله رب العالمین، والعاقبة للمتقین، والصلاة والسلام علی اشرف الأنبیاء والمرسلین وعلی آله واصحابه ومن اهتدی بهدیه وسار علی نهجه اجمعین وبعد!

(مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُمْ مَنْ قَضَى نَحْبَهُ وَمِنْهُمْ مَنْ يَنْتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلًا ٢٣ لِيَجْزِيَ اللَّهُ الصَّادِقِينَ بِصِدْقِهِمْ وَيُعَذِّبَ الْمُنَافِقِينَ إِنْ شَاءَ أَوْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ إِنَّ اللَّهَ كَانَ غَفُورًا رَحِيمًا ٢٤) الاحزاب .

افغانستان د یرغلگرو هدیره ، د عزت ، شهامت او ویاړونو مناره ، د اتلانو او حماسه جوړوونکو کور او د جهاد، شهادت او سربښندنې مدرسه ده.

په همدې هیواد کې د تاریخ جوړوونکو غازیانو او مجاهدینو ترڅنگ متبحرو علماوو، فقهاوو ، محدثینو او مفسرینو هم په خپل ځای کې علمي کارنامي تر سره او تاریخي خدمتونه انجام کړي.

له افغانستان څخه که محمود غزنوي ، شهاب الدین غوري، اواحمدشاه ابدالی د هند پرنیمه وچه حکومت کړی او د هغه ځای مسلمانان یې د ظالمانو له شره ژغورلي خو د امام ابوداود سجستاني ، شیخ الاسلام محمد بن محمد بن بکرالخلمي، امام ابواللیث السمرقندي البلخي او امام ابنُ حبان البُستي په څیر فقهاوو ، محدثینو او مفسرینو یې هم د علم، فقاهت او درایت په ډیوو د اسلامي نړۍ بیلابیلې برخې روښانه کړې.

د اسلامي نړۍ د فقاهت ، علمیت او درایت د ډیرو ځلاندو ستورو کورنۍ د افغانستان له مختلفو سیمو کابل ، هلمند ، هرات او بلخ څخه د خلافت اسلامي مرکزونو مکې مکرمې ، بغداد او دمشق ته کوچیدلې او مسلمانانو ته یې په فقه احادیثو او تفسیر کې ستر خدمتونه تر سره کړي.

د اسلامي فقه ستر امام، حضرت امام اعظم ابو حنیفه رحمه الله او د نبوي احادیثو مشهور محدث او راوي مکحول شامي رحمه الله غوندې علمي هستیو اصلي انتساب هم افغانستان ته و.

دغو متبحرو علماوو په افغانستان کې د اسلامي علومو د تعلیم او تعلم مشهور مرکزونه ایجاد کړي ، په هغوی کې یې د تاریخ په اوږدو کې په سلگونو زره عالمان روزلې او د علمي خدمت لپاره ټولنې ته وړاندې کړي.

د اسلامي علومو د تعليم او تعلُّم دا لړۍ له کال ۲۰۲ هجري څخه په افغانستان کې پيل او بيا تر اوسه پورې دوام لري .

يادې سلسلې په افغانستان کې د ديني علومو په احياء او ترويج کې ښه رول لرلي او د فقه ، اصول الفقه ، حديث، اصول الحديث ، تفسير، بلاغت ، معاني ، صرف او نحو په برخه کې يې ښه عالمان روزلي.

په افغانستان کې د دې سلسلې د عالمانو امتياز د اسلامي نړۍ له نورو عالمانو نه دا دی چې هغوی ته د خپلو مجاهدو استاذانو لخوا د علم دين د زده کړې ترڅنګ له دين څخه د دفاع درس هم ورکول کيږي ، او افغاني غازيانو چې تر اوسه پورې د هيواد په داخل او يا هم له هيواد نه بهر له کافرانو سره څومره تاريخي غزاوې کړې په هغو ټولو کې د مجاهدو علماوو رول تر هرچا ډير زيات او ښکاره دی.

د مثال په توګه په کال ۳۸۸ هـ ق کې سلطان محمود غزنوي د هند لويه فتحه د همدغوعلماوو په هدايت او لارښوونه ترسره کړه

په کال ۵۵۹ هـ ق کې د هند پر نيمې وچې د سلطان شهاب الدين غوري د حاکميت پر مهال همدغو علماوو د غوري حکومت په لوړو مناصبوکې مهم مسؤليتونه لرل.

په کال ۱۱۶۰ هـ ق کې چې د افغانستان ستر واکمن احمدشاه ابدالي د هندي مسلمانانو د مرستې لپاره هند ته پوځونه وليږل؛ لامل يې د همدې علماوو جهادي توجيهات او لارښوونې وې چې نوموړی يې د خپلو مسلمانو ورونو مرستې ته وهڅاوه.

په کال ۱۲۵۴ هـ ق کې په افغانستان باندې د انګليسي يرغل په مقابل کې د مقاوت کوونکو مجاهدينو مسؤليت د همدغوجهادي عالمانو په غاړه وه .

او په کال ۱۳۵۷ هـ ش کې چې کله داخلي کمونيستانو د روسانو په لمسون کودتا وکړه او ترهغه وروسته شوروي ځواکونو پر افغانستان يرغل وکړ د هغوی په مقابل کې د افغانستان د مجاهد ولس د اسلامي مقاومت قومانده او قيادت د همدې علماوو په لاس کې و. او وروسته په افغانستان کې د اسلامي امارت د قيام وياړ هم د همدې علماء کرامو په نصيب شوچې لومړنی زعيم يې اميرالمؤمنين ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله وروسته شهيد اميرالمؤمنين ملا اختر محمدمنصور رحمه الله او له هغه وروسته د اسلامي امارت د زعامت مسؤليت ددې وخت تکړه او منلي عالم او د احاديثو استاد شيخ الحديث مولوي هبة الله اخندزاده صاحب ته وسپارل شو چې غواړو په لاندې کرښو کې يې پيژندنه او ژوندليک درسره شريک کړو.

زوکړه او نشأت يې :

شيخ الحديث مولوي هبة الله اخند زاده د شيخ مولوي محمد خان زوی او د مولانا خدای رحيم صاحب لمسی په کال۱۳۸۷ هـ ق درجب المرجب دمياشتې په ۱۵ نيټه د کندهار ولايت د پنجوايي ولسوالۍ د ناخوني کلي په يوې علمي متديني کورنۍ کې نړۍ ته سترګې وغړولې او د ژوند لومړنۍ مرحله د خپل والد صاحب ترعلمي پالنې او روزنې لاندې تيره کړه .

کورنۍ يې :

د شيخ صاحب علمي کورنۍ د سيمې په کچه له پيړيو ، پيړيو را هيسې په علم ، فضيلت او تقوا کې شهرت لرلی.

د يادې علمي کورنۍ اصلي مسکن د افغانستان په جنوب لويديځ کندهار ولايت کې د تخت پل ولسوالۍ ده ، چې وروسته د کندهار ولايت پنجوايي ولسوالۍ ته نقل

شوې او خپله شیخ هبة الله اخند زاده صاحب تولد هم د پنجوایي ولسوالۍ په ناخوني کلي کې شوی دی .

والد صاحب یې شیخ مولوي محمد خان د خپلو همعصره علماوو په منځ کې په علمي او فقهي لحاظ تر ټولو مشهور علمي شخصیت او په خپله ټولنه کې له ځانګړي علمي او ټولنیز اعتبار څخه بر خمن و.

نوموړي د یوه دیني عالم په حیث د سیمي د خلګو په علمي روزنې او اصلاح کې ځانګړی رول درلود ، په خپل محیط کې یې د تدریس ، تبلیغ ، دعوت او اصلاح دنده پرمخ وړله او ډیر علمي شاګردان یې د دین د خدمت او دفاع لپاره روزلي ول .

په کال ۱۳۵۷ هـ ش کې چې کله کمونستانو د نورمحمد تره کي په مشري کودتا وکړه او د هیواد پر سیاسي اقتدار یې منګولې ولګولې شیخ مولوي محمد خان صاحب د خپلې سیمې په کچه دهغولمړنیو جهادي عالمانو له جملي څخه و چې د کمونستانو او د هغوی د الحادي واکمنۍ پرخلاف یې قیام وکړ ، او د سیمي مسلمان اوسیدونکي چې وار تر پخوا د شیخ صاحب له اسلامي روزنې او دعوت څخه متأثر ول په دغه جهادي قیام کې د نوموړي تر شا ودریدل .

هماغه و چې دا کار ملحدو کمونیستانو د خپلې نوي واکمنۍ پرخلاف تهدید وباله او د سیمې د جهادي قیام د اصلي محرک شیخ صاحب محمد خان د له منځه وړلو په فکر کې شول.

د الحادي حکومت امنیتي ځواکونه د شیخ صاحب د اسارت او نیولو لپاره د نوموړي کور او مدرسې ته راغلل ، خو شیخ صاحب ته الله تعالی نجات ورکړ او وړاندې تر دې چې هغوي یې داسارت هڅه وکړي شیخ صاحب د کندهار ولایت د ریګ سیمې ته مهاجر او هلته یې د نورو مجاهدینو په ملتیا د کمونیستانو پر خلاف مبارزه پیل کړه.

په کندهار ولایت کې د جهادي مقاومت په پراخوالي او تدریجي بریالیتوب سره شیخ مولوي محمد خان صاحب بیرته ولس میشته سیموته راغی او د ژوند تر پایه یې خپل جهادي او علمي خدمت جاري وساته .

شیخ هبة الله اخندزاده دوالد صاحب تر وفات وروسته په سیمې باندې د شوروي اشغالګرو د وحشیانه مظالمو له وجې د هیواد د نورو سلګو نو زره هیواد والو په جمله کې د خپل کلي او کور پریښودلو ته اړ او ګاونډی هیواد پاکستان ته مهاجر شو او هلته یې د بلوچستان سرحدي ایالت د ځنګل پیر علي زي په مهاجر کیمپ کې د نورو هیواد والو ترڅنګ د خپل هیواد د آزادي او په هغه کې د یوه اسلامي حاکمیت د راتللو په غرض د هجرت ترخې لحظي پرځان ومنلې.

دیني زده کړې یې:

شیخ هبة الله صاحب د خپل پلار د نارینه اولادونو په منځ کې دویم اولاد و چې د دیني علومو د زدکړو پیل یې هم له خپل والد صاحب څخه وکړ، د قرآن کریم قرائت ، فقهي اولیات ، صرف ، نحو ، عربي ادب ، معاني او اصول الفقه یې تر منځنۍ دورې پورې له خپل والد صاحب څخه وویل .

تر هغه وروسته یې د لوړو شرعي زده کړو د حصول لپاره د سیمې مشهورو مدارسو اوجامعاتو ته مخه کړه .

هلته یې ټول مروجه علمي فنون بشپړ او په کال ۱۴۱۱ هـ ق کې د سیمه په کچه په مشهور و عالمانو شیخ الحدیث مولوي محمد جان اغا صاحب او شیخ الحدیث مولوي حبیب الله صاحب باندې د احادیثو نهایي دوره پایته

ورسوله او د لوړو شرعي زده کړو د اکمال په غرض يې د فضيلت دستار پر سرکړ.

جهاد او سياسي مبارزه يې :

کوم مهال چې شيخ صاحب د ديني زده کړو د وروستۍ مرحلې په درشل کې و ، په هيواد کې د شوروي اشغالگرو په مقابل کې د وسله وال مقاومت سنگرونه ډير گرم ول .

دا داسې وخت و چې د هر افغان په تيره په علمي کورنيو او حلقاتو پوري تړليو نويو ځوانانو ډيره ليوالتيا دې ته وه چې په جهادي جبهاتو کې له شوروي اشغالگرو او داخلي کمونيستانو سره جهاد وکړي .

شيخ هبة الله صاحب چې له اصله يې په يوې علمي اوجهادي کورنۍ پوري تعلق و تر بل هرچا ډير له شوروي يرغلگرو او داخلي کمونيستانو سره د جهادي او فکري مقابلې ليوال و. تر دې چې نوموړي د خپلو زده کړو او تعليم په مهال هم جبهې ته د تللو لپاره مهال ويش جوړ کړی و.

نوموړی به د مدارسو په کلنۍ رخصتي کې د کندهار ولايت د مشهور جهادي قومندان ملا حاجي محمد اخند جبهې ته تلو او هلته به يې عملا له شوروي يرغلگرو سره په جهادي مقاومت کې برخه اخيسته .

د ملا حاجي محمد اخند جهادي جبهه د هيواد د جنوب غرب په سطحه مشهوره جبهه وه چې په هغې کې د شهيد امير المؤمنين ملا اختر محمد (منصور) په شمول د طالبانو ډير و نورو مهمو مسؤلينو لکه د اسلامي امارت د رياست الوزراء مرستيال الحاج ملا محمد حسن اخوند او نورو گڼو مسؤلينو شموليت درلود .

يادي جبهې د جهاد په اوائلو کې د مرحوم مولوي محمد نبي (محمدي) په مشرۍ په حرکت انقلاب اسلامي تنظيم پوري تړاو درلود ، وروسته بيا د مرحوم مولوي محمد يونس (خالص) په مشرۍ حزب اسلامي پوري مربوط شوه .

شيخ هبة الله صاحب د دې جهادي جبهې له مهمو غړيو څخه داسې يو شخصيت و چې د جبهې د غړيو او مجاهدينو په منځ کې هم له ښه جهادي حيثيت نه برخمن و او هم له علمي حيثيت نه .

نوموړي له شوروي اشغالگرو سره د مقابلې په مهال د اسلامي امارت له دواړو مشرانو ، امير المؤمنين ملامحمد عمر(مجاهد) او شهيد امير المؤمنين ملا اختر محمد (منصور) سره عملاد مجاهدينو په مشترکو پوځي مرکزونو کې برخه اخيستې او يوځل زخمي شوی هم دی .

هغه مهال چې په جنوب غرب حوزه په تيره کندهار ولايت کې به مجاهدينود خپلو جهادي محاذونو او جبهاتودمربوطه گروپونو مرکزونو ته د اطاق اصطلاح کاروله شيخ صاحب به کله ناکله داطاق سرپرستي هم کوله، خوډير وخت به يې په جهادي چارو او تر هغه راوروسته د مجاهدينو په علمي ښونې او روزنې کې تيريدو .

شيخ صاحب په جهادي جبهاتو کې د مشارکت پرمهال هم ډير تر کيز پردې خبرې کاوه چې مجاهدين بايد د الحاد ، او نورو باطلو مفکورو په وړاندې په علمي او فکري لحاظ وروزل شي ؛ ځکه ملحدو کمونيستانو او د هغوی حامي شورويانو زمونږ پرهيواد د پوځي يرغل ترڅنگ فکري يرغل هم کړی ، او په ډيرو حالاتو کې د فکري يرغل مقابله د پوځي هغه په نسبت ډيره مهمه او ضروري وي .

همدا وجه وه چې شيخ صاحب به هم په جبهه او هم په مدرسه کې د مجاهدينو په فکري روزنې ډير اهتمام درلـود او په دې اړه يې په خپل وخت کې د پامور فعاليت تر سره کړی.

په شرعي علومو کې يې درسي تفوق :

شيخ صاحب هبة الله د شرعي علومو په تيره د فقه ، اصـول الفقـه ،تفسير او حـديثو پـه تـدريس کـې ځانګړی مهارت او استعداد لري.

په کال ۱۴۱۱ هـ ق کې د فراغت له مهالـه تـر اوسـه پوري يې له نورو ټولو جهادي او وظيفوي مصروفيتونو سره سره د يادو علومو تدريس جـاري سـاتلی او پـه ډيـر زيـات تعداد شاګردان يې په دې برخه کې روزلي.

نوموړی ته چې د شيخ لقب ورکړل شوی هم لامل يې دادی چې د صحاح سته او اصول الحديث پـه تـدريس کـې برلاس لري او د احاديثو د تدريس سند يې د شـيخ الحـديث مولوي محمد جان اغا صاحب او شيخ الحديث مولوي حبيب الله صاحب له لاري په متصل سند سره تر رسول اکرم صـلی الله عليه وسلم پوري رسيږي.

د طالبانو په اسلامي تحريک يې تأسيسي رول :

له افغانستان څخه د شوروي اشغالګرو تر وتلو او بيا د کمونيستي نظام تر سقوط وروسته چې کله پـه هيـواد کـې تنظيمي جګړې پيـل شـوي ، شـيخ صـاحب هبـة الله د خپلـې جبهې د نورو غړيو په څير له جنګ جګـړو ليـري پـه خپلـو علمي او اصلاحي فعاليتونو مصروف شو.

سره له دې چې کندهار ولايت د تنظيمي جګړو ډګـر او د پخوانيو تنظيمونو ډيری قومندانان ورکې اخته شـول خـو شيخ صاحب د يوې جهادي جبهې د علمي استاد او مربي پـه حيث له همدغو تنظيمي جګړو څخه خپلو علمي او اصلاحي فعاليتونو ته مخه کړه.

کله چې د تنظيمي جګړو او فساد پـه مقابـل کـې د مرحوم ملا محمد عمر مجاهد په مشرۍ د طالبـانو اسـلامي تحريک رامنځ ته شو شيخ صاحب هبة الله د دې تحريک د مؤسس د يوه جهادي ملګري په حيث د تحريـک لـه پيـل نـه دغه ترڅنګ ودريده.

پـه جنـوب لويديځـه حـوزه کـې د طالبـانو د اسلامي تحريک تر پرمختګ او په ياده حوزه کې د تحريـک د مشرـ تابه لخوا د اداري تشـکيلاتو پـه سلسـله کـې پـه کنـدهار ولايت کې د نظامي محکمې اداره هم جوړه شوه .

په يادې محکمې کې د هيواد په کچه مشهور علمي او مسلکي اشخاص راغونډ کړل شول چې دغوی له جملـې نـه يوهم شيخ صاحب هبة الله و چې د تحريک مشر تابه د جهاد په مهال کې په ښه علميت ، فقاهت او تقوی سره پيژانده .

د نظامي محکمې د رئيس په توګه :

په کال ۱۹۹۶ م چې مرکز کابـل د اسـلامي امـارت د ځواکونو تر ولکې لاندې راغـی نـو شـيخ صـاحب د مرحـوم امير المؤ منين ملا محمد عمر (مجاهد) د يوه ځانګړې فرمـان له مخې په کابل کې د نظـامي محکمـې د رئـيس پـه حيـث وټاکل شو.

په کابل کې د نظامي محکمې تـر تنظـيم او پـه هغـې کې تر مطلوبو اصلاحاتو راوستلو وروسـته پـه شرقـي زون کې ورته د نظامي محکمي مسؤليت وسپارل شو.

په شرقي زون په تيـره ننګرهـار ولايـت کـې د نظـامي محکمـې اړونـد تـر ترتيـب او هلتـه تـر دوه کلـن فعاليـت وروسته بيرته د اميـر المـؤمنين ملامحمـد عمر(مجاهـد) پـه حکم کابل ته راغی او هلته د اسلامي امارت د واکمنۍ تر اخيره د نظامي محکمې د مسؤل په حيث پاتې شو.

ولي د نظامي محکمې مسؤلیت؟

د اسلامي امارت د واکمنۍ یو ستر امتیاز په افغانستان کې د امن تأمین و.

د اسلامي امارت د واکمنـي د وخت د مثالي امن ټینگښت هغه ښکاره حقیقت دی چې دښمنان هم وربانـدې اعتراف لري.

د امن په تأمین کې د نظام د نورې اصلاح ترڅنگ د حدود الله د تنفیذ ځانگړی اثر و.

هغه مهال چې د اسلامي امارت ټول نظام او دهغوی اداري ، امنیتي ، قضایي او عدلي مسؤلین د کار او تجربـې له لحاظه هم ټول نوي او امنیتي امکانات یې هم بلکل په نشت حساب ، خو یـواځې همـدا د شرعـي حـدودو د تنفیـذ برکت و چې په هغه هیـواد کې چې دوې لسیزې ورکـې جگړې او نا امنۍ تیرې شوې وي داسې امـن تـأمین کـړي چې دوست او دښمن ټول وربانديې اعتراف لري .

دخدای په ځمکه کې شرعـي حـدودو تـأمین هـم هغـه وخت د امن د ټینگښت لامل گرځي چې تنفیـذ یـې د شرعـي احکامو مطابق وي. همدا لامل و چې اسـلامي امـارت ډیـر ترکیز پر دې و چې د قضائي او عدلي اداراتو په رأس کـې د اسې اهل او په شرعي امورو خبیر کسان وگماري چې د قـرآن او حدیث او شرعي علومو پـه رڼـاکې د شرعـي حـدودو لـه تنفیذ سره بلد او د هغو له فلسفې خبر وي .

پـه اسـلامي امـارت کـې د حـدودو د تنفیـذ ټـول مسؤلیت شرعي محاکمو ته سپارل شوی و او پـه جهـادي جبهـاتو او محـاذونو کـې د نظـامي او امنیتـي ځواکونـود اصلاح، او مواخذې مسؤلیت بیـا پـه ځـانگړي ډول نظـامي محکمې ته سپارل شوی و .

لهذا د نظامي محکمې د مسؤلیت لپاره ایجاب کیـدو چې داسې یوشخص انتخاب کـړای شي چې هغـه هم لـه شرعي او هم له مسلکي لحاظه د دغه اهم تنفیـذي مسـؤلیت صلاحیت ولري.

له بله اړخه پر مهمو تنفیـذي وظـائفو بانـدې د گمارلـو لپاره دوه شیان مهم دي :

جهادي سابقه او علمیت

شیخ هبة الله صاحب د خپلو هم مسلکه معـاصرینو پـه اعتراف له دغودواړو امتیازاتو برخمن و.

همدا وجـه وه چـې نومـوړی د امـیر المـؤمنین لخـوا د نظامي محکمې غوندې مهم او حساس مسؤلیت ته انتخـاب کړای شو.

د مرحوم امیر المؤمنین په دې انتخاب کـې ځینـې مهـم مصلحتونه نغښتي ول چې لاندې ورته اشاره کیږي:

په پلازمینه کابل کـې نظـامي محکمـه هغـه تـر ټولـو مهمه اداره وه چې د حدودو د تنفیـذ صـلاحیت ورتـه ورکـړل شوی و.

د حـدودو تنفیـذ لکـه څـومره چـې مهـم او د ټـولنې د اصلاح لامل گرځي په هماغه اندازه د متنفذ لـوري علمیـت ، فقاهت ، سنجیدگي او دقت ته ضرورت لري.

همدا راز د حدودو تنفیذوونکی شخص بایـد د پورتنیـو صفاتو ترڅنگ له پوره انساني عاطفې او خواخـوږي څخـه هم برخمن وي .

مرحوم امیر المؤمنین دغه امتیازي مشخصات په شـیخ صاحب کې له وړاندې حس کړي و؛ ځکه یـې ورتـه دغـه مهم مسؤلیت وسپاره. همدا وجه وه چې کله بـه هـم پـه نظامي محکمې کې د هغـې د مسـلکي قاضـیانو او مفتیـانو

لخوا د ځينو محکومينو په اړه د قصاص حکم پلي کيدو نو ترڅو لومړی به شخصا شيخ صاحب هبة الله د مقتول له وارثينو څخه د قاتل لپاره د ببنني غوښتنه کوله ، هغوي ته به يي په اسلامي شريعت کې د قاتل د عفو کولو په اړه الهي ارشادات او نبوي احاديث ذکرکول او په ډير الحاح به يي له هغوي څخه د قاتل د ببننې غوښتنه کوله .

په دې کار کې به يې د قصاص صحنې ته له حاضر شويو نورو مشرانو او سپين ږيرو علماوو څخه هم مرسته غوښته او هغوی به يي د مقتول وارثينو ته د شفاعت په غرض وروستلو چې قاتل ته عفو وکړي .

نوموړي به د مقتول له وارثينو څخه د يوه حکومتي مسؤل په حيث نه ؛ بلکې د يوه مذهبي عالم او مخور په حيث د قاتل د عفو کولو غوښتنه کوله ، چې ډير ځله د ده د همدې عاطفي هلو ځلو له برکته په قصاص محکوم شوی کسان د مقتولينو د کورنيو لخوا عفو او د نوي ژوند څښتنان شول.

همداراز په جنايي جرمونو کې د ښکيلو کسانو په اړه به چې کله اړونده قاضيانو کوم حکم کاوه نو د هغه حکم په اثبات کې به يې د فقهي مقرراتو اواصولو د رعايت خپل ټول بشري توان کاراوه او د الحدودُ تُندرئُ بالشبهات شرعي قاعدې له مخې به يي د امکان تر حده د هغو حدودو د عدم تنفيذ لارو چاروته زمينه سازي کوله.

له پورتني حقيقت څخه دا جوتيږي چې شيخ صاحب هبة الله هم د اسلامي امارت د واکمنی په مهال په يوه با صلاحيته قضايي ارګان کې د شرعي احکامو په تطبيق کې د يوه نهايي محتاط ، سنجيده او عاطفه لرونکي خواخوږي مسئول په توګه خپل رول سرته رسولی او هم اوس د هماغو صفاتو په درلودلو سره د اسلامي امارت د امير په توګه د جهادي او نورو ټولو شرعي چارو پلي کيدو ته د شرعي مقرراتو په محدوده کې متعهد او ژمن دی .

د اشغالګرو په وړاندې د دوباره جهاد په پيلولو کې يې مهم رول:

په کال ۲۰۰۱ کې کله چې امريکايي يرغلګرو د خپلو غربي ايتلافيانو په ملتيا پر افغانستان يرغل وکړ او د اسلامي امارت مشر تابه له تکتيکي وقفې وروسته د يرغلګرو په وړاندې د مجاهدينو دوباره تنظيم او انسجام پيل کړ شيخ هبة الله اخندزاده صاحب د نورو مسؤلينو په ملتيا د جهاد او اعداد په دې حساسه مرحله کې خپل ځانګړی مؤثر رول درلود.

هغه مهال چې د امريکايي يرغلګرو د زيات تعقيب او څارنې له امله د هرډول جهادي فعاليت تر سره کول تقريبا ناشونی ګڼل کيدو خو شيخ صاحب هبة الله د څو تنو نورو مجاهدو شيخو او علماوو په ملتيا د هيواد په دې حساس پړاو کې د مجاهدينو په تنظيم او ترتيب کې نه ستړي کيدونکي هلې ځلې وکړي .

مرحوم شيخ صاحب غلام حيدر، شهيد شيخ صاحب عبدالسلام او محترم شيخ صاحب عبدالحکيم حفظه الله له شيخ صاحب هبة الله سره په دې تاريخي خدمت کې يوځای ول چې مسلمان هيوادوال يې له صليبي يرغلګرو سره د جهادي مقاومت سنګرونو ته رابلل او په علمي لحاظ يې د قراني ارشاداتو او نبوي احاديثو په بيانولو سره هغوي د خدای د کلمې د لوړ والي او له دين او عقيدې څخه د دفاع لپاره جهاد ته تشويقول.

د امريکا په مشرۍ د نړيوال صليبي ايتلاف په مقابل کې د تش لاسو او ځګره ځپليو افغانانو را پورته کول او جهاد ته اماده کول عادي خبره نه وه .

ځکه همدغو افغانانو د شوروي اشغال په مهال دجهاد او اسلام څخه د دفاع په نوم یونیم میلیون شهیدان، ۷ میلونه مهاجر او په میلینونو نور اسیران ، زخمیان او معیوبین ورکړل، خو له بده مرغه چې دځینوتنظیمي مشرانو د اختلافاتو او جګړو له امله دغه ټولې قربانۍ په اوبو لاهو شوې چې له امله یې ټول افغان مجاهد ولس له سختي پریشانۍ او مایوسۍ سره مخ شو.

خو دشیخ صاحب هبة الله او دهغه د باعزمه ملګرو د نه ستړي کیدونکو هلو ځلو ، عالمانه ویناوو ، بلیغ او فصیح استدلال برکت و چې په افغانانو کې یې د هغوي له ټولو مایوسیو او ستړیاوو سرسره د صلیبي یرغلګرو په مقابل کې د جهاد جذبه بیا را ژوندۍ او په خالي لاسونو یې د امریکاپه مشري له نړیوال کفري ایتلاف سره جهادي مقاومت پیل کړ.

د دغه مقاومت په ترځ کې افغان مسلمان ولس نړۍ ته دا وښودله چې هغوی که هرڅومره ستړي ، ستومانه او تش لاسې وي ، خو بیابه هم له یرغلګرو سره جهاد کوي او په دې به یې پوره باور وي چې د باطل په وړاندې وروستی برۍ به هم د دوي په برخه وي ... و کان حقا علینا نصر المؤمنین.

له صلیبي یرغلګرو سره د مقاومت په مهال د مقاومت کوونکو مجاهدینو تر شا د شیخ صاحب هبة الله په څیر د با عزمه علماوو هڅونې او معنوي حمایت و چې مجاهدینو وکړای شول په خالي لاس د امریکا په مشري نړیوال صلیبي ایتلاف او تر ټولو ستړپوځي ترون ناټو ته تاریخي ماتي ورکړي .

د یاد مقاومت په ۱۵ کلن بهیر کې شیخ صاحب هبة الله د د عوت اورشاد له مسؤلیته نیولې بیا د تمیز او محاکمو تر عمومي ریاست پورې په بیلابیلو وظائفو کې کار وکړ .

د اسلامي امارت د مرستیال په توګه:

په کال ۱۳۹۴ هـ ش ۲۰۱٦ م کې چې کله د اسلامي امارت د رهبري شورا لخوا د مرحوم امیر المؤمنین ملامحمد عمر(مجاهد) وفات اعلان او شهید ملا اخترمحمد (منصور) د امیر په توګه وټاکل شو، شیخ صاحب هبة الله د هغه د مرستیال په حیث تعین شو.

شهید امیر المؤمنین ملا اخترمحمد منصور د خپل خدای ورکړي استعداد له مخې د اشخاصو او مسؤلینو په انتخاب او ټاکلو کې ځانګړې مهارت درلود .

نوموړی دامارت په لیکو کې تقریبا ټول مهم مسؤلین شخصا پیژندل او هغوی هریوه ته یې د دوی د استعداد او پوهې مطابق مسؤلیتونه ورسپارلي ول.

د همدغو مسؤلینو له جملې څخه یو هم شیخ صاحب هبة الله و چې شهید امر المؤمنین د نوموړي کاري او علمي صلاحیت او د اسلامي امارت د مجاهدینو په منځ کې د هغه ټولنیز وجاهت ښه درک کړی و ، هماغه و چې نوموړی یې د اسلامي امارت په اداري تشکیل کې د امارت د مرستیالۍ مقام ته انتخاب کړ ترڅو په همدغه لوړ اداري پوست کې د ده له کاري او علمي استعداد او صلاحیت څخه ښه استفاده وشي .

شهید امرالمؤمنین په دې انتخاب سره یو ډیر مهم او اساسي موفقیت دځان کړ او هغه داچې د امارت د مرستیالۍ په مقام کې د شیخ صاحب تعین د امارت د ټولو نظامي او اداري چارواکو د تجمع او راغونډیدلو لامل شو.

پوره لس میاشتې شیخ صاحب هبة الله د اسلامي امارت د مرستیال په حیث فعالیت وکړ چې په دې وخت کې اسلامي امارت ته د امریکایانو او دهغوی د ملاتړو له لوري سخت ګواښونه متوجه ول .

د اسلامي امارت د تأسیسي مشر- تر وفات وروسته چې ځیني کسانو د اسلامي امارت د نوي امیر په خلاف موقف ګیري وکړه په علمي لحاظ د هغوی په قانع کولو او اصلاح کولو کې د شیخ صاحب هبة الله رول ډیر دپاموړ بلل کیږي .

د اسلامي امارت په دې تاریخ سازه مرحله کې شیخ صاحب هبة الله ډیرې هلې ځلې وکړي ، د مجاهدینو د وحدت او یووالي لپاره یې له علماوو ، ملي مشرانو او جهادي اشخاصو سره متعددې غونډې وکړې او په ټولو همدغو مجالسو او غونډو کې به شیخ صاحب د مجاهدینو په وحدت الصف او اتفاق ډیر ترکیز کاوه .

هماغه وه چې دشهید امیر المؤ منین ملا اختر محمد منصور رحمه الله په قیادت کې د شیخ صاحب او د ده ترڅنګ د نورو شیوخو او علماوو د هلو ځلو له برکته خدای تعالی د اسلامي امارت متحد صف له تفرق او متلاشي کیدو څخه وژغوره ، د اسلامي امارت د رهبري شورا غړي په یوه خوله د نوي امیر المؤمنین شهید ملا اخترمحمد منصور تر شا ودریدل او د هیواد ۳۴ ولایتونو ټولو والیانو، پوځي مسؤلینو ولسي مشرانو او د ولس ټولو پرګنو له هغه سره د یرغلګرو امریکایانو او د هغوی د ملاتړو په خلاف د جهاد پر تداوم بیعت وکړ.

د اسلامي امارت د زعیم او امیر المؤمنین په توګه :

د ۱۴۳۷هـ ق کال دشعبان د میاشتې ۱۴ چې کله امیر المؤمنین ملا اختر محمد (منصور) رحمه الله د امریکایي ډرون په وسیله شهید کړای شو د اسلامي امارت رهبري شورى په اتفاق د رأیو سره شیخ هبة الله صاحب د اسلامي امارت د امیر، خلیفه صاحب سراج الدین (حقاني) او مولوي محمد یعقوب (مجاهد) یې د مرستیالانو په حیث وټاکلو.

د اسلامي امارت په مشـر تابه کې د شیخ صاحب تعین د جهادي مصالحو د تحقق، له یرغلګرو امریکایانو او دهغوی له ملاتړو سره د جهاد د تداوم او د اسلامي امارت د جهادي صف د متحد ساتلو تر ټولو غوره وسیله او لامل دی.

سره له دې چې داسلامي امارت د رهبري شورا په غړیو کې ډیر داسې اشخاص موجود ول چې هغوی له ډیر زیات پوځي اوسیاسي شهرت څخه برخمن ول ، خو هغوی ټولو په اتفاق د آراوو سره شیخ صاحب هبة الله د نوموړي د علمي او جهادي استحقاق او همداراز د جهادي صف د متحد ساتلو په خاطر نوموړی د دې مسؤلیت د پرمخ وړلو لپاره احق او وړ انتخاب وباله .

څکه شیخ صاحب د امارت د ټولو ارکانو، مسؤلینو او عامو مجاهدینو په زړه کې د ځانګړې محبوبیت له مخې دهغوی ټولو لپاره نهایي قابل قدر او قابل اعتماد شخص بلل کیږي او الله تعالی ورته پرځان باندې د ټولو مسؤلینو او مجاهدینو د راغونډولو خاص صلاحیت ورکړی .

د شیخ صاحب مذهبي او فکري لید لوری:

شیخ صاحب هبة الله د افغانستان د نورو علماوو په څیر یو مذهبي عالم او د اهل السنة والجماعة په ډله کې د حنفي مذهب پیرو دی ، د سنتو اتباع او د سلفو صالحینو لاره یې فکري منهج دی.

د مسلمانانو ترمنځ له هرډول مذهبي ، فکري او تنظیمي تعصباتو څخه بي پروا، د بدعتونو او خرافاتو سرسخت مخالف دی، د اسلامي امت یووالی د مسلمانانو د کامیابي اصلي راز او تفرق یې د هرې بدمرغۍ عامل بولي.

په مطالعې کې د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم له سیرت او جهادي ژوند سره ځانګړې مینه لري ، همدا لامل و چې کله په کال ۱۹۹۹ کې بیت الله شریف ته د حج فریضې اداء کولو لپاره ولاړ ، هلته یې د حج د مناسکو تر اداء کولو وروسته په مدینه منوره کې د جبل احد او جبل رُماة د هغو تاریخي ځایونو لیدو ته ډیره لیوالتیاوه چې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ورکې د احد د تاریخي غزا پر مهال له مشرکینو سره د مقابلې پرمهال زخمي شوی او حضرت سید الشهداء حمزه رضی الله عنه په هماغه میدان کې شهید شوی و.

د ورځني ژوند ځینې ځانګړتیاوې یې:

شیخ هبة الله صاحب په خپل علمي او ټولنیز ژوند کې یو لړ ځانګړي مشخصات لري.نوموړي ته د اسلامي امارت ټول مسؤلین او افراد د یوه جامع او منل شوي شخصیت په سترګه ګوري.

همدا وجه ده چې هم دشهید امیر المؤمنین د انتخاب پرمهال شیخ صاحب د مجاهدینو په یووالي او له هغه سره په بیعت کولو کې اساسي رول در لود او هم د شهید امیر المؤمنین ترشهادت وروسته د اسلامي امارت د مشر تابه په حیث خپله د شیخ صاحب د تعین پر مهال د اسلامي امارت ټول اعضاء او مجاهدین په قاطع اتفاق سره د هغه په امارت متفق او ټولو بلا استثناء ورسره بیعت وکړ.

شیخ صاحب له تیرو لسو کلونو مسلسل دنبوي احادیثو او قران کریم دتفسیر درس ورکوي چې اوس یې په هیواد کې بې شمیره علماء شاګردان دي نوموړی د خپل جامع علمیت ترڅنګ د بیان له ښه فصاحت څخه هم برخوردار دی ، په آساني سره کولی شي مقابل لوري ته ښه قناعت ورکړي.

د خپلو پریکړو او تصامیمو په تنفیذ کې خورا قاطع، جدي او باعزم دی.

په مجلس کې اکثرا خاموشه خو د ضرورت په وخت کې خبرې ډیرې موثرې او کاري وي.

سره له دې چې اوس د خپل عمر په ۵ لسیزه کې ده مګر له جهادي اعداد سره خاصه مینه لري.

سنګیني ، وقار او اسلامي خواخوږي یې د ژوند له اساسي مشخصاتوڅخه ده .

ژوند یې ساده او بي تکلفه دی، په خوراک، څښاک ملبس او مسکن کې یې د ترفه هیڅ اثر نه لیدل کیږي .

د لیدلو پر مهال یې سړی د اسې احساسوي چې له خپل مهربان مشر ورور ، او یاهم له مشفق استادسره مخ کیږي.

د جهادي چارو اهتمام په ډیر دقت کوي او اوس مهال یې د مطالعې او تدریس په ځای ډیر وخت د جهادي چارو په تنظیم، تنسیق او ترتیب کې تیریږي . پای

ترتیب او راټولونه

د فرهنګي چارو کمیسیون د تاریخ څانګه

۱۴/۳/۱۴۳۸هـ ق

۲۴/۹/۱۳۹۵هـ ش ــــ ۲۰۱٦/۱۲/۱٤م

حسن مومند

د ټرمپ انتخاب

او ورسره د امریکایي ولس تړلې نه پوره کېدونکې هیلې

دسیاست ډګر ته نوی راوتلی ؛ د ډیپلوماسۍ د اصولو نه ناخبره ؛ د نظام چلولو او حکومت دارۍ سره نابلده؛ نسل پرست ؛ متعصب ؛ عملي بداخلاقه؛ جنسي تجاوزګر؛ د طفلانه او ناوړه حرکاتو څښتن ؛ د متضادو خبرو مالک د خبرې؛ په حماقت کې ښه ډېر مشهور ؛ د مسلمانانو او امریکا ته د راغلو ټولو کډوالو لوی دښمن ډونلډ ټرمپ په امریکا کې په ترسره شویو د ۲۰۱۶م اوسنو انتخاباتو کې بریالی او د امریکا ۴۵م منتخب ولسمشر وګرځېد.

تېر کال چې هغه اعلان وکړ چې د امریکا په ولسمشریزو انتخاباتو کې برخه اخلي نو ډېر خلک یې پرځان وخندول او چې کله د جولائی میاشت کې هغه د هیلري کلنټن په څېر د سیاست د ډګر د لویې لوبغاړې په مقابل کې کاندید شو نو د امریکایي رسنیو له لورې په خپرو شویو زیاترو شننو کې د ټرمپ د ناکامۍ او په قاطع اکثریت د هیلري کلنټن د کامیابۍ وړاندوینې وشوې خو چې کله د رښتیا میدان راغلو نو د ټولو د تمو خلاف میدان ټرمپ وګاټه.

په ښکاره د امریکا ولس د ۲۰۱۶ م په دې انتخاباتو کې نورو عواملو نه وو اغېزمن کړي بلکې یوازې خپلې خوښې ته یې لیدلي او د خپلې خوښې تن ته یې رایې ورکړې نو ځکه ویل کېږي چې د امریکا انتخابات تاریخي وو؛ د امریکا په هغو ایالتونو کې هم ټرمپ ډېرې رایې ترلاسه کړې چې پکې ډیموکراتانو ډېر پلویان لرل او تل به پکې همدوئ زیاتې رایې اخستلې.

د امریکا ټول ایالتونه ۵۳۸ نمایندګان لري چې همدا نمایندګان ولسمشر کاندیدوي؛ ولسمشرۍ ته دیو کاندید د بریالیتوب لپاره پدوئ کې لږ ترلږه د ۲۷۰ رایو ترلاسه کول ضروري وي چې ټرمپ د ټاکلي نصاب نه هم زیاتې یانې ۲۹۰ رایې ترلاسه کړې او هیلري کلنټن ایله د ۲۲۸ رایو په اخستلو وتوانېده.

د فلوریډا ،اوهائیو، پنسلوانیا او شمالي کېرولینا په نوم ایالتونه چې د ټرمپ د کامیابۍ چانس پکې کم ښکارېدو پکې کامیاب شو؛ ټرمپ په ۲۸ ایالتونو کې زیاتې رایې ترلاسه کړې خو هیلري کلنټن ایله په ۱۸ ایالتونو کې د زیاتو رایو پر اخستلو وتوانېده.

د امریکا د اوسنو انتخاباتو د کمپاین پر مهال هر لورې د بل پر ضد داسې تېزه لهجه وکاروله چې په نېږدې ماضي کې یې په امریکا کې ساری نه ترسترګو کېږي نو ځکه ګومان کېدلو چې شاید د رایو اچونې په ورځ داخ و ډب او بدنظمۍ ډېرې پېښې رامنځته شي خو داسې هیڅ هم ترسترګو نه شول، سره له دې چې د جمهوري غوښتونکي ګوند سره د تړاو لرونکي شخص ټرمپ بریالیتوب دیموکراتانو ته د منلو او زغم وړ نه و خو چې کله هغه بریالی اعلان شو نو د امریکا په مختلفو برخو کې د هیلري کلنټن پلویانو د ده پر ضد درنې

مظاهرې وکړې خو نه یکې مرګ ژوبله وه؛نه یکې دښارونو د ودانیو نړول او سوځول وو او نه هم ملي منافعو ته ضرر رسول و.

د ټرمپ سترې حریفې هیلرۍ کلنټن د انتخاباتي کمپاین پرمهال په ټرمپ سخت انتقادات او اعتراضات کول خو چې کله ټرمپ بریالی شو نو د افغانستان او د دریمې نړۍ نورو هېوادونو کې د ماتې خوړلو کاندیدانو په څېر هیلرۍ کلنټن ونه ویل چې: نه یې منم؛نه یې لارو کوڅو ته د راوتلو او مظاهرو کولو ګواښونه وکړل او نه یې هم په خپل مخالف د درغلۍ تورونه ولګول بلکې ټرمپ ته یې د بریالیتوب مبارکي وویله او هیله یې څرګنده کړه چې ټرمپ به یو کامیاب ولسمشر وي؛هغې پرونۍ ټولې خبرې هېرې کړې؛هغې دیوې عادي داسې وطن دوستې امریکایې مېرمنې په څېر ژوند پیل کړ چې یوائنۍ هیله یې یوائې د خپل هېواد پرمختګ وي.

ټرمپ هم په خپلې بیانیې کې د امریکا لپاره د هیلرۍ د خدمتونو ستاینه وکړه او هغه یې یوه ښه او تکړه مقابله کونکې مېرمن وګڼله.

بارک اوباما چې د ټرمپ علني مخالف و د بریالیتوب نه پس یې ټرمپ او د هغه مېرمن په سپینې ماڼۍ کې میلمانه کړل چې هورې ورته اوباما د امنیتي چارو په اړه توضیحات وړاندې کړل او دواړو مشرانو یو بل سره د ارتباط ساتلو او مرستو ژمنه وکړه.

د ټرمپ بریالیتوب د پروخلکو ته حیرانونکې ښکارې خو که د امریکا کورنیو ستونزو او کړنلارو ته وکتل شي نو بیا د ټرمپ بریالیتوب هیڅ حیرانونکی نه دی.

د ټرمپ انتخاب د امریکا د روان سیاست په مقابل کې د امریکایې ولس هغه عکس العمل دی چې تمه او توقع یې کېدله.

له دې انکار نشي کېدای چې یدې مادي نړۍ کې امریکا په هر لحاظ له نورې ټولې نړۍ نه وړاندې وه؛دا دومره لوی هېواد دی چې د نړۍ په ۷ لویو وچو کې یې کابویوه ټوله وچه نیولې ده؛زراعت او صنعت بې مثاله و؛اقتصاد یې دومره پیاوړی و چې د دوهم نړیوال جنګ نه پس یې تباه او برباد شوې ټولې اروپا ته اوږه ورکړه او په پښو یې ودروله؛د جاپان او جنوبی کوریا په څېر هېوادونه که نن په اقتصادي لحاظ پرمختللي هېوادونه دي نو په پرمختګ کې یې د امریکا د ټیکنالوژۍ ډېر لوی لاس دی؛سعودي عربستان، کویټ، عراق، ایران او نور خلیجي هېوادونه په خپلو تیلو بډای شول خو د دې تېلو د کشف او راویستلو نه بازار ته ترسولو ټول کار د امریکا سترو شرکتونو کړی او د دې لپاره یې ډېره ستره سرمایه ګزاري کړې وه.

امریکا له تېرو ۲۵ کلونو راهیسې د جنګ حالت کې ده؛په ګڼو هېوادونو او دولتونو یې مستقیم او غیر مستقیم یرغلونه وکړل او قبضه یې کړل امریکا چې د دې قبضو په نتیجه کې د کومو سترو اقتصادي ګټو تمه لرله هغه تمې یې د خاورو سره خاورې شوې؛هیڅ یې ترلاسه نکړای شول خو پدې جنګونو او قبضو یې سخت زیات مصارف وشول؛ دا مصارف په سونو ملیاردو ډالرو ته رسېږي؛دې بې ساري لوړولګښتونو باید د امریکا اقتصاد صفر کې ضرب کړی وای خو داسې نده؛امریکا به د چین په څېر د هېوادونو پوروړی هم وي؛اقتصادي پرمختګ به یې هم کمزوری شوی یا ودرېدلی وي خو تباه شوی ندی؛د افغانستان په ۱۰ کلن جنګ کې د روسانو مصارف په افغانستان کې د امریکا د جنګي مصارفو لسمې برخې ته هم نه رسېږي خو بیا هم هغې مصارفو د شوروي اتحاد اقتصاد صفر کړ خو امریکا سره د دې مصارفو لا هم د نړۍ ګڼو لاسپوڅو هېوادونو ته د فوځي او اقتصادي مرستو په نوم هر کال په سونو ملیونه ډالر ورکوي.

خو لنډا دا چې امریکا په هر لحاظ لویه ګڼل کېدله او پدې مادي نړۍ کې په رښتیا هم چې لویه وه خو د امریکا له بده مرغه چې خپل د مادیاتو له حده زیات حرص پر افغانستان حملې کولو ته تیاره کړه ؛ د لته د مادي وسایلو په لحاظ د کمزورو افغانانو سره په جنګ کې راښکېل شوه او

چې دا جنګ تر ۱۵ کلونو وغځېد او دامریکا د تاریخ تر ټولو اوږد جنګ وګرځېد نو په نړۍ کې چې دامریکا کوم عظمت او مقام و هغه دخاورو سره خاورې شو؛ د ټولې نړۍ د قبضې او په ټولې نړۍ یې دحاکمیت راتللو خوبونه بې تعبیره پاتې شول؛ په نړۍ یې چې کوم رعب و هغه ختم شو او دا فکر له منځه ولاړ چې ګیني دا هېواد نه شکست خوړونکی هېواد دی؛ دامریکا له بده مرغه چې کمزورې او شکست خوړلې څېره یې اوس دیو په بل پسې په مختلفو ډګرونو کې په مسلسل ډول راڅرګندېږي.

افغانستان خو هسې هم دامپراتوریو او ستر وزیرو ځواکونو هدیره ده او دلته هر غاصب ستر قوت په ګونډو شوی دی نو که امریکا دلته شکست وخوړ نړۍ یې د تمې خلاف کار نه ګڼي او نه دامریکایانو لپاره دومره ډېره دشرم خبره ده؛ دامریکا لپاره ډېره د تشویش وړ خبره دا ده چې په ټولیزه توګه ټولې نړۍ کې او په ځانګړي ډول اسلامي نړۍ کې سخته منفوره شوه او هم یې په نړیواله سطحه مقام او حیثیت ته نه جبرانېدونکی زیان واوښت.

امریکایان ډېر مغرور خلک دي غواړي چې پر ټولې نړۍ دې یواځې دهمدوئ پرېکړې نافذې وي او هیڅ ځواک او طاقت دې داسې نه وي چې ددوئ پرېکړه رد کړي یا یې مخې ته ودرېږي چې کابو ۲۵ کلونه وړاندې چې په افغانستان کې دروسانو دماتې؛ دشوروي اتحاد ټوټه ټوټه کېدو او د کمونستي بلاک ددفنېدو ورځې وې په نړۍ کې همداسې یو حالت و چې دامریکا مخې ته دودرېدو هیڅوک نه و خو اوس داسې نه ده؛ اوس دخپل پخواني مقام نه ډېره لاندې راغورځېدلې ده .

امریکایان ددې ترڅنګ چې مغرور دي ډېر ضدي خلک هم دي؛ د نړیوالو ترمخه دخپلو دولتونو په ناسمو سیاستونو اعتراف نه کول ددوئ دغرور او ضد روښانه دلیل دی او نه غواړي چې خپله کمزوري نړۍ ته ښکاره کړي .

داسې نده چې ګیني دوئ په څه نه پوهېږي؛ دوئ کوچنیان ندي؛ په هر څه ښه پوهېږي؛ په خپل اوسني کمزوري حیثیت هم ښه پوه دي او دخپلو مشرانو کومو کړنلارو او کړنو چې امریکا ددې دومره تنزل سره مخامخ کړه په هغې هم پوه دي او پدې اړه ښه اندېښمن هم دي؛ پر اوکراین دروسې حملې او د کریمیا د قبضې پرمهال چې امریکا کوم شاتګ وکړ؛ د شاتګ دا د شرم او کمزرۍ نه ډک لمحات به امریکایان هیڅکله هم هېر نکړي.

لنډه دا چې امریکایانو سره دا احساس پیدا شوی چې دامریکا لپاره داسې زړور ولسمشر پکار دی چې د نړیوالو ستونزو پرمهال د نړۍ د نورو لویو طاقتونو په مقابل کې په ډګر کې ودرېدونکی وي او ورسره یو ځای داسې اقدامات هم وکړي چې له امله یې امریکا بېرته د زوړ مقام او حیثیت ځښتنه شي.

ټرمپ دا ناره پورته کړه چې موږ به دامریکا عظمت بیا رامعاد کوو او موږ به امریکا بیا عظیمه امریکا ګرځوو چې همدا ناره نه یواځې دا چې دامریکایانو دزړه ناره وه بلکې دوخت اشد ضرورت یې هم ګڼلو نو ځکه یې ټرمپ ته ښه په اخلاص رایې ورکړې او کامیاب یې کړ؛ ټرمپ به دانتخاباتي کمپاین پرمهال په خپلو خبرو کې ویل چې دامریکا بهرنۍ پالسي داسې ناکامه ده چې له امله یې امریکا دخلکو دخندا وړ ګرځېدلې ده.

اوس پوښتنه دا ده چې امریکایي ولس داوس لپاره څرنګه ولسمشر غوښتلو ټرمپ به هماغسې ولسمشر ثابت شي او دده سره ددې ولس ترلې هیلې به ګیني پوره شي؟

جواب ډېر روښانه دی چې نه ! هیڅکله هم نه !

ټرمپ خو دامریکا دناکامې بهرنۍ کړنلارې خبره کوي خو پخپله ټرمپ چې نه چرته کامیاب دیپلومات پاتې شوی؛ نه سیاسي تجربه لري او نه هم دسالم عقل نه برخمن دی هیڅ توقع او تمه ترې څوک نشي کولی چې ګیني دامریکا دا ناکامي به په کامیابۍ بدله کړي.

نن په منځني ختیځ کې ډېر بدحالت دی او دلته ډېر ستر بشري ناورین دی چې ددې هرڅه ملامتیا دامریکا په سر ده؛ امریکا دلته سخته بدنامه هم ده او داسې سخته

رابنکېل ده چې اوس که هر څه ځان ویستل غواړي ځان نشي ویستلای.

۸ کلونه وړاندې چې اوباما ځان ولسمشرۍ ته کاندید کړ نو دعراق نه دامریکایې فوځونو دویستلو ناره یې په شعارونو کې ډېر مهم شعار و؛ بیا چې په لومړي ځل هغه په انتخاباتو کې بریالی او دامریکا ولسمشر وګرځېد نو بیا یې اعلان وکړ چې دعراق نه دامریکایې فوځونو ویستل یې د کار په لومړیتوبونو کې ده.

داوباما لومړۍ او دوهمه دواړه دورې تېرې شوې خو دعراق نه دامریکایې فوځونو په ویستلو ونه توانېدا او اوس ۸ کلونه وروسته چې د اوباما دوهمه دوره هم په پوره کېدو ده دهمدې عراق په موصل ښار کې امریکایې عسکر دمجاهدینو پرضد جنګېږي او پردې ښار دامریکا جنګي طیارې درانده بمونه غورځوي.

اوباما دخپل واک پدې وروستو دوه کلونو کې دمنځني ختیځ نه دشاتګ او سهیلي ختیځې آسیا ته دتوجو زیاتولو پالیسي په کار اچولې وه چې په پدې اړه به اوباما او داوباما سلاکارانو داویل چې اوس دمنځني ختیځ سره دامریکا ډېرې ګټې ندې تړلې چې ددې لامل په امریکا کې دتیلو کشف؛ دجنګونو نه دامریکا ولس بې زاري او یوبل ته دامریکا او ایران ورنېږدې کېدل دي.

نو امریکا دمنځني ختیځ نه دشاتګ پرپالیسۍ عمل کول غواړي خو پرې نشي توانېدی؛ دبش په مشرۍ کې چې دجمهوري غوښتونکو اداري امریکا په منځني ختیځ کې رابنکیل کړه له هغې نه پس دیموکراتانو په خپلو دوه دورو کې امریکا دسلېخو ددې ډنډ نه راونه ویستلای شوه او اوس چې دوه میاشتې پس اوباما ټرمپ ته ددولت واګې سپاري نو په داسې حالت کې یې ورته سپاري چې له افغانستان پرته په عراق،شام اولیبیا کې په تمامه معنی او په یمن کې په جزوي ډول رابنکیل ده اودا په داسې حال کې ده چې داوباما اداري په خلیج کې خپل ټول زاړه ملګري او حلیفان خفه کړي او له لاسه ورکړي دي نو ټرمپ دمنځني ختیځ نه دابرومندانه وتلو هیڅ لار دځان لپاره نه لري؛ یواځنۍ لار دشکست منلو او دتېښتې لار ده چې امریکا پرې وتلی شي خو دتېښتې نه پس چې دلته په ګډوډۍ کې ډېروالی راځي او ددې بدامنۍ او ګډوډۍ بدې اغېزې لویدیځ او نورو نېږدې سیمو ته خپرېږي نو ددې هر څه پړه به دامریکا په غاړه وي چې له امله به یې نوره هم بدنامه او په نړۍ کې به یې مقام لازیات راټیټ شي او دلویدیځ مشري به له لاسه ورکړي.

ټرمپ چې لاله وړاندې یې په خپل ژوند کې څوځلې عملي بداخلاقي ښکاره کړېده؛ طفلانه اوناوړه حرکات کوي؛ دخولې نه یې متضادې خبرې راوځي؛ حماقت یې ښه ډېر مشهور دی او دنظام چلولو هیڅ تجربه نه لري او دزیاتو رایو اخستلو په موخه یې ځان متعصب امریکایې او متعصب عیسوي معرفي کړ او دمسلمانانو او امریکاته دراغلو ټولو کډوالو پرضد یې ډېره ناوړه لهجه وکاروله نو دا هر څه ددې شاهدي ورکوي چې کورنی سیاست به یې هم ډېر ناکام او متزلزل وي؛ کله چې ده ته واک وروسپارل شي نو شاید چې ډېر داسې ناوړه او جدي اقدامات وکړي چې دولس دډېرې برخې دغصې او بیا دسترولسي پاڅون سبب شي او په هېواد کې ډېره ګډوډي رامنځته شي.

خو لنډه دا چې ټرمپ به دامریکا دناکامو ولسمشرانو څخه وي او امریکایانو چې ورسره کومې هیلې تړلي دي هغه به ټولې دخاورو سره خاورې شي.

برما کې د روهنګیا یي مسلمانانو زړه بوږنوونکي حالت او دنړیوالو مجرمانه چوپتیا!

بشير

دبلـې کـومې اداري او يـاټولنې لخوا نه بلکې پخپله دملګرو ملتونو لـه لوري په يو راپور کې ويل شوي چې : دزمکې په مخ ترټولو مظلـوم اقليـت برما کې دروهنګيا يي مسلمانانو دي! څوک چې نه يواځې دبشرلـه حقوقـو محروم دي بلکې له ځانو سره دنړۍ دهيڅ کوم هېواد تابعيت هم نلري...

په برما کې دمسلمانانو دشتون په باب چې دتاريخ د مطـالعې کـوم څه معلوميږي هغه دادي چې نيږدې دولـس سـوه کالـه پخـوا يـو شـمير مسـلمان سـوداګر (هندوسـتاني ، عربان) دخـو کشـتې بـانو سره يـو ځای دتجارت په موخه برماتـه تللي او بيا هم هلته ميشت شوي ،څه موده وروسته دچين او مليزيا نـه هـم يـو شمير نور مسلمان سوداګر هـم هلتـه ورغلل او ميشت شول په دې توګه په برما کې دوخت په وخت تيريـدو سره د هغـو سـوداګرو مسـلمانانو دنسـل شتون مخ په ډيريدو شو.

برماته اوس مينانمار ويل کيږي، دا يو کوچنی هېواد دی ، دوګـړو ټـول شمير يې نيږدې پنځـوس مليـون دی ۸۹سلنه خلک يې پـه ديـن بودايـان ، ۴سلنه مسلمانان، ۴سـلنه عيسـويان، يوه سلنه هندوان او ۲ سـلنه دنـورو پيروان دي.

په لومړي سر کې دمسلمانانو او بودايانو ترمنځو اړيکي بد نه و، دځـو مسـتثنياتو پرتـــه دبودايـــانو او مسلمانانو ترمنځ ډيرې کمې شـخړې او سـتونزې رامنځتـه شـوې، پـه دې وجه په برما کې امن و امان و، دنورو هېوادو څخه هـم ځينـي مسـلمانان دتجارت په غرض هلته ولاړل او ميشت شول ،برمائي قوم ته ميـا نمـار وايـي دکوم په نوم چې دغـه هېـواد نومـول شوی اصلاً دهمدي قوم وګړي په برما واکمن دي ليکن په دغـه هېـواد کـې دهغوی خپل تاريخ هم ډيـر پخـوانی ندی هغوی په نهمه او لسمه عيسـوي پيړۍ کې دتبت او چين څخه لاړدي او بودايي دين يې هم دتبت او چين څخه وړی دی

په يوولسمه پيړۍ کې (انور اتـا) په نوم يـوتن خـواره واره خلـک سره يوځای کـړل داوپګـان پـه مـر کـز ګرځولو يې هلته يو جلا حکومت جوړ کـړ ، د مسـلمانانو زيـات شـمير پـه رخائن کـې ميشـت دي چيـرې چـې نيږدې ٦۰ لکه مسلمانان اوسي ددينـه وړاندې دمسلمانانو او بودايانو ترمنځ اړيکي دومره ډير خراب نه و، خو په ۱۴۰٦زکې داراکان پا چا(نارامیخـالا) چـې کلـه دخپلـو دښـمنانو پـه لاس شکست وخوړ نو بنګال ته يـې پنـاه ويوړه ، هلته دبنګـال د پاچـا (جـلال الدين) باور په ترلاسه کولـو يـې پـه ۱۴۲۹ز کې د هغه (جلا ل الدين) پـه مرسته ا راکان دويم ځل ونيو ددې

وروســـته تـــر او ږدې مـــودې برمـــا حکومت مسلمانانو ته باج ورکاوه.

په ۱۹۳۷ زکــې میانمــار (برمــا) دهندوســـتان برخـــه وه او دا دتـــاریخ هغــه پــړاو دی چــې پــه هنــد کــې دمسلمانانو وروستی پاچـا بهادرشـاه ظفر برما کې دانګریزانو لخوا بنـدي ساتل کېده ، چې اوس یې قـبر هـم هلتــه پــه برمــا کــې دی ، د ۱۹۳۷ زوروســـته انګریزانـــو میانمـــار جـــلا وګرځوله تر ۱۹۴۸ ز کال پورې یــې پــه هــم دا حالــت پاتــه و، څــو چــې دانګریزانو څخه یې ازادي ترلاسه کړه دتاریخ له مطالعې ښکاري چې په دغه هېواد کې کله نه کله به دمسلمانانو او بودایــانو تــرمنځ کــوچنی شـــخړې رامنځته کېدې چې دهغو له امله بـه د دواړو ترمنځ اړیکې کلـه سـم و او کله ناسم و، ددې اســاسي وجــه داده چې داســلام او بــودایزم تــرمنځ پــه اصــطلاح واټــن د بعــد المشرــقین دی مثلاً: په اســلام کــې دڅــارویو (لکــه غویان، اوښان، اوزې او پســان) حــلا ول او دهغــو غوښـــې خــوړل روا دي بلکې په لوی اختر کې ددغو څــارویو قرباني ستر ثوابـو نـه لـري او پـه بودایت کې نه یوازې دڅارویو حلاول منـع دي بلکـې دذی روح وهـل هـم داسې دي لکـه دانســان وژل! پـه دې توګه د دواړو تـرمنځ ددې تضـاد پـه زیاتیدو سره په ۱۵۵۹ زکې برمـا کـې دڅارویانو په قربـانۍ بنـدیز ولګـول شوپه ۱۷۲۵زکې په څارویو د[چـړې تیرولو دمنع قانون]جوړ او له مخـې یې سرغړونکو ته ســختې ســزا ګـانې وټاکل شوې.

په ۱۷۸۲ز کې (بوداپایه) په نوم یوبودایي سړی واک ترلاسه کړ هغه په مسلمانانو دژوند کړۍ نوره هم تنګـه کـړه دډول ډول سـتونزو او نــاخوالو سره یې مــخ کــړل دڅــارویو غوښــه خوړل یې حرام اعلان کړه او اســلامي عالمان یې دخنزیر غوښو پـه خوړلـو مجبــور کــړل ، کومــو علــماوو چــې دخوړو څخه انکار وکړ هغوی ته یــې ســختې وحشــیانه ســزاوې ورکــړې داخوځښت وړاندې نور پراخ شو کلـه چې دهندوستان دویش مرحلـه راغلـه په هغــو ســیمو کــې چــې مسـلمانان اکثریت دي، هغوی دګاونـدي هېـواد پاکستان سره دیوځای کېدو هڅه وکړه ،ددې لپاره یې استازو دمحمـد علـي جنــاح سره څــوک چــې دپاکســـتان بنسټ ایښودونکی دی ولیـدل خـو د بریتانې لخوا برما دجلا هېواد په حیث اعلانولو په وجه دمسلمانان دپاکستان سره دیــو ځــای کیــدو هڅــو نتیجــه ورنکړه او دپخوا په څېر دمسلمانانو اکثریت لرونکې ســیمې دبرمـا پـورې وتړل شوې

وروسته مسلمانانو ته دګاونـدي هېواد(پاکستان) سره دیوځای کېدو غوښــتنه دغــاړې طــوق وګرځیــده د ستونزو او ناخوالو په ســمندر کیوتـل له بریتانې څخه دازادې ترلاسه کولـو وروسته په کــال ۱۹۶۲ زکــې پــوځي حکومــت واک ترلاســـه کړچــې تــر ۱۹۸۲زکال وغځید په دغه موده کــې دیولک نه زیات مسلمانان شـهیدان او دشل لکه په شاوخوا کې هند، بنګال او پاکستان ته مهاجر شول پــه ۱۹۸۲ زکې پوځي حکومت داسې قانون جوړ کړ چې دهغه له مخې یـې برمـا کـې دروهینګا یې مسلمانانو تابعیت لغـوه کړای شو.

حال داچې په دغه هېواد کې روهنگيا يي مسلمانان دپيړيو پيړيو راهيسي ميشت دي ددې قانون په وجه په ميانمار کې زمکه په مسلمانانو سورتنور شوه دهغوی په کار، سوداگرئ بنديزونه ولگيدل په هېواد کې يې نقل و حرکت محدود او ترڅار لاندې ونيول شو، نن ورځ حالت دومره بوږنونکی او ژړونکی چې هره ورځ لسگونه او سلگونه مسلمانان ډلې ډلې وژل کېږي ، په ټوليزه توگه داور په لمبو کې سيزل کېږي دځينو څخه دتن غړي په تبرونو جلا کېږي بودايان ډلې ډلې مسلمانان سمندر ته غورځوي ددې ټولو سربيره نړئ چوپه خوله ده هيڅوک دبرما کړه وړه نه غندي ؛ نه ورسره ديپلوماتيک اړيکي قطع کوي او نه دميانمار دولت گواښي.

په دې کې دنړئ ټول هېوادونه که هغه اسلامي دي او که کفري چوپ دي او دميانمار حکومت سره ټول ښه راشه درشه لري په ملگرو ملتونو کې هم غړيتوب لري هيڅوک تري پوښتنه نکوي چې اخر ولې نړيوال قوانين تر پښو لاندې کوي او و لې دبشري حقوقو داعلاميې او غوښتنو رعايت نکوي کنه ميانمار نه کوم ځواکمن هېواد دی چې څوک تري ډار ولري بلکې يو بيرته پاته هېواد دی

داسلامي هېوادو له منځه داسې هېوادونه شته چې هغه دميانمار څخه په څو واره بډای، ځواکمن او مؤثر دي خو ددې باوجود روهنگيني مسلمانانو دغم او پوښتنې څوک نشته

دخبري سرچينو له قوله: دوحشت، ظلم، بربريت او جبر داسې وسله او حربه نده پاتې چې هغه دروهنگيا مسلمانانو په وژلو او ځورولو کې نه وي کارول شوې پخپله ملگرو ملتونو منلي چې دروهنگيا مسلمانان دزمکې په مخ ترټولو زيات مظلوم اقليت دی ددې باوجود په ملگرو ملتونو کې دميانمار غړيتوب نه ځنډول کېږي نه او نه په خلاف يې دامنيت شورئ لخوا کوم پريکړه ليک منظورېږي

اونه په نړيواله سطحه کوم بل داسې خوځښت او حرکت ليدل کېږي چې هغه ددغو بې وسو مسلمانانو دحقوقو لپاره غږ پورته کوي په خواله رسنيو کې هره ورځ چې کوم زړه بوږنوونکي انځورونه خپرېږي باور وکړئ په ليدو يې انسانيت خجالت اوشرم احساسوي

په انځورونو او ويډيوگانو کې ليدل کېږي چې وحشي بودايان د مظلومو مسلمانانو ودان کورونه او بسته کلي سيزي دمسلمانانو ميرمنې بې ستره کوي بې پټه کوي، ماشومان، سپين روبي ، ځوانان او ميرمنې دکوم توپير پرته په چړو او تبرونو حلالوي

اوس پوښتنه داده چې نړيوال ولې دمسلمانانو په دومره بوږنوونکي حال چوپ دي ، دبشر دحقوقو داعيان او ډنډورچيان په کوم غار کې ننوتي دي چې دمسلمانانو چيغې او ساندې نه ور رسي؟ ملگري ملتونه په کومه کنده کې غلي دي دامنيت شورئ که کومه تللې ؟ ايا دبرما مسلمانان انسانان ندي ؟ هغوی دنړيوالې بشري ټولنې برخه ندي؟ ايا دهغوی دحقوقو نه دفاع دملگرو ملتونو او حقوق بشر دسازمانو مسؤليت ندی؟

خو ددغو سازمانو څخه دانصاف تمه بې ځايه ده ځکه دوی دمسلمانانو په ځورولو، وژلو او کړولو کې دخيل دي پخپله مسلمانان دي راپورته شي دخپلو مظلومو ورونو غم دي وخوري خپلمنځي اتفاق او اتحاد دي روالي او هرهغه چاته چې هغه مسلمانان ځوروي او اذيت ورکوي غاښ ماتونکی ځواب ورکړي څو په راتلنکي کې بل څوک مسلمانانو ته په جگو ستر گو ونه گوري.... کاشکې ! مسلمانان يو شي....!

د سرور کاینات صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَ عَلٰی آلِهٖ وَ سَلَّمَ نیکمرغه میلاد

د مکې پر تندې ځرګه برېښنا شوه - د رحمت د بارانونو تنا راغله
د بوتانو سترګې شوې د اور سکروټې - لات منات ته په غریو ووې ژړا راغله

(حمزه بابا)

د حضرت محمد مصطفی بختور پیدابښت دهرشي لپاره چې پروردګار پیداکړي رحمت دی ، درسول اکرم سپېڅلي میلاد او د نړۍ ته راتګ لپاره اسمانونو ، ځمکې ،ونې ، انسانانو او ګردو کاېناتو اړتیا درلوده. همدغه مبارک مولود و چې له برکته (ارهاس) یې د دوزخ قهرجنې لمبې هم مړې شوې، بوتان پرمخ رانسکور شول ، د مجوسیت بیم ووت ، دیهودو ورځې توری او د نصرنیانو دباغ پاڼې زیړې شوې، دسپین او تور تـوپیر ختم او د خدای هرمخلوق ته ور حقونه ورکړل شول...لنډه داچې دسعادت داسې پسرلی او بهار په دنیا راغی چې ګرده نړۍ یې سینګار او له خوشبو ډکه کړه ، دا یوازې د حضرت محمد ص دمبارکې زیږېدنې له امله ، نو ځکه یې امتیان په همدې مناسبت سپېڅلي جلسې جوړوي ، داسې جلسې چې سر ترپایه دخدای ذکر؛ تلاوت ، نبوي سیرت ، داسلام حقانیت او دپېغمبر ص دملګرو بې سارې عظیمې قربانۍ او نعتونه ...پکې بیانېږي. د میلاد داسې برکتناکې غونډې منعقد کول نه یواځې جایزې ؛ بلکې مستحب اوغوره عمل دی ، په دې اړه د امت سترو نومیالیو محدثینو او فقهاوو ځانګړي کتابونه لیکلي دي چې دلته به یې چونګ له خرواره (مشت نمونه خروار) « په مستقیم ډوله دلایلو» څو پاڼې توري کړو:

دقراني دلایلو له مخې دمیلاد اثبات:

الله تعالی فرمایي: [فَالَّذِیْنَ آمَنُوْا بِهٖ وَعَزَّرُوْهُ وَنَصَرُوْهُ وَاتَّبَعُوا النُّوْرَالَّذِيْ أُنْزِلَ مَعَهُ فَأُوْلٰئِکَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ] (اعراف: ۱۵۷) ژ:چاچې پر پېغمبر(ص)ایمان راوړی او دهغه درناوی او تعظیم یې کړی او د هغه نصرت یې کړی او پیروي یې د هغه قرآن"کړې ده چې هغه ته نازل شوی دی؛ همدغه خلک کامیاب دي.

وضاحت او څېړنه : په أیت کې جمله د((وَعَزَّرُوْهُ)) د"توقیر او تعظیم" په معنا ده (قرطبي: ۷ ټوک -۲۶۵مخ)

څرنګه چې په ایت کې دا دري جملې(آمَنُوْا بِهٖ, نَصَرُوْهُ ، وَاتَّبَعُوْا) د رسول اکرم ترزماني پورې نه دي خاصې ، دغه شان د (عَـزَّرُوْهُ) هم دی ، یعنې د تل لپاره دپیغمبر درناوی او تعظیم کونکي هم کامیاب دي . اوس دا چې د میلاد جلسه د نبي کریم توقیر او تعظیم دی او کنه ؟ نو د نومیالیو محدثینو له خولو به یې وا ورو :

الف : علامه اسماعیل حقي رَحِمَهُ اللّٰهُ دپورتني أیت په تفسیر کی وایی: وَ مِنْ تَعْظِیْمِهٖ عَمَلُ الْمَوْلِدِ اِذَا لَمْ یَکُنْ فِیْهِ مُنْکَرٌ (روح البیان:ټوک۹ــ مخ ۶۸)یعنې ددې له تعظیم څخه د پېغمبر(ص) دمیلادلمانځل هم دي،خو په دې شرط چې شرعي خلاف کار پکې نه کېږي .

ج: امام جلال الدین السیوطي رَحِمَهُ اللّٰهُ وایي: هُوَ مِنَ الْبِدَعِ الْحَسَنَةِ الَّتِيْ یُثَابُ عَلَیْهَا صَاحِبُهَا لِمَا فِیْهِ مِنْ تَعْظِیْمِ قَدْرِالنَّبِيِّ ص . (الحاوی للفتاوٰی:ټوک۲ ـــ مخ ۱۸۱) یعنې دا "میلاد" د بدعاتو حسنه وو (دین کې نوو نېکو کارو) څخه دی؛ هغه بدعاتِ حسنه چې"کوونکي"ته یې ثواب ورکول کېږي ځکه چې په دغه"میلاد"کې دنبي کریم (ص) دمرتبې تعظیم او درناوی دی .

ك : امام الحافظ "ابو شامه" رَحِمَهُ اللّٰهُ وایي: فَاِنَّ ذَالِکَ مَعَ مَافِیْهِ مِنَ الْاِحْسَانِ اِلَی الْفُقَرَاءِ یُشْعِرُ بِمَحَبَّةِ النَّبِيِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَتَعْظِیْمِهٖ وَجَلَالِهٖ: نسائي شریف: ۱ ـــ:مخ ۳۵۶)ـــ :لمنلیك :۱)

الف: عَنِ ابْنِ عَبَاسٍ قَالَ: قَدِمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهِ وَسَلَّمَ الْمَدِيْنَةَ فَوَجَدَالْيَهُوْدَ يَصُوْمُوْنَ يَوْمَ عَاشُوْرَاءَ فَسُئِلُوْا عَنْ ذَالِكَ؟ فَقَالُوْا هٰذَا الْيَوْمُ الَّذِيْ أَظْهَرَاللّٰهُ فِيْهِ مُوْسٰى وَبَنِيْ اِسْرَائِيْلَ عَلٰى فِرْعَوْنَ فَنَحْنُ نَصُوْمُهُ تَعْظِيْمًالَهُ.فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ نَحْنُ أَحَقُّ بِمُوْسٰى مِنْكُمْ فَأَمَرَ بِصَوْمِهِ البخاري:(ج١- كتاب الصوم باب صوم يوم عاشوراء) ژ: له حضرت ابن عباس رض څخه روايت دی چې رسول اکرم ص مديني ته راغی نو يهود يې وليدل چې دعاشورې ورځې روژه يې نيولې ، له دوی څخه ددې روژې دنيولو پوښتنه وشوه ؟ نو دوی ورته وويل : دا هغه ورځ ده چې الله تعالى موسى عليه السلام او بني اسرايل پر فرعون غالب گرځولی نو مونږ ددې ورځې تعظيم لپاره روژه نيسو . نو نبي كريم ص وفرمايل : مونږ حضرت موسى عليه السلام ته تر تاسو زيات حقدار يو ؛ نو امت ته يې دعاشورې دروژې په نيولو امر وكړ.

ځيرنه: علامه ابن حجر العسقلاني"له پورتني حديث نه په عجيب اسلوب دميلاد دثابتولو استدلال كوي:

وَقَدْ ظَهَرَلِيْ تَخْرِيْجُهَا عَلٰى أَصْلٍ ثَابِتٍ.... وَمَنْ لَمْ يُلَاحِظْ ذَالِكَ لَايُبَالِيْ بِعَمَلِ الْمَوْلِدِ فِيْ أَيِّ يَوْمٍ مِنَ الشَّهْرِ فَهٰذَا مَايَتَعَلَّقُ بِأَصْلِ عَمَلِهِ (النعمة الكبرٰى على العالم: مخ ٢٣)يعني بې شكه ماته دميلاد دمسئلې تخريج ديو اصل ثابت څخه ښكاره شوی ، چې بخاري او مسلم ذكر كړي دی.نو له دې حديث څخه دالله تعالى داحسان شكرادانيه هم ثابتېږي چې دنعمت وركړه او يا دضرر دفع ده ، او بيا دغه شكر گزاري راگرځي په مثل دهمدغې ورځې كې كال په كال ، او شكراداكېدل په ډول ډول عباداتو سره كېدای شي ، لكه: لمونځونه ،روژې ، خيرات ، تلاوت ... نو كوم يو نعمت غټ دی له راتگ د نبي عليه السلام څخه چې نبي الرحمة دی (دا تر ټولو لوی نعمت دی)پكار دا دی چې بعينه (يواځينی) دهمدغې ورځې ميلاد چمتوالی او اهتمام وشي ترڅو دحضرت موسى عليه السلام له كيسې سره مطابقت راشي او كه خاص ددې ورځې لحاظ ونشي نو پرواه نلري چې دهمدغې مياشتې په هره ورځ ميلاد ولمانځل شي.

شيخ ابن رجب الحنبلي رَحِمَهُ اللّٰهُ وايي: فَاِنَّ اَعْظَمَ نِعَمِ اللّٰهِ عَلٰى هٰذِهِ الْأُمَّةِ اِظْهَارُمُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَهُمْ وَبَعْثَتُهُ وَاِرْسَالُهُ اِلَيْهِمْ (لطائف المعارف:مخ ١٢٦) ژ: بې شكه په دې امت باندې دالله تعالى تر ټولو غټ نعمت ، دوی ته د حضرت محمد ص پيداښت ، پيغمبر كېدل او دوی لپاره رالېږل دي نو دې ته په پام سره د ميلادشريف لمانځل دنبي كريم دنعمت دشكراداكېدل او دثواب ترلاسه كولو يو سبب وگرځيد.

ج: عَنْ أَنَسٍ قَالَ: عَقَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ و سَلَّمَ عَنْ نَفْسِهِ بَعْدَالنُّبُوَّةِ (بيهقي: ج١٤:ص٢٥٤)

ژ: له حضرت أنس(رض) روايت دی چې رسول اللّٰه (ص) د خپل ځان څخه عقيقه وكړه , وروسته تر نبوت.

څېرنه: دماشوم په زوكړه باندې حلالې كولو ته عقيقه ويل كېږي او دا شريعت سنت گرځولې او امر يې پرې كړی ،څو د خوشالۍ او شكريې اظهار وشي. (الحاوي للفتاوٰى:توک١-

ژ: له شک پرته دغه"ميلاد"سره ددې چې دبې وزلانو سره احسان پكې دی ،دنبي صلى الله عليه وسلم د محبت , تعظيم او لوړې مرتبې ښكارندويي كوي .

س: اِمام محمد كامل الحنفي رَحِمَهُ اللّٰهُ وايي: اِنّ قِرَائَةَ الْمَوْلِدِ عَلَى الْوَجْهِ الْمَشْرُوْعِ مَمْدُوْحَةٌ شَرْعًا لِاشْتِمَالِهَا عَلٰى تَعْظِيْمِهِ (الفتاوی الكامليه ص ٢٦٣) يعني په تحقيق سره دميلاد لمانځل چې په شرعي طريقه وي شرعا ستايل شوی دی ؛ ځكه چې دا دنبي عليه السلام پر تعظيم مشتمل دی .

شيخ ابن تيمية رَحِمَهُ اللّٰهُ وايي: فَتَعْظِيْمُ الْمَوْلِدِ وَاتِّخَاذُهُ مَوْسِمًا قَدْ يَفْعَلُهُ بَعْضُ النَّاسِ وَيَكُوْنُ لَهُمْ فِيْهِ أَجْرٌ عَظِيْمٌ لِحُسْنِ قَصْدِهِمْ وَتَعْظِيْمِهِمْ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (اقتضاءالصراط المستقيم:ص ٢٩٧)

ژ: دميلاد شريف تعظيم او هغه موسم (كال په كال) گرځول بې شكه دا كار ځنې خلک كوي او په دغه كار كې دوی لپاره ډېر لوی اجر او ثواب دی ، په دې چې دوی درسول الله صلى الله عليه وسلم دتعظيم او درناوی ښه نيت او قصد كړی دی. نو په ډاگه شوه چې ميلاد لمانځونكي دپيغمبر عليه السلام تعظيم كونكي دي او تعظيم كونكي خلک كامياب دي نو نتيجه يې دا شوه چې دقران كريم له مخې ميلاد جوړونكي وگړي كامياب دي. دنبوي احاديثو له مخې دميلاد اثبات

پر میلاد باندې په جلسه او غونډه جوړولو سره ، پـه ډوډۍ ورکولـو ،او داسې نـور چـې دثوابونـو طریقې دي اود خوشالیو ښکاره کول دي.

دځلورو مذاهبو سترو محدثینواو مفسرینو له قوله د میلاد اثبات :

علامه جلال الدین السیوطي رَحِمَهُ اللہُ وایي: میلاد د بدعت حسنه وو (دین کې نوی نبک کار) څخه دی چې کونکي ته یې ثواب ورکول کیږی (الحاوی للفتاوٰی:ج ۲ ـــ:ص ۱۸۲)

ملاعلـي قـاري رَحِمَـهُ اللہُ وایـي: دمـیلاد پـه میاشت کـې مسلمانان پـه همـدې مناسبت محفلونه او غونډې جوړوي او خیراتونه ورکوي؛دمیلاد له برکاتو څخه په دوی باندې لـوی فضـل کېږي (الموردالروی في المولد النبوي :ص۱۲)

امـام قسـطلاني رَحِمَـهُ اللہُ وایـي: دمـیلاد پـه مناسبت مسلمانان تـل جلسـې جـوړوي او میلمستیاوې کوي او خیراتونه ورکوي.(مواهب اللّدنیة:ج ۱ـــ:ص ۲۷)

امام ابو زرعة العراقي رَحِمَهُ اللہُ وایي: دمیلاد غونډې هر وخت ښـه کـار دی، او څنګـه بـه ښه کار نه وی چې خیراتونه ورکول دنبي کریم ص دراتګ له خوشالۍ سره یو ځای شي په دغـه مبارکه میاشت کې ؟(تشنیف الأذان:ص ۱۳٦)

علامه شمس الدین السخاوي رَحِمَهُ اللہُ وایي:اهل اسلام همیشه دمیلاد پـه میاشـت کـې په ټولو سیمو او لویو ښارونو کې دمیلاد جلسې جوړوي او په ثوابونو کې زیاتوالی راولي، پـه دوی باندې دمـیلاد لـه برکتـه عمـومي فضـل کېږي.(سبل الهـدٰی والرشـاد في سیرة خیرالعبـاد:ج ۱ ـــ:ص ۳٦۲)

امام ابن جماعة رَحِمَهُ اللہُ وایي: زه چې په مدینه طیبه کې وم مـا بـه پـه مـیلاد النبـي کـې میلمستیاوې کولې او خلکو ته به مې خیراتونه ورکـول ، او کـه وس مـې لـرلای نـو مابـه دا تولـه میاشت هره ورځ میلاد جوړولای.(النعمة الکبرٰی علی العالم:ص ۲٤)

شیخ ابن تیمیه رَحِمَهُ اللہُ وایي: تعظیم د "میلاد" او هغه موسم(کال په کال) ګرځـول پـه تحقیق سره بعضي خلګ یې کوي، او په دغه عمل کې د دوی لپـاره سـتر اجرونـه دي (اِقتضـاء صراط المستقیم:ص ۲۹۷)

امام محمّد ابن یوسف الصالحي الشامي رَحِمَهُ اللہُ وایي: دمیلاد غونډې جـوړول ، دنبـوي صفتونو شعرونه ویل ، او خیراتونه ورکول جـایز دي ، دا هېڅکلـه حـرام نـه دي . (سبل الهـدٰی والرشاد:ج ۱ـــــ:ص٤٤٤)

شیخ وصي أحمد السورتي رَحِمَهُ اللہُ (محشّي النّسائي) وایي: بېشکه بدعت پنځـه(۵ډولـه دي: واجبه، مستحبه، حرامه، مکروهه، مباحه. د بدعتِ مستحبه له جملې څخـه یـو هـم مـیلاد جلسې دي او دامام نووي استاذ امام ابو محمد مشهور په ابو شامه شافعي هم دغسې ویلي دي (نسائي جـ۱ـــ:ص۳٥٦ ـــ:حاشیه۱)

مخ۱۸۵) نـو رسـول اکـرم خپـل مبـارک مولود پر عقیقه ولمانځـه سربېـره پـر دې چې دا دویم ځل عقیقه ده ، ځکـه چـې دده نیکه "عبدالمطلب" دده د زوکړې پر اوومه (۷) ورځ دده عقیقه أداء کړې وه.

اِمـام السـیوطي(رح)   پـورتنی روایـت دمـیلاد لمـانځې لپـاره اصـل ګرځولی ، وایي : وَقَدْ ظَهَرَلِيْ تَخْرِيْجُهَا عَلٰى أَصْلٍ آخَرَ وَهُـوَ مَـا أَخْرَجَـهُ الْبَيْهَقِـيُّ ... فَيُسْـتَحَبُّ لَنَـا أَيْضًـا اِظْهَـارُ الشُّـكْرِ بِمَوْلِدِهِ بِالْاِجْتِمَاعِ وَاِطْعَـامِ الطَّعَامِ وَنَحْـوِ ذَالِـكَ مِـنْ وُجُـوْهِ الْقُرْبَـاتِ وَاِظْهَـارِ الْمُسَرَّاتِ(الحاوي للفتاوٰی:ج ۱ـــ ص ۱۸۸) بېشکه ماته ددغه مـیلاد تخـریج پر یو بل اصل باندې هم ښکاره شـوی دی ، چې امام بیهقي روایت کـړی دی لـه حضرت انـس رض څخـه چـې نبـي علیه السلام قرباني وکړه له ځـان څخـه وروسـته لـه نبوتـه . سره ددې چـې دده نیکـه "عبـدالمطلب" دده د زوکـړې پـه أوومه(۷)ورځ دده څخه عقبقه کـړې وه او عقبقه دوهم ځل نه را ګرځي، نو دغه فعل چې رسـول الله صـلّی الله علیـه و علـی آلـه وسـلّم کـړی دی دا اِظهـار د شکر دی پر دې خبره چې الله(ج) دی دټول مخلوق لپاره رحمت پیداکړ ،او امت ته یې دا وښودله چې چې دنبـي کریم ص پر پېدایښت باندې دشکرېې اظهار جایز دی ، لکـه رسـول اکـرم ص به چې پر خپل ځان باندې درودشریـف ویلـو ددې لپـاره چـې امـت تـه تعلـیم ورکړي (چې درود پرې ووایي) نـو مـونږ ته مستحب ده دشکر اظهار کول ، دده

علامه فتح اللهّٰ البناني رَحِمَهُ اللهُّٰ وايي: هر كال د نبي عليه السلام دمبارک ولادت له ورځې سره سم ، خيراتونه ورکول، نيک کارونه کول ، دخوشالۍ اظهار کول ، بې شكه دغه عمل دميلاد كونكي په زړه كې دپيغمبر عليه السلام دمحبت او دهغه تعظيم اظهار دى .(الرسائل الخمس للسندي:ص٢٧٣)

علامه ابن حجر العسقلاني رَحِمَهُ اللهُّٰ وايي: په كار دى چې دهمدغې ورځې ميلاد اهتمام وشي چې دحضرت موسى عليه السلام له كيسې سره موافقت راشي او كه په همدې ورځې ميلاد ونشي پرواه نلري چې دهمدې مياشتې په هره ورځ ميلاد ولمانځل شي . (النعمة الكبرٰى على العالم:ص٢٤)

علامه ابن جوزي رح وايي: هميشه دحرمينو اوسيدونكي او دمصر ، يمن ، شام ، او دمشرق او مغرب تولو ښارونو كې ددميلاد النبي جلسې جوړيږي او خوشالي كوي نو په دغه عمل سره دغه خلک لويې كاميابۍ ته رسيدلي دي او ددغه ميلاد ځخه دا تجربه شوي دي چې : ډيروالی دخير او بركت ، سلامتيا ، رزق پراخوالی ، دمال اولاد او دوستانو ډيرښت او په ښارونو او بازارونو كې امن او په كليو او كورونو كې سكون وي دا دميلادالنبي صلى الله عليه وسلم له بركته (المولد الشريف: ص ٥٨)

علامه زرقاني رح وايي:مسلمانان دميلاد په مياشت كې غونډې جوړوي ، قسما قسم خيراتونه كوي او په ميلاد باندې خوشالي كوي ؛نو په دوی باندې دالله تعالی بركتونه وريږي(شرح المواهب اللدنية:ج -ص ١٣٩)

السيّد محمد ابن علوى المالكي رح وايي: لنده دا چې دميلادالنبي جلسه يو عادي كار دى خو دهغو نيكو چارو ځخه حسابيږي چې ډيرې ګټې له ځان سره لري. (كتاب:مفاهيم يجب أن تُصحّح:ص ٣١٠)

العلامه الحافظ أبوشامه الشافعي رَحِمَهُ اللهُّٰ وايي: د اربل په ښار كې خداى دې وساتي ، هركال دنبي عليه السلام دزيږيدنې له ورځې سره سم ميلادونه جوړيږي ، خيراتونه او خوشالی كيږي په دې سره پر فقيرانو احسان او هم د رحمة للعالمين پيغمبرعليه السلام د محبت اظهار كيږي. (الباعث علٰى انكارالبدع والحواث:ص ٣٨)

علامه كوثري الحنفي رح وايي:ميلاد خو د ذكر غونډه او صدقه وركول او دنبي كريم ص مدح او درناوی دی ، ؛همدغه شيان دشرعې مطلوب دي (مقالات الكوثري: ص ٤٠٥ـــ٤٠٨)

امام جزري رَحِمَهُ اللهُّٰ وايي: نو چې ابولهب كافر چې قران كريم يې ذم ويلی ، هغه ته دنبي كريم ص دولادت په شپه دخوشالۍ كولو له امله ددوزخ عذاب سپكيږي نو دداسې مسلمان به څه حال وي چې مؤحد وي ، پيغمبر ص امتي وي او دهغه په ميلاد باندې خوشالی او صدقې وباسي ؟ (عرف التعريف بالمولدالشريف:ص ٣٣)

علامه ابن كثير الدمشقي رَحِمَهُ اللهُّٰ د هغه باچا په اړه چې ترټولو اول يې ميلاد غونډه جوړه كړې وه وايي: دغه پاچا به په ربيع الاول كې دميلادالنبي ډيره لويه غونډه جوړوله ، له دې سره سره دغه پاچا يو غيرتمند ، شجاعت خاوند ، قهرمان ، هوښيار ،عالم او نياومن (عادل) شخصيت و ، الله تعالى دې رحمت پرې نازل كړي او خداى دې دده قبر دعزت ځاى وګرځوي. (البداية والنهاية:ج ١٣ - :ص ١٣٦)

شيخ محمد ابن عبدالغفار الشريف الكويتي رح وايي: دمخلوقاتو سردار(ع) په ميلاد باندې جلسه جوړول يو مستحب عمل دى ،او دجمهورو علماوو له نظره يو ښه بدعت دى .(موقع الدكتور الشريف:رقم : ٤٣١) علامه اِسماعيل حقي الحنفي رَحِمَهُ اللهُّٰ وايي: دنبي كريم ص له تعظيم ځخه يو هم دميلاد النبي لمانځل دي ، په دې شرط چې دشريعت خلاف كار پكې نه وي. (تفسير روح البيان:ج ٩ ـــ:ص ٦٨)

امام رباني مجدّد الفِ ثاني سرهندی رَحِمَهُ اللهُّٰ وايي: په ميلاد شريف كې قران كريم تلاوت سره نعتونه ، مناقب بيانول ... هيڅ تاوان نشته . (مكتوبات امام رباني:ص ١٥٧ ـــ دفـــتر٣ : مكـــتوب٧٢)

مولانا اشرف علي تهانوي رَحِمَهُ اللهُّٰ "وايي:ميلاد كې تلاوت ، تقرير او خيرات...كارونه كيږي دا غوره عمل دى (قصص الأكابر لحصص الأصاغر ص ٢٣١) حاجى اِمدادالله مهاجر مكي رحمه اللهّٰ وايي: زموږ لپاره همدومره حجت بس دى ، چې تمام اهل حرمين ميلادشريف كوي.(شمائم امداديه : ٨٧)

مولاناعبـــدالحی لکنـــوي رح وايـي:پـه سـمه طريقـه ميلادلمانځـل د ثواب ذريعه ده (فتاوٰی عبدالحی :ج ۲- ص ۲۸۳)

مفتـي فريـد صـاحب رَحِمَـهُ اللّٰهُ ليکي: که مولود شريف دتبليغي وعظ او نصيحت داجتماع نوم وي نـو جـايز دی او کـه دنبـي عليـه السـلام دولادت نـوم وي نو دا پخپلـه يـو لـوی عبـادت دی . (فتاوٰی فريديه:ج۱ــــ:ص۳۰۸)

حضـرت شـاه ولي الله محـدّث دهلوي رَحِمَهُ اللّٰهُ وايي: زه دميلادالنبي په ورځ په مکه معظمه کې وم ، خلکـو بـه پرنبـي (ع) درودونـه ويـل او د هغـه ارهاصات(ترنبوت مخکـې خـارق العـاده کارونه) يـې بيـانول، نـو مـا وليـدل چې ناڅـاپي انـوارات را وربـدل، مـاچې دې انواراتو ته فکر وکړ نو راته معلومـه شـوه چې دا د(مؤکلينو ملايکو) له لوري دي؛ نو ومې ليدل چې د فرښتو انواردرحمت لــه انــوارو سره ګډاوبدرګــه کېــږي.(فيوض الحرمين:ص ۸۰ -۸۱)

ابـن حجـر الهيتمـي رحمـه الله وايي:دمکې خلکو په دغـه شـپه سترګو ليدلی شعار(نښه)دميلادجلسـي جـوړول دی، دغه راز داندلس او هنـد پاچاهـانو هم دميلاد شانداري غونډې او خوشالۍ کولې. (النعمة الکبرٰی:ص۲۲)

مفتي عزيـز الـرحمٰن (د فتـاوٰی دارالعلـوم ديوبنـد والـه) وايـي: دمـيلاد جلسې جوړول چې له ناروا بدعاتو څخه خالي وي جايز ؛بلکې غوره او مستحب عمل دی .(امدادالفتاوٰی:ج ٦ ــــ:ص ۳۱۳) دغه راز دنړۍ نوري ستري علمي ستې د مـيلاد پـر اسـتحباب غړيـدلي دي، لکـه : شـاه اسـحاق محـدّث دهلـوي، علامـه عبـدالغني حـمادة السوريائي، علامه نصيرالدين ابن الطباخ، علامه ابن عبدالرحمٰن الکتّاني، علامـه عبدالحليم محمود الأزهري, مولانا محمد قاسم نانوتوي (دديوبند باني)، محمد أحمد(دديوبنـد مهـتمم) ، حبيب الرحمٰن (نائب مهتمم ديوبند) , مولانا محمود ،مولانا محمد حسن اونور.

علامه يوسف ابن اسماعيل النبهاني رَحِمَهُ اللّٰهُ د شعر په ژبه وايي:

يَامَوْلِدَ الْمُخْتَارِ أَنْتَ رَبِيْعُنَا = بِكَ رَاحَةُ الْأَرْوَاحِ وَالْأَجْسَادِ
يَامَوْلِدًا فَاقَ الْمَوَالِدَ كُلَّهَا = شَرَفًا وَسَادَ بِسَيِّدِ الْأَسْيَادِ

(حجة اللّٰه على العالمين:ص ۲۳۸)

ای دغوره پيغمبر مـيلاده ، تـه زمـونږ پسرلـی يـې - پـه تـاسره روحونـو او بـدنونو تـه راحت حاصلېږي

ای ميلاده ! په ټولو ميلادونو دشرفت له مخې لوړ يې - او دنـورو ميلادونـو سردار يې پـه خاطر دسردار د سردارانو.

دميلاد النبي صلی الله عليه وسلم شپه تر نورو شپو غوره ده !

امام قسطلاني ، امام طحطـاوي، شـيخ عبـدالحق محـدث دهلـوي، امـام زرقـاني او امـام نبهاني رحمهم الله او نور ډېر امامان او محدثين... په دې خبره په يوه خوله دي چې ټولې شپې دفضيلت څښتنې دي خو تر ټولو ډېرې لومړی دپيغمبر عليه السلام دمولود شپه ، بيا دقدر شـپه ، بيا اسراء اوالمعراج شپه ، بيا دعرفې شپه ، بيا دجمعې شپه ، بيـا دشـعبان دپنځلسي۔ شـپه ، او بيـا داختر شپه امام قسطلاني رحمه الله يې داسې پخلی کړی: دپيغمبر عليه السلام دميلاد شپه په دريو دلايلو سره دليلة القدر پر شپې باندې غوره ده:

لومړی :دليلة القدر شپه رسول اکرم ص ته ورکړل شوې ده اودميلاد په شپه رسول الله ص زېږېدلی ، نو په کومه شپه چې درسول اکرم ص زوکړه شوې تر هغې شپې غـوره دی چـې رسـول الله ص ته ورکړل شوې ده،په دې کې هيڅ نزاع نشته ،فلهذا له دې اعتباره دميلاد شپه تـر ليلـة القدر شپې غوره ده .

دويم : دليلة القدر شپې عظمت که له دې پلوه وي چې ملايکې رانازلېږي نو دميلاد شـپې ته دغه شرف په برخـه دی چـې دالله جـل جلالـه محبـوب حضرت محمدصلی الله عليـه وسـلم کاېناتو ته راغی. جمهور اهل السنة پـر دې خـبره پـه يـوه خولـه دي چـې دمـيلاد دشـپې هسـتي (رسول اکرم ص) د دليلة القدر ترهستيانو (فرښتې) ډېربولندوی دی . نو له دې امله دغه شپه پـر ليلة القدر شپې غوره ده. دريم : دليلة القدر په ورکړې سره محمدي امت ته فضيلت ورکړل شوی دی او دميلاد په ذريعه ټولـو موجوداتـو تـه فضـيلت ورکـړل شـوی دی او نبـي کـريم ص رحمـة للعالمين رالېږل شوی دی نو پر دې بنسټ دميلاد شپه پر ليلة القدر شپې غوره ګرځيدلې .

اوباما : طالبـان له منځه نه شو وړلی ....!!

(بت شکن)

یـو وخـت د(۲۰۰۱ز) کـال داسـې بووګنـونکې ورځـې شپې وې، چې دامریکا دغغه وخت مستبد ولسمشر (ډبلیو بش)او دپینټاګون مشرچارواکی یا ددفاع وزیر (ډونلډ رمزویلډ)چې هوا کې یې د(B۵۲)الوتکو له شـل زره مـتر نـه ګزمې کولې او تر شا یـې دناټوپوځیـانو او ګـردو کفـري لښـګرو بدرګـه کولـه، دخبرې چینلونو،اوټولنیزو شبکو له لارې یې ویل چې نور طالبـان دتـاریخ پاڼـه شوه!؟ اونور ددوئ زور اوبه شوی ،دوئ به بیا منظم نشي او نه بـه بیـا دغـرب وارداتي ولسواکۍ ته کوم ګواښ پیښ کړي ،هلئ له سمځو اوسوړو نـه یـې را وباسئ اوزمونږ ځواکونوته یې وسپارئ ،هلئ چې یو طالب هم درنـه پـاتي نشي- ،القاعده او ددوئ حامیان (طالبان) به رانه دهیواد په یوه کـونج وکنـار کـې هـم پـاتي نشي- او راتلـونکې کـې بـه دوئ مـونږ تـه کـوم جـدي خطـر نشي- او ...او....او....

دنړیوال استعمار خونکارو لښکرو داسلامي امارت سرښندونکي غازیان او داسلامي امت سرشاره زمریان ځینې   شـهیدان ،ځینـې دګوانتنـامو زنـدان کې زولانه او ځینې یې دبګرام ،جلال آباد،کندهاراو نـورو وحشـتناکو زنـدانونو کې اسیران کړل ،او ځینو نورو دهجرت اوبیا جهاد لاره ونیوه .

هاغه وخت دځینو خلکوسره هم داسې حدسونه وو، چې خدای ج خبر! چې بیا به هم طالبان کله په یوه متوازن قـوت بـدل شي او بیـا بـه هـم دغرونـو او شیلو نه کلیو اوښارونوته راکوز اویو مـنظم ځـواک بـه تـرې جـوړشي ،نرهغـه و،چې دامریکا لمنه نه یې نیوله اوځانته یـې پکـې ځـای پیـدا کـاوه ،خـو دالله ج سنت بیا بل ډول وو،هغه غوښتل چې دخپلو مخلصو بندګانوصفونو کـې تزکیـه او تفکیک وکړي ،مخلص او غیر مخلص سره جلا کړي اودا کوچنی ټولګی پـه ستر پاورطاقت بیا غالب کړي.

دخلکو دتصوراتوخلاف طالبـان بیـا منظم ،پیاوړې اوجهادي قوت یـې دومـره غښـتلی شـو، چـې بـالاخره دامریکـا ولسمشر (بارک اوبا ما)په یوه کنفـرانس کې ومنله، چې امریکا طالبان لـه مینځـه نشي- وړلای او نـه یـې قـوت کمـزوری کولای شي !!!

دا نو هغه تـریخ اعـتراف دی ،چې نوموړې له ډیرو پوځي سوقیاتو اوتجربو څخـه وروسـته وکړ،(.بـارک اوبامـا) مخکې هم دخپلې ولسمشرۍ په لومړیو کې افغانستان کې دامریکایې پوځ شمیر نـږدې (۱۰۰۰۰۰)یـو لکـو تـه لـوړ کـړ ،مختلـف تکـړه امریکـایي جـنرالان او پوځیـان یـې وازمویـل او هـره حربـه یـې وکاروله، خـو یـو تکتیـک یـې هـم کـار ورنکړ،چـې پایلـه داشـوه، چـې تیـر (۲۰۱۵)ز)کـال یـې اعـلان وکړ،چـې راتلـونکی (۲۰۱۶ز)کـال کـې بـه امریکایان له افغانستانه وځي او یـوازې (۸۴۰۰)کسه به پاتي کیږي، چې هغه بـه هم دخپلو نظامي بارکونو اودیپلوماتیکي

اماکنوساتنه کوي او دطالبانوخلاف جنګ کې به طرف نه وي ،صرف وړیا مشورې به داخلي عسکرو ته ورکوي او ددوئ مالي مرسته به کوي ،خو اوس چې راتلونکی (۲۰۱۷ز) جنوري میاشت کې دامریکا بل ولسمشر- (ډونالډټرمپ)سپیني ماڼۍ ته په راتلو دی او (اوباما)نور رخصتیږي، نونوموړي هغه څه نړیوالو ته څرګند کړل، چې دوئ یې داوریدلو تمه او هیله نه درلوده ،دوئ چې نه یې غوښتل ،چې دخپل پوځ ضعف باندې یې عموماً نړیوال او خصوصاً امریکایان خبر شي ،په غیر مترقبه توګه یې د(فلوریدا ایالت په مک دیل) هوایي ځواک اډه کې په خپلوخبرو کې دطالبانوپه پوځي ځواک ډاګیز اعتراف وکړ .

د امریکایي رسنیو د راپور له مخې، ښاغلي اوباما د متحدو ایالتونو د اعلي سرقوماندان په توګه د ملي امنیت په اړه په خپله وروستۍ وینا کې وویل«د امریکا له هلوځلو سره سره په دغه جنګ ځپلي هیواد کې حالات لا هم بې ثباته دي. نه غواړم چې ګلورین تصویر وړاندې کړم، د افغانستان حالات لا هم سخت دي. له څه باندې(۳۰)کلونو راهیسې- جګړه د افغانستان د خلکو د ژوند برخه ده. امریکا په دغه هیواد کې طالبان یا جګړه له منځه نه شي وړلی..... اوباما، چې د فلوریدا ایالت په مک دیل هوایي ځواک اډه کې خبرې کولې، همدارانز وویل«خو څه چې موږ کولی شو، هغه د القاعده د پناهځایونو له منځه وړل او د هغو افغانانو ملاتړ دی، چې ښه راتلونکې غواړي، له همدې کبله موږ نه یوازې له خپل پوځ سره په دې کار کړی بلکې په کابل کې مو د ملي یووالي د حکومت ملاتړ هم کړی دی...

دامریکا دمشر ددې څرګندونو څخه داسې ښکاري ،چې دافغانستان په باره کې دامریکا په سیاست کې فوق العاده بدولون راغلی او لکه دافغانستان په مورد کې دنوي ولسمشر (ټرمپ) دخاموشۍ نه چې ښکاري ،امریکا به نور خپل عسکر افغانستان کې پرینږدي او نه به نور خپل پوځیان پدې تاواني جګړه کې په طالبانو ووژني ،ښایې دسپیني دنوي مشرتابه دپالیسۍ نه (بارک اوباما)همدا انګیرنه کړې وي ،نو ځکه یې دخپل واک په وروستۍ وینا کې دطالبانو په پوځي او سیاسي قوت او په وړاندې یې دامریکایانو دناکامۍ نه پرده پورته کړه او دخپل هیواد دیپلوماتیکي نزاکتونو ته په نه کتو یې طالبان یو غښتلی ځواک او ددوئ دله منځه وړلوپه هکله یې خپله ناتواني څرګنده کړه .

یا خویوخت دامریکایانوداستبداد او زور هنګامې وي ،چې دخلکوغوږونه به یې دالوتکوشور او ځوړ کنټرول او یادادی، دامریکادماتې او دطالبانو داستحکام او فتحې انګازې دي، چې دوخت دامریکا دیوه ولسمشر له خولې نه غځونې کوي او خپل ولس ته طالبان یو غښتلی ځواک معرفي کوي .

دکارپوهانو له نظره ربښتیا هم ، طالبان نن دنړیوال سیاست په جغرافیه کې یو سیاسي او نظامي ځواک دی ،هیڅوک او هیڅ سترطاقت نشي کولای، چې له پامه یې وغورځوي او یا یې دماتولو کوشش وکړي ،تر کومه چې دطالبانوپالیسۍ اوتګلورې انګیرنه ده، هغه داده چې دوئ غواړي ،چې خپل هیواد کې اسلامي نظام حاکم کړي ، داسلام بیرغ جګ کړي او له هیواده خارجیان وباسي ،یو آزاد او خپلواک افغانستان رامینځته کړي او ټولو قومونو اوقبایلو ته پکې متوازې برخه ورکړي ، داسلامي امارت خط مشي- ده، چې له امله یې پر ځان ډول ډول ستونزې وګاللې او اوس یې هم ګالي او ددې مقاصدو دترلاسه کولو لپاره دخپلو وینو نذرانې وړاندې کوي !

ربه راوله لښکر د ابابیلو!

عابد

خدایه! دا ولس څومره مظلوم دی، څومره وکړېده، څومره وځورېده، لابه ترڅوځورېږي نورهم؟!

هره ورځ ویردی، هرخبر دتیري اوتجاوز دی اوله هرې مطبوعاتي وسیلې دافغانۍ تورسرې دفریادچیغې دي .

هرچا په هرنامه اوهرلباس کې هر راز نادودې پرې وکړې، هیچا رحم پرې ونه کړ، بلکې هرجاني او حاسدپرې خپل هوس،خپله کینه اوغوسه سړه کړه.

دغه مظلوم ولس دی چې دهرجابر له لاسه یې تېروي اولاس تړلی ناست دی .

لومړی پرې داشتراکي اوکمونستي وحشت لنډغرو داپل کولو تجربه وکړه او دظلم اوبربریت نه هېرېدونکې افسانې یې پرې تاریخ ته وسپارلې، بیا هغوی چې ځانونه یې دجهاد اومقاومت سرخېل بلل، په همداسې پاکو نومونو یې وشپېلاوه، اوس دغرب دیمکراتانو اودحقوقودمدعیانو! رحم اوکرم ته پاته دي .

دهغوی درحم اوکرم په پناکې یې داحال دی، چې هرجاني اوبولهوس دحکومتي لباس او مقام په خپلولو سره پرې سترګې سرې کړې اوله هر راز شرم اوحیاپې ځان خلاص کړی، ځکه چې دلته سړی په ستر جنایت ستر مقام ګټي.

خدایه! دامظلوم ولس دکوم جرم سزا ګالي ؟!
دناداری اونیستي بلاخو لا پخوا ترستوني نیولي دي، چې لایې دهوس مستانو او وینه زبېښونکو مفترسه انسانانو سزاهم په سرپاته ده اوداځلورمه لسیزه ده چې ددوی توبه نه قبلېږي اودزماني جبر یې هم مستضعفین نه بولي .

ربه! نوریې په حال رحم!

ربه! نورپرې مهربان شه!

ربه ! راوله لښکردابابیلو!

ربه ! محوه کړه دظلم دا لښکرې!

دزده کړې خوږ

کتور او درس ورکوونکی مجلس

باهر حقپال

یوه ورځ موږ له خپل زړه سوانده ښوونکي سره ناست و، یو سړی چې د کالیو رنګ یې زیات سپین او د ویښتو یې خورا تور و له لیري را څرګند شو، که څه هم اوږد مزل یې پای ته رسولی و، خو د مزل هېڅ اغیز تري نشوای څرک کې دای، سپیڅلتیا او پاکۍ یې موږ ته له ورایه عملي درس را کاوو چې ښوونکیو ته له هرڅه وړاندي د سیرت او صورت سپیڅلتیا اړینه ده، دئ داسي ناشنا را څرګند شو چې موږ کې هیچا نه پیژندی خو پر دې سربیره اشنا ښوله زموږ ښوونکي سره زنګون په زنګون جوخت کیناستی، لاسونه یې په زنګونونو -څنګه چې ښوونکي سره ښایي- کیښودل او زموږ له ښوونکي یې پوښتنې پیل کړي ویل یې:

اسلام را وپیژنئ! او تري خبر مې کړئ؟

ښوونکی : اسلام په دې پنځو شیانو کې نغښتی او همدې ته اسلام وایې:

۱ _په زړه کې باور او په ژبه اعتراف لرل چې له الله جل جلاله پرته بل څوک د عبادت وړ نشته او محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله لخوا د احکامو رسولو له پاره را لیږل شوی پیغمبر دی.

۲ _پنځه وخت لمونځ کول.

۳ _د فرض شوي زکات تاکلي اندازه مستحقینو ته ورکول.

۴ _د روژې د میاشتې روژې ساتل.

۵ _د شتمنۍ او جوړښت پر مهال د بیت الله شریف حج کول.

زموږ ښوونکي چې ځواب پای ته ورساوو مسافر پوښتونکي ور غبرګه کړه: ریښتیا دې و ویل.

موږ ځکه هېښ شولو چې زیاتره وخت پوښتنه کول د زده کونکي، ځواب او د ځواب سم ناسم ښودل د ښوونکي دندنه وي!!

مسافرپوښتونکی :ایمان را ته تشخیص کړئ؟

ښوونکی :پر الله جل جلاله، د هغه پر ملائکو، د هغه په کتابونو، د هغه په رسولانو، د قیامت په ورځ او په ښه او بد چې له تقدیر سره سم تر سره کیږي، باور کولو ته ایمان وایې.

پوښتونکی :ریښتیا مو و ویل خو احسان را وپیژنئ؟

ښوونکی :همدا احسان دی چې د الله جل جلاله عبادت داسي ترسره کړي چې ګواکي هغه جل جلاله ویني او که شوني نه وي بیا داسي چې هغه جل جلاله دې هرو-مرو ویني.

پوښتونکی :له قیامته مې خبر کړئ چې کله به وي؟

ښوونکی :په دې پوښتنه کې پوښتنکی او ښوونکی دواړه یو برابر دي څنګه چې پښتونکی نه دی خبر ښونکی هم نه دی خبر.

"خو په یاد لرئ چې دا پوښتنه بې ګټې نه وه بلکې دې پوښتنه کې یې موږ ته وښودل چې څوک د څه شي په اړه درځخه و پوښتي او تاسي تري ناخبره يئ، له واره پوښتونکی خبر کړئ چې نه پري پوهيږو."

پوښتونکی :ښيه! چې کره وخت يې نه دی څرګند نښې خو به يې وي، نښې يې راته په ګوته کړئ؟

ښوونکی :له لويو نښو يې دا دي چې:

۱ _کومې مورکۍ چې کوم بچی زيږولی وي هغه بچی به له مور سره د بادار او وينځې خوی کوي، مور به وينځه ګڼي او په هيڅ ارزښت به ورته نه وي قائل.

۲ _هغه پښې يبله د ګډو-بزو څرونکي به د مانيو پر دنګوالي او ځو پوړيزه کولو وياړي، د دنيا حرص به په مخه کړي وي.

دا خوږو ګټور او له درسه ډک مجلس هغه وخت پای ته ورسيد چې سپيڅلی او هوښيار پوښتونکی بېرته وستنيد.

زه څه وخت د ماجرا خوړلنتيا فکر له ځان سره وړی وم چې ښوونکي غږ کړ: عمره! (رضي الله عنه) پوښتونکی دې و پيژند؟

عمر رضي الله عنه: د خدای رسوله! (صلی الله عليه وسلم) نه و مې نه پيژندی، خدای جل جلاله او د هغه رسول پوهيږي.

محمد صلی الله عليه وسلم و ويل: هغه جبرائيل عليه السلام و، تاسي ته ستاسي د زده کړي له پاره راغلی و.

د مسلم او بخاري شريف د يو اوږد حديث چې متن يې لاندي راوړل شوی، ژباړه ده سره لږڅه وضاحته چې فتح الباري څخه اخذ شوی.

متن الحديث

عن عمر بن الخطاب رضي الله عنه قال : بينما نحن جلوس عند رسول الله صلى الله عليه وسلم ذات يوم ، إذ طلع علينا رجل شديد بياض الثياب ، شديد سواد الشعر ، لا يرى عليه أثر السفر ، ولا يعرفه منا أحد ، حتى جلس إلى النبي صلى الله عليه وسلم فأسند ركبته إلى ركبتيه ، ووضع كفيه على فخذيه ، وقال : " يا محمد أخبرني عن الإسلام " ، فقال له : (الإسلام أن تشهد أن لا إله إلا الله وأن محمدا رسول الله ، وتقيم الصلاة وتؤتي الزكاة ، وتصوم رمضان ، وتحج البيت إن استطعت إليه سبيلا) ، قال : " صدقت " ، فعجبنا له يسأله ويصدقه ، قال : " أخبرني عن الإيمان " قال : (أن تؤمن بالله وملائكته وكتبه ورسله واليوم الآخر ، وتؤمن بالقدر خيره وشره) ، قال : " صدقت " ، قال : " فأخبرني عن الإحسان " ، قال : (أن تعبد الله كأنك تراه ، فإن لم تكن تراه فإنه يراك) ، قال : " فأخبرني عن الساعة " ، قال : (ما المسؤول بأعلم من السائل) ، قال : " فأخبرني عن أماراتها " ، قال : (أن تلد الأمة ربتها ، وأن ترى الحفاة العراة العالة رعاء الشاء ، يتطاولون في البنيان) ثم انطلق فلبث مليا ، ثم قال : (يا عمر ، أتدري من السائل ؟) ، قلت : "الله ورسوله أعلم " ، قال : (فإنه جبريل أتاكم يعلمكم دينكم) رواه مسلم.

يادونه: د حديث راوي -چې پورته په "موږ/زه" سره تري تعبير شوی- عمر رضي الله عنه دی، پوښتونکی جبرائيل عليه السلام او ښوونکی سترلارښوود محمد صلى الله عليه وسلم دی.

کلورینې پاڼې

ورک جانان

بهار مستغفر

نن خو مې بیا پر زړګي ورک غوندي جانان وربرې
اوس به یې کوم غره کې پر تور اور بل باران وریږي

د باران څاڅکي دي راځي د لېمو بر لندوي
خو له لېمو نه مې بیا اوښکې پر ګریوان وربرې

نور به یې څنګه کړم تشریح خو درته دومره وایم
بس لکه چاته چې پر ځان باندي خپل ځان وربرې

سختې یخنی دي خدایه روح مې داسي خوښ وساته
لکه لمبو کې چې خلیل باندي ګلان وربرې

دټول امت د روح { بهار} دی دا یو ستړی زلمی
دا نو د ډېرو پر ارواؤ په ایمان را اوري

د هجرت دیار : نېټه. / شنبه/ ۱۰/ ۳/ ۱٤۳۸ هـق

غزل

مشفق حریت مل

زموږ په سر سودا روانه ده خو موږ ناخبر
کیسه خرابه ده له خپلوانه ده خو موږ ناخبر

مونږه دې ومرو په سلګونو هیڅ خبره نه ده
وینه زما څو مره ارزانه ده خو موږ ناخبر

په دې وطن کې له غربته څه نادودې وشوې
مګر د خان غَلّه پرېمانه ده خو موږ ناخبر

ددې ولس هره شیبه شیبه په غم ککړه
خو پاچا تک شین له خندا نه ده خو موږ ناخبر

څه د فیل غوږ کې مو ژوندون دی څه ساده خلک یو
نړۍ اوس بل ډول روانه ده خو موږ ناخبر

هغه سړي راته په دروغو قسمونه کوي
یوه خبره هم رښتیا نه ده خو موږ ناخبر

د پردي شاته پلان د مرګ مخامخ مینه کوي
زما دښمن دومره ناځوانه ده خو موږ ناخبر

چې مسلمان په کې تعقیب وي کافر خلاصې تښي
دا پاچاهي بس بې ایمانه ده خو موږ ناخبر

مشفقه تږی یم د سولې، ازادۍ او امن
ژوند مې په دې هیله ستومانه ده خو موږ ناخبر

د حلب شهیدان

 # کوچۍ احمدزۍ

نن په حلب کې شهیدان پراته دي
ډېر نازولي سره ګلان پراته دي

په سپین کفن کې په سرو وینو رنګ دي
په خوب ویده تنکي ګلان پراته دي

خدایه ته صبر ورته زر میلمه کړې
د میندو غېږ کې په ارمان پراته دي

میندې په چیغو چیغو رب ته ژاړې
ورته په خوا کې مړه بچیان پراته دي

له پرهرو نو یې سرې وینې ځاځې
د حلب ښار کې ډېر ټپیان پراته دي

نه یې څوک شته چې یې پوښتنه وکړي
ټول بې اسرې او بې پرسان پراته دي

ولې نن چپ دي د انصاف استازي؟
چې هره خوا کې شهیدان پراته دي

نن په حلب کې د قیامت نښې دي
انسانان مړه لکه چرګان پراته دي

لارې کوڅې ټولې په وینو رنګ دي
په درد اخته ټول بې درمان پراته دي

ربه! "کوچۍ" له تانه رحم غواړي
په وینو رنګ ښایسته ګلان پراته دي

د جهاد کور

نسیم جمشید

دین په سرو باندې ګټې داسې زلمي اوسي
دا د زمرو کور دلته زمري اوسي

شکر اباد یې هر سنګر دی
دښمن خوړلی پکې سر دی
غرو او رغو کې طالب جان د تور پټکي اوسي

د خزان هیلې پکې مړې دي
د بهارو خوږې ورمې دي
دلته غاټول او ګلابونه پسرلي اوسي

زورګیر خو تل پکې راګیر وي
د زلمو دام کې مو اسیر وي
کلک یې عزمونه دي لښکرې عمري اوسي

نسیمه ښکلی په جومات دی
د جهاد کور د غزا باب دی
خوند به لا نور کړې چې په غېږ کې ازادي اوسي

غزل

محمد غني څاروان

موږه د مینې په سیالي کې تر اسمانه رسو
ځان سوځوو موخه مو دا چې تر یزدانه رسو
ویاړو چې نن مو پروني مجنون ته ماتې ورکړه
له دې بریا سره به یو ځای تر رضوانه رسو
موږ مینان د عشق په لار کې پولې نه پېژنو
د عشق د لارې لاروي به تر جانانه رسو
پتنګ یوازې خپل بدن په لمبو وسوځوي
موږ ځان، رقیب په سوځولو تر رحمانه رسو
هغه کاروان به تر جانانه څنګه نه رسېږي
چې له څاروان سره په مینه تر سبحانه رسو

دتاریخ په پاڼه

د ایوبي صلاح الدین رَحِمَهُ ٱللَّهُ جهادي ژوند او کارنامې

داسلامي تاریخ د نومیالی فاتح او سر لښکر صلاح الدین ایوبي پوره نوم صلاح الدین یوسف بن ایوب دی، نوموړی په ۱۱۳۸ز کې ددجلې سیند پر غاړو د پروت هېواد(عراق)په مشهور ښار تکریت کې زیږیدلی و، د پلار نوم یې نجم الدین ایوب و څوک چې دکرد قوم له سردارانو څخه و، هغه (نجم الدین ایوب) دصلاح الدین دزوکړې وروسته شام ته لاړ شواو هلته دسلطان نور الدین زنګي له لوري دبعلبک (لبنان) والي مقررشو ، په دې توګه دصلاح الدین ایوبي او دهغه دورونو ل مړی روزنه په بعلبک کې پیل شوې.

دیادونې وړده چې کردان دایران، عراق ،شام او ترکیې په پولو کې میشت دي په همدې وجه هغو سیمو کردستان وایي .

لومړی ژوند:

صلاح الدین ایوبي لومړی ددیني علم زده کړې پیل کړې او له ماشومتوبه دلمانځه پابند و، زلمیتوب ته په رسیدو یې پوځي روزنه پیل کړه ،ډېر ژر یو زړور او هوښیار جنګیالی څرګند شو،په اوولس کلنۍ کې پلار یې دمشق ته بو ته هلته یې د نور الدین زنګي په لښکر کې شامل کړ

د صلاح الدین ایوبي لومړی جنګې سوبه:

هغه مهال په مصر دفاطمي خلیفه العاضد حکومت و، هغه خپل وزیر شاور له دندې لرې کړ او په ځای یې ضرغام وزیر وګوماره، داچې شاور دسلطان نور الدین زنګي دوست و، د هغه مرستې ته یې لښکر وستاوه ، دلښکر مشر۔ دصلاح الدین ایوبي تره سعد الدین شیرکوه و، صلاح الدین هم دهغه سره یوځای و، د ۱۱۶۴ز په جنګ کې صلاح الدین ایوبي خپله زړورتیا او میړانه وښوده ضرغام ته په شکست ورکولو یې شاور دوهم ځل لپاره وزیر مقرر کړ، خو کله چې شاور دنور الدین زنګي سره له کړې ژمنې سرغړونه وکړه صلاح الدین ایوبي بیا دنور الدین زنګي په حکم دمصر۔ په اړوند سیمه (بلبیس) ونیو، په دې سره شاور دخپل وزارت خوندي کولو لپاره دبیت المقدس(یروشلم) عیسایي پاچا المریق اول نه مرسته وغوښته او هغوی په ګډه بلبیس کلابند کړ خو په شام کې دصلیبي سیمو په لور دنور الدین زنګي پرمختګونو عیسایي پاچا د سعد الدین شیرکوه سره جنګ بندیز ته اړکړ اوبیرته ستون شو صلاح الدین او شیرکوه هم شام ته لاړل.

فاطمي خلافت :

د۹۰۹نه نیولي تر ۱۱۷۱زپورې دشمالي افریقا په ګڼو هېوادو مصر۔ فاطمیان واکمن وو

په مصر دویمه حمله:

درې کاله وروسته دمصر۔ غدار وزیر شاور دصلیبي پاچا المریق اول سره نوې لوظنامه وکړه په غبر ګون کې یې نو رالدین زنګي سعد الدین شیرکوه او صلاح الدین ایوبي مصرته واستول هغوی (جیزه)ته ورسیدل هلته یې یوه کلکه کلا جوړه کړه ، بل پلو المریق فسطاط (قاهره) ته ورسید ترمنځ یې جنګ بالاخر دالمریق او العاضد دواړو

ځوکونو شکست وخوړ او شیرکوه دمصر برنیو سیموته لاړ او صلاح الدین ایوبي مخامخ وړاندي لاړ شو او اسکندریه ښار یې فتح کړه کله چې المریق اسکندریه ښار کلابند کړ په دې سره شیرکوه هم اسکندریه ته راغی ، دهغه په راتلو سره عیسائي پاچا (المریق) بیا سوله وکړ ه او بیرته فلسطین ته ستون شو شیرکوه او صلاح الدین هم بیرته شام ته لاړل

صلاح الدین دوزیر په حیث گومارل:

د ۱۱٦۸از په نومبر کې عیسایي پاچا المریق په بلبیس یرغل وکړ او دمسلمانانو ټولوژنه یې وکړه ، سملاسي سلطان نور الدین زنگي شیرکوه او صلاح الدین ایوبي دریم ځل مصر ته واستول ، صلیبي ځواکونو ته په شکست ورکولو قاهرې ته ننوتل ، خلکو ورته ښه تود هر کلی ووایه ، دغه مهال شاور دهغوی دوژلو سل زش جوړ کړی و خو ناکام شو . فاطمي خلیفه العاضد سعد الدین شیر کوه وزیر مقرر کړ - دوه میاشتې وروسته چې هفه وفات شو نو په ځای یې د خلیفه لخوا صلاح الدین ایوبي ته دالملک الناصر خطاب په ورکولووزیر مقرر شو ،نورالدین زنگي هم مصر کې دشیرکوه وروسته صلاح الدین ایوبي دشامي پوځ سرلښکر مقرر کړ

فاطمي خلافت ړنګول:

څه موده وروسته خلیفه العاضد دخپل یوباوري ملګري له لارې عیسایي پاچا المریق نه دمرستې غوښتنه وکړه، خو د هغه قاصد ونیول شو، بل پلو دالمریق په غوښتنه له قسطنطنیې نه یوه سمندرې بیړۍ او داټالیا څخه کومکي پوځیان راغلل دنیل سیند په غاړه (دمیاط) ښارېې کلابند کړ، خو د ا هم شام کې دسلطان نورالدین زنگي په پرمختګونو پای ته ورسول شوه په ۱۱٦۷ازکې صلاح الدین ایوبي د(خلیج عقبه) په ساحل ایله (EIAT) باندې قبضه وکړه په دې سره دمصر او دمشق ترمنځ خنډ صلیبي سیمه هم فتحه شوه ، په ۱۱۷۱ زکې صلاح الدین په مصر کې فاطمي خلافت ړنګ کړ او دعباسي خلیفه (مستضي بالله) خطبه یې جارې کړه

د سلطان نور الدین زنگي مړینه او دصلاح الدین واکمنې:

صلاح الدین ایوبي دنور الدین زنگي لخوا عملاً مصر واکمن و،چې سلطان نور الدین زنگي ومړ ، صلاح الدین دهغه کم عمر ځوی صالح اسماعیل دسلطان په توګه او مانه ، په همدې ورځو کې له صقلیه(SICILY) نه یوه سمندرې بیړۍ تر اسکندریه پورې راغله صلاح الدین ایوبي سملاسي هلته ورسید د درې ورځو جنګ وروسته یې هغوی ته شکست ورکړ.

دمصر او شام سلطان:

داچې سلطان صالح اسماعیل یوکمزوری واکمن و، ددمشق خلکو ارزو دا وه چې صلاح الدین ایوبي د دمشق واکمن شي په دې وجه دصلاح الدین سره دصالح اسماعیل اختلاف پیداشو او دخپلې مرستې لپاره یې خپل تره سیف الدین ور وغوښته ، صلاح الدین هم دخلکو په غوښتنه خپلواکې اعلان کړه او په ۱۱۷۴از کې یې سیف الدین او صالح اسمعیل ته شکست ورکړخو بیا هم صلاح الدین صالح اسمعیل دحلب دواکمن په توګه پریښود د ۱۱۷۴ ز په می میاشت کې دبغداد عباسي خلیفه نوموړي ته دمصر، سوډان،یمن لیبیا، فلسطین او منځني شام حکومتونه ورکړل او ورته دسلطان الاسلام والمسلمین لقب یې ورکړ

دصلاح الدین ایوبي صلیبې جنګونه:

په ۱۱۷۷زکې سلطان صلاح الدین په غزه او عسقلان کې دصلیبیانو په سیمو بریدونه وکړل دیروشلم (بیت المقدس) پاچا

(بالډن څلورم) یې مقابلې ته راغی خو دشکست سره مخ شو، په دې سره هغه دکرک (اردن) دواکمن رینالډ په مشرۍ کې ډېر زیات صلیبیان را ټول کړل اوبیا میدان ته راغی د(رمله) په جنوب کې سخت جنګ وشو چې پکې دصلیبیانو تله درنه وه د۱۱۷۹ می میاشت کې دسلطان وراره عزالدین فرخ شاه دبالډون په وړاندې شکست وخوړ خو یوه میاشت وروسته صلاح الدین ایوبي بالډون ته تاریخي شکست ورکړ د۱۱۸۰

په جون میاشت کې دبالډون او صلاح الدین ترمنځ د دوه کلونو لپاره جنګ بندي وشوه.

په حلب او عراق دصلاح الدین قبضه:

دګائي په نوم یوتن دیروشلم پاچاو، بل پلو دکرک (اردن) پاچا دمصر نه په راتلونکو جاجیانو حملې کولې په دې وجه دصلیبیانو سره بیا جنګ راغی، خو دحلب واکمن صالح اسماعیل دعیسایانو حلیف شو په دې وجه صلاح الدین حلب ونیو او د ۱۱۸۳ ز په جون کې یې دعراق واک هم ترلاسه کړ د ۱۱۸٦از په فروري کې صلاح الدین دکرک په سیمو حمله وکړه او دمکې معظمې نه دبیرته ستنیدونکو حاجیانو دساتنې لپاره یې دځپل لښکر ټولګي ولیږل په دې سره د لبنان واکمن ریمنډ اختلافات شاته کړل او دیروشلم له پاچا سره روغه وکړه.

دحطین ستره سوبه:

نور سلطان صلاح الدین په کلکه دبیت المقدس دازادولو هو ډ وکړ په دې سره تر بیرغ لاندې یې پنځوس زره پوځ راټول کړ د۱۱۸۷از په جون کې دشپږ ورځو کلابندۍ وروسته دعیسایانو دواک لاندې (طبریه) ښار فتح کړ خو کلا فتحه نشوه په دغه دوران کې دبیت المقدس نه راغلي صلیبي عسکر وپه (حطین) نوم میدان کې خیمې لګولې وې د سخت جنګ وروسته صلیبي لښکر شکست وخوړ صلیبي پاچا ګائي اونور صلیبي مشران اسیران شو ل او هم دهغوی مقدس صلیب دمسلمانانو لاس ته ورغی

دبیت المقدس تاریخې فتحه!

دحطین دفتحې وروسته سلطان صلاح الدین دبیت المقدس په لور پرمختګ وکړ، دجنګ څخه وړاندې یې عیسایانو ته وړاندیز وکړ که هغوی وسله په زمکه کېږدي نوزه دهغوی داړتیاوو پوره کولو لپاره پیسې ورکوم او هم په شام کې داستوګنې لپاره ځای ورکوم ،عیسایانو دا وړاندیز ونه مانه صلاح الدین ښارته څیرمه راغی پنځه ورځې دښار په څلور خواوو وګرځید او معلومه یې کړه چې دشمال له لوري د(کنیسه باب) له اړخه حمله مناسب ده هغه و چې منجنیقان یې تیار کړل او د صبا سهار په راختو یې کاڼي ویشتل(سنګ بار) پیل کړل کله چې مسلمانانو د(سینټ ستیفن) په نوم پاټک سره ددیوال لاندې سرنګ وکند دښار صلیبیان مایوسه شول او دامان غوښتنه یې وکړه سلطان ورته وویل: که تاسو سملاسي وسلې وسپارلې او ښار مو مونږ ته حواله کړ نو درباندې مهرباني به وکړم، کله چې ښاریانو وسلې وغورځولې دښار پاټک یې پرانیست او بیت المقدس فتحه شو. نوربیا...

داسلام لومړی خلیفه حضرت ابو بکر صدیق (رض) فرمایي:

علم د پیغمبرانو میراث او شتمني د کافرانو(فرعون او قارون) .

خبر اوسي !چي جهاد پري نږدي ، څکه هر قوم چي د الله په لاره کي جهاد پریږدي، هغه خوار او ذلیل کیږي. په زغم کي هیڅ تاوان نشته او په ژاړه کي هیڅ ګټه.

که غواړئ چي هوسایي مو په برخه شي، نو خپله ژبه د شکایت او ګیلو نه لیري وساتئ.

خوار او بیوزله هغه څوك دي، چي په دنیا کې دوست او ملګري ونلري.

د موراو پلار خوشحالي ،په دنیا کي د نیك بختۍ سبب ګرځي او په آخرت کې د ژغورلو وسیله.

اوښکې د هغې ورځې په تیریدو تویوئ، چې بې ښیګړې مو تیره کړې وي.

د هر شئ د ثواب پیمانه موجوده ده، خو د صبر او زغم د ثواب اندازه نشته.

رښتیا امانت او دروغ خیانت دي

فرهاد اتل

د میډیا محاذ لپاره

د استعدادونو د روزلو اړتیا

معاصر وخت کې میډیا او رسنۍ ځانګړی رول او اهمیت لري، په نړیواله سطحه دمیډیا کردار او تاثیر هرڅوک مني او پرې اعتراف لري، نن سبا دنړۍ په هر هېواد او برخه کې دلې، ټولنې او وګړي زیار کالي چې دوخت له غوښتنو سره سم منظمې رسنۍ او فعاله میډیا ولري.

په اسلامي نړۍ کې هم یوشمیر خلکو او ټولنو لخوا کوښښونه کېږي چې دحالاتو سره سم میډیا یې پروګرامونه او منظمې رسنۍ رامنځته کړي چې په دې لړ کې تر ډېره حده هغوی په منظمه بڼه پروګرامونه ،داسلام او مسلمانانو ددفاع لپاره یې خپرونې دستاینې وړدي.

څنګه چې دوخت په تیریدو او دحالاتو په بدلون سره دابلاغ او اعلام په وسایلو کې نوښتونه او بدلونونه رامنځته کېږي داسلام مبارک دین پخپلو لاربښوونو کې مسلمانان هڅوي څو دابلاغ وسایل ترلاسه او دخپل ددین او ځان ددفاع لپاره تري کار واخلي.

په وړاندې زمانه کې له یوښاره بل ته خبرونه دکوترو او قاصدانو په واسطه په میاشتو او اوونیو کې رسیدل خو په نن پرمختللي دور کې دساعتونو ، دقیقو، او ثانیو په څنډ کې استول کېږي.

دنوې پرمتخللي تیکنالوجۍ په وجه له یوبل سره دانسانانو داړیکو نیولو نوي شکلونه رامنځته او جوړ دي چې په کې یو شکل دخواله رسنیو(سوشل میډیا) دی په کوم کې چې په وروستیو څو کلونو کې حیرانوونکی پرمختګ راغلی تردي پورې اوس ویل کېږي چې خواله رسنیو او شبکو پخپل تیز پرمختګ سره بریښنایې میډیا ته شکست ورکړ څکه پخوا دبریښنایې میډیا یا رسنیو چې به هرڅه خوښ وو هغه یې خپرول او کوم څه به یې چې خوښ به نه وو دهغو له خپرولو یې ډډه کوله خو خواله رسنیو هر څه دومره اسان کړل چې اوس څوک بربښنایې میډیا ته حاجت نلري لکه په ترکیه کې چې پوځ درجب طیب اردوګان دحکومت نسکورلو کودتاه وکړه خو په لنډ وخت کې اردوګان او د ترکیې خلکو دخواله رسنیو (فیسبوک، تویټر، وایبر واتساف) له لارې دپوځ بسته کودتاه دناکامۍ سره مخ کړه اوثابته شوه چې نن ورځ دخلکو خبرولو او راپورته کولو لپاره بربښنایې میډیاته حاجت نشته بلکې دخلکو دپوهولو او خبرولو کار چې څومره په اسانه او منظمه توګه

دخواله رسنیو له لارې کېدای شي اومره دبرېښنايي میډیا لـه لارې نشي کېدای او نه نور برېښنايي میډیا ته خلک ډېر جاجت لري.

حقیقت دادی چې دنوې ټیکنالوجي په دوره کې هم هـر کار منفي اومثبت دواړه اړخونه لري دخواله رسنیو ترټولو منفـي او خطرناک اړخ دادی چې تري ملحدین او داسلام دښمنان دیـوې قوي وسیلې په توګه کار اخلـي دهمـدې لارې داسـلام، اسـلامي اقدارو سپکاوی کوي او مسلمانان په تشکیک کـې مبتلـی کـوي ددې هدف لپـاره یـې پـه خوالـه رسـنیو کـې ځـانګړي انټرنیټـي ګروپونه جوړکړي هغوی په منظمه ډول داسلامي لاربښـوونو پـه اړه مسلمانان په تشکیک او ډول ډول نورو بې لاریـو او مغـالطو کې مبتلی کوي .

بل پلو ستونزه داده چې نړۍ کـې مسـلمانان هغسـي چـې ورته اړتیا ده په دغه محاذ کې فعال شتون نلري او تراوسه په دې کشمکش کې ښکېل دي چې ایا په خواله رسنیو کې دوی کـډون کېدای شي او که نه؟ که ګډون او ونـډه اخلـي بایـد څـومره وي؟ حال داچې کوم خلک چې دخوالـه رسـنیو پـه جـال کـې نښـتي هغوی ددین دسالم فکر پیژنـدلو لـو لپـاره وخـت نلـري هغـوی دکتابونو لوستلو وخت نلري بس یواځې په خواله رسـنیو کـې چې کوم وچ او لامده مواد مومي هغه لولي او پرې باور اویقـین کوي چې په سبب یې ددین په نوم بې دیني زده کوي .....

هو! ضرور یوشـمیر اداري او تـولنې شـته چـې هغـوی پـه خواله رسنیو کې مـنظم او ګټـور پروګرامونـه پـرمخ بیـا یـې او دشریعت دحکمونو او لاربښوونو سـره سـم خپـل مسـؤلیت ادا کوي چې رښتیا هم دهغوی کردار او کار دستاینې وړ دی لـیکن دهغوی شمیر په اوړو کې دمالګې برابر دی دا تشه یواځې دهغوی په شتون او کار نه ډکېږي بلکې په دې میدان کې نورو خلکو تـه هم ضرورت دی چې هغـوی د دې کمـې پـوره کولـو لپـاره خپـل صلاحیتونه صرف کړي او نورو خلکوته ترغیـب ورکـړي څـو هغوی هم نوي استعدادونه وروزي.

دیته په پام اسلامي پوهـان وایـي : ددې لپـاره چـې دخوالـه رسنیو اهمیت او تاثیر په ډېره تیزۍ سره پراختیـا مـومي بایـد په دې محاذ دکار او خدمت لپاره په کارپوه مسلمان استعدادونه وروزل شي په خاصه توګه د دیني مدرسو په تعلیمي نصاب کـې دخواله رسنیو دتخنیکي معلوماتو تـدریس تـه ځـای ورکـړای شي او که په نصاب کې ځای ورکول شونی نـه وي بیـا دتعلیمـي نصاب څخه علاوه دکورسونو پـه شـکل دخوالـه رسـنیو سـره ددیني مدرسو دطالبانو اشنا کولـو پـه غـرض ځـانګړي تدریسـي کورسونه برابرول دوخت اړتیا ده څـو پـه هغـو کـې طالبـان و پوهو ل شي چې په خواله رسـنیو دالحـاد او کفـري افکـارو پـه وړاندې مبارزه په څه ډول کېدای شي او په دې سـربیره هغـوی په خواله رسنیو کې ددینـي کـار پـه اهمیـت پوکـول د الحـاد او کفردفکري یرغل په وړاندې داستقامت روحیه ورکول پکار دي

ښکاره ده نن سبا ټول کفري ملت لګیا دی دمسلمانانو دېې لارې کولو لپاره پریمانه حربې دسیسې او سیلې کاروي په خاصه توګه دخواله رسنیو څخه زیات کار اخلي دمسلمانانو عقیدوي او نظریاتي پولې رنګـوي او هـم یـې جغرافیـوي حـدود پایمـال او اشغالوي په دې وخت کې اړتیاده چې داسلامي نړۍ دننه دوحدت روحیه پیاوړې کړای شي ځکه نن د مسلمانانو د اتفاق او یو والي ضرورت دی نو بناً دخواله رسنیو محاذته پاملرنه پکار ده دینـې حلقې او ټولنې باید پکې منظم کارونه پـرمخ یوسـي او لـه لارې مسلمانانو ته درانه راتلونکي پیغام ورسوي څو هغه ځـوان چـې نن دخواله رسنیو په منفي او خطرناکو لومو نښـتی دانحـراف او الحاد په لور بیول کېږي ازاد اونجات مومي ...

همدرد

صحافت او ادب

صحافت عربي لفظ دی، د[صحف] نه ماخوذ یعنې اخیستل شوی، لغوي معنی یې کتاب، مجله، رساله، یا ورځپانه ده، یعنې هغه چاپي مواد چې دیو ټاکلي ځنډ وروسته خپرېږي صحافت بلل کېږي.

دپښتو په نسبت دصحافت اصطلاح په فارسي او اردو کې ډېره رایج او کارول شوې او په انګریزي کې ورته ژورنالزم ویل کېږي کوم چې د [ژرنل] نه اخستل شوی معنی یې ده ورځینی حساب یا روزنامچه...

دډېرو په اند دصحافت جامع تعریف کول ګران دی،د ځینو پوهانو او استادانوله لوري دصحافت لپاره دیوجامع تعریف مندلو کوښښونه شوي لکه په اسلامي دایرة المعارف کې دصحافت دغه پورته تعریف او مفهوم درج دی .

په نوي عربي کې چې د ورځپاڼې لپاره دجریدې اصطلاح کارول شوې دصیحفې مترادف ده، البته دواحد په صورت کې کمه اراغلې او دجمع په صورت کې د [صحف] کې استعمال په نسبت سره [جریدې] ته عام دی داردو دایرة المعارف په دریم ټوک کې دصحافت تعریف په لاندې ډول شوی:

دورځپاڼو، مجلو او خبري منابعو لپاره دخبرونو مندل او په هغو(خبرونو) بیا تبصرې لیکلو او نورو ته صحافت وایي.

بل لورته دا هم ښکاره ده چې د صحافت تاریخ هغومره پخوانی دی څومره چې دبشر- تاریخ پخوانی دی لیکن دتیرودرې پیړیو را دېخوا دبېلا بېلو پړاونو نه په تیریدو صحافت دیوجلا فن بڼه مندلې.

دیته په پام سره دصحافت لپاره نوی تعریف په لاندې ډول شوی:

دنویو ابلاغي او اعلامي وسایلو له لارې عامه معلومات، عامه رایه او تفریحي مطالب په پرله پسې او مستنده توګه خپرو لو ته صحافت وایي.

دځینو نورو په اند: صحافت یو هنر دی، یوفن دی یو داسې فن چې په هغه کې تخلیقي صلاحیتونه کارول اړین وي.

عموماً خلک صحافت داداب څخه جلا بولي خو په حقیقت کې صحافت دادب یوه برخه دی؛ ځکه دادب او صحافت ترمنځ یو څرګند نسبت دی، لکه: د دواړو ځینې امور یوتربله مشترک دي او هم د دواړو بنسټیزه موخه ابلاغ ده، محقق برنارډ شاه وایي:

پرمختللی ادب په حقیقت کې صحافت دی، زماني قرب او تازه ګي دصحافت روح دی، دځینو نورو په نظر هم پرمختللی ادب صحافت دی، پخوا زمانه کې صحافت او ادب له یوبل سره لازم ملزوم و ، دځینو پوهانو په اند: صحافت دخدمت نوم دی او ادب ډټولنې دپوهاوي او اصلاح نوم .

اردو ژبې لیکوال مولانا ظفرعلي خان لیکلي:

دصحافت څخه زما هدف صحافت ندی بلکې دقوم او هېواد خدمت دی، که هغه په یومخ مضمون لیکلو سره راځي

او که د ۱۹مخونو یا ۳٦ کالمونو په لیکلو سره؛ زه دومره اوږد مضمون لیکلی شم، او خامخا یې لیکم ځکه زما موخه دخلکو او ټولنې خدمت دی غرض داچې دهېواد او خلکو خدمت لپاره صحافت یوه ښه لار ده .

دهندي مسلمانانو د ازادۍ رهبر،وتلی ادیب او لیکوال مولانا ابولکلام ازاد وايي:

صحافت دولسونو ویښولو اودهغوی پوهاوي لار ده، دتجارت او پیسو ګټلو زریعه نه... دصحافتي ارزښتونو په اړه دنوموړي دیوې لیکنې اقتباس لولو:

دې با زار ته مونږ په ګټې پسې نه یو راغلي؛ بلکې دزیان او تاوان په تلاش پسې سرګردان یو؛ له چا نه دافرین او شاباسیواخستلو په تمه نه بلکې دسپکو سپورو اورید ل غواړو! دعیشونو او راحتونو لپاره ګلبڼونه نه لټوو بلکې دځانود اضطراب او زحمت لپاره په ازغیو پسې ګرځو ... زما په عقیده کومه ورځپاڼه چې له خلکو او یا کومې ډلې نه دخپل کار په بدل کې پیسې ترلاسه کوي هغه [ورځپاڼه] دصحافت په لمن دشرم تور داغ ده، مونږ ته د ورځپاڼه لیکونکو او چلونکو مرتبه او مقام ددېنه لوړښکاري دامر بالمعروف او نهي عن المنکر د لویې فریضې سرته رسوونکي یې بولو باید د ورځپاڼه لیکونکي قلم دهرډول فشار نه ازاد وي او ورته سره اوسپین وژونکي زهروې، کومې ورځپاڼې چې دښتمنو خلکو او بداې ډلو څخه پیسې ترلاسه کوي او په مختلفو حیلو او بهانو خپل ضمیرونه او دایمان رڼاګانې پلوري دهغوی لپاره غوره داده چې دملنګانو دکچکول په ځای قلمدان په غاړه کړي او دښتمنو او چارواکو په کوڅو کې هرسهار ماښام په ارزانه بیه دځو ناچلو سیکو په بدل کې دخپل ضمیر او ایمان پلورلو نارې ووهي....!

نوربیا ...

غزل

حاجي محمد اواب

ژاړه تور زړګی دې روڼ ابشار سي
شپه په ستورو ژاړي آن سهار سي

ولاړه مه سه مینه له دې خلکو
مور چې د بچیانو ومري خوار سي

وپیي امیل له خور اولسه
هغه چې تر زړونو ووځي تار سي

اوښکو د مظلوم ته نیسي لپه
هغه به د درست ملت رخسار سي

ستا خیال چې د زړه په ارګ کې ناست وي
ځان راته ښکاره پاچا واکدار سي

اوښکې چې رڼي دي نو له زړه دي
پاک به وي له زړه چې کوم ګفتار سي

مینه یې معنی آدم وی دی
مینه چې څوک کاندي معنادار سي

پوهي اسرافیله شپیلۍ پو که!
مړ ملت دما ګوندې بیدار سي

ستا په نمکیني حسن خو ګله!
ژوند د ملا اواب بیر مزه دار سي

اسلامي امارت د نړیوال دیالوګ پړلور

د روسیې او طالبانودیپلوماسی امریکایان ولې وارخطا کړل؟؟!

(جــرس)

ددې سربیـره چـې افغانـــان روسانو ته دیـوه نـه هیریـدونکې غلیم په سـترګه ګـوري او دخپلـو شهیدانو ،کونډو رنډو او ویجـاړې پره پرې وراچوي ،ځکه (۳۷)کالـه مخکې په (۱۳۵۸ ل)کال دجدي پـه شپږمه نیټه دمخکیني شـوروي اتحاد لښکرو چې ننۍ روسیه یـې د وارث په توګه چـارې سـنبالوي، زمونږ پر ګـران هیـواد وبلوسـیدل د(۱۳۶۷ل) کال ددلوي دمیاشـتې تر (۲۶)نیټې پورې دولس په خلاف یې خونړې جنګونـه وکـړل او بیـا وتلـو تـه اړیسـتل شـول، خـود (۳۷)کـالو لـه تیریـدلو وروسـته ترننـه پـورې یـې دیرغـل تراخـه افغانان ځکي، نو لـه همـدې املـه ترې زمونږ ولس چندان ښه خاطره نه لري ،خودمجاهـدینو دحکومـت دلومړي مشر برهان الـدین ربـاني چې په (۸/۲/۱۳۷۱ هـ ش)ورته نیمه حکومت وسپارل شو، نوپـدې باب یې یـوه سـتره اشـتباه وکـړه اودخپلـــې محـــدودې او تنکـــۍ واکمنۍ په لومړې وهلت کـې یـې دافغان ملت دیونیم ملیون شهیدانو خونکارو قـاتلانو (روســانو) تـه برأت ورکړ اودوئ معاف کړل ،خـو اسلامي امارت بیا دخپلې واکمنۍ د (۱۳۷۵-۱۳۸۰هــش) کلونـــوکې روسـیه دخپـل ولـس دخونکـارو قاتلانو د وارثینو په توګـه پیژندلـه او ترډې چې دروسي کامینویل یـا ټولګټو مؤتلفو هیوادونـوسره یـې ورته سیاست درلود، چـې ژونـدۍ بیلګـې یــې دروســانو دارادواو غوښتنو پرخلاف دچیچن داسلامي هیواد په رسمیت پیژندنه او هغـه مهــال دازبکســـتان سرحدتـــه دطالبـانو پـوځي دسـتو لیـږل او هلتـه مـانورې او سـوق الجیشي- صحنې وي ،خو اوس چـې سـیمې ته امریکایان راغلل ، دایمي پـوځي هډې یې جـوړې کـړي او هـم یـې ددې ترڅنګ دمطبوعاتي راپورونو پر بنسټ دداعش په نوم یوه داسې ډله چې عراق کې دالقاعدې خلاف د غربیانو په لاس جوړه شوي ،لـه عـراق او سـوریې وروسـته اوس ترافغانستان پورې راورسول شـوه او اوس نه یوازې دا چـې افغانـان ترې تشویش کې دي، دروسیې پـه ګډون ترې دمنځنۍ آسیا هیوادونه ټول اندیښمن دي .

روسیه چې هـم کابـل کـې د امریکایانو له تلپاتي شـتون څخـه تشویش لري او هم دداعش دپیدیدې څخه سرټکوي، نـه یـوازې داچـې خپـل نجـات داسـلامي امـارت دوستۍ کې لټوي، بلکـې دسـیمې دهیوادونوسره پرلـه پسـې اړیکـې ساتي ،ترڅو ددې دواړو ناسورونو درملنـه ومــومي او کومـه ښـه

معالجه یې وکړي ،خوله بلې خوا داسلامي امارت سیاسي دیالوګ دخپلو اسلامي او ملي ارزښتونو په رڼا کې بیا پر منطقوي او سیمه ایزو ریښو تکیه کړي ،دوئ په وار وار خپلو اعلامیو کې څرګنده کړي، چې دهیڅ کوم ګاونډي هیواد په کورنیو چارو کې دلاسوهنې اراده نلري ،اوددوئ مبارزه یوازې داشغالګرو سره ده ،داسلامي امارت سیاسي دفتر نه یوازې داچې دروسیې سره داړیکودښه کولو په لټه کې دی، بلکې دنړۍ دټولوهیوادونو سره دسیاسي دیالوګ په دیپلوماسي باور لري او دهغو لویدیځو هیوادونوسره چې هیواد کې اشغال پای ته رسوي ا و دافغانستان دخپلواکۍ درناوی کوي ،هم ددیپلوماتیکو اړیکو پر سیاست دخپلو اصولوپه رڼا کې فکر کوي .

اسلامي امارت دخپلو دوو اصولو په رڼا کې خپله داخلي او خارجي تګلاره طرحه کوي، چې یو یې اسلامي هدایات او بل یې افغاني ارزښتونه اوملي روایات دي، دوئ که دهر هیواد سره ددیپلوماسۍ درغولو پلان طرحه کوي، نو دا به داسلام اوافغانیت په چارچوکاټ کې وي او افغاني دودونه هم داسلام څخه سرچینه اخلي ،چې مجموع کې همدا اسلامي شریعت دطالبانو دسیاسي تګلارې مصدر دی ،او ددې له مخې دهر هیواد سره چې هغه روسیه وي او که بل هیواد وي دخپلې سیاسي تګلارې لارې اهداف مشخص کوي .

دنړیوالو رسنیودراپوروپر بنسټ دطالبانو اوروسانوسیاسي ارتباطات اوسني نه بلکې آن د(۲۰۰۷ز)کال څخه راپیل شوي دي او روسیه چې مخکې به یې دشمالي ټلوالې دمشرانو سره تودې اړیکې پاللې، ددوئ ددې نژدیکت په وجه یې له طالبانو سره دسیاست فاصلې لیرې وې، خو اوس چې پخپله دسپینې ماڼۍ مشر اوباما دطالبانو په څواک اعتراف کوي اوپه وړاندې یې خپله ماتې مني، نو شاید چې دروسانو په شان به نور ډیر هیوادونه داسلامي امارت دوستۍ ته لاسونه راوغځوي او په مجموع کې دا داسلامي امارت په صداقت ،خپلواکۍ او دسیمې ایزو او نوروهیوادونو په اړه دحسن نیت څخه ترجماني ده .

روسان چې داعشیان خپلوکامینوپل هیوادونو ته سترګواښ ګڼي او ترڅنګ یې دې وروستیوکې دروسان دکابل دحکومت په نیت شکمن شوي او پدې باب ترې ددوئ ددوه مخې سیاست په لامل نور نهیلې دي ،ګمان نه کوي چې دکابل اوسنۍ اداره یا امریکایان به دا ډله له منځه یوسي، نو په نابېره توګه یې دا خبره مطبوعاتي کړه او روسیې دیپلوماتانو په علني ډول له اسلامي امارت سره له خپلو زړو اړیکو نه پرده پورته کړه ،چې شاید یوه موخه یې داهم وي ،چې لویدځوالو ته یو پیغام ورکړي اوهم دطالبانو څواک چې له پنځلس کلن چوپتیا وروسته پخپله دامریکا ولسمشر۔ هم ومانه په ډاګه تسلیم کړي.

دې وروستیو کې داسې خبرونه خپاره شوي چې امریکایان او دکابل لاسپوڅې اداره دطالبانو او روسیې اړیکو وراخطا کړي ده او هره ورځ یې رسنیو کې داندیښنو آهونه خپریږي ،که څه هم طالبانو رسماً ددې ذات البیني

روابطو په باب رسنیو ته څه ندي ویلي ،خوکابل لپاره دروسیې دولسمشر ځانګړې استازې (ضمیرکابلوف) څو ورځې مخکې ددې روابطو نه پرده پورته کړه او کابل کې دروسیې سفیر(الکساندر ماتیڅکي) رسماً دا اړیکې تائید کړې ،اودطالبانوسره تعلقات یې دروسانو دنجات لپاره اړینې وبللې ،ددې سربیره چې روسیه اسلامي امارت سره خپلې اړیکې یو سیاسي پر مختګ بولې او په باګه یې وویل : چې نه مو طالبانو ته پیسې ورکړي او نه وسلې ،زموږ اړیکې دطالبانو سره دداعش مخنیوي او دسولې خبرو ته دطالبانو هڅولولپاره دي، خو دکابل اداره او امریکایان ډیر وارخطا دي ،پدې باب دخطر احساس کوي د رویټرز خبري اژانس د راپور له مخې، د افغانستان یوه جګپوړي امنیتي چارواکي د روسیې له لوري د طالبانو ملاتړ یو نوی خطرناک میلان وباله او دا خطر په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو د عمومي قوماندان جنرال جان نیکلسن په شمول شنونکو تایید کړ.

نړیوالې رسنۍ لیکي چې :جنرال نیکلسن تېره اوونۍ په واشنګټن کې خبریالانو ته ویلي و، چې روسیې د طالبانو د ملاتړ لپاره له ایران او پاکستان سره لاس یو کړی او مسکو طالبانو ته په مشروعیت ورکولو کې مخکښ رول لوبوي .

په دې وروستیو کې د طالبانو او روسیې تر منځ د اړیکو خبرونو په کابل کې امریکایي او افغان چارواکي له سختي وارخطایي سره مخ کړي . د طالبانو په وینا دوئ په کابل کې د امریکا په هڅو جوړ شوي حکومت نړول غواړي او پر ځای یې د افغانانو په لاس جوړ شوی داسې حکومت راوستل غواړي چې د اسلام مبین دین او افغانانو د کلتور او عنعناتو نمایندګي وکړای شي.

افغانستان کې د روسیې سفیر الکساندر ماتیڅکي ددې خبرو سپیناوي کې داسې وایي دا یوازې دوی نه دي چې له طالبانو سره اړیکي لري، بلکې امریکا، بریتانیا، جرمني، چین، پاکستان، ایران ، سعودي عربستان او نور هېوادونه هم له طالبانو سره اړیکي لري. خو پوښتنه باید وشي چې په کومه موخه دا اړیکي نیول کېږي؟

نوموړي دغه خبرې په یوه خبري غونډه کې وکړې.

د روسیې سفیر وایي، له طالبانو سره د دوی اړیکې د روسانو د خوندیتوب او ملي روغې جوړې ته د طالبانو د هڅولو په موخه نیول کېږي.

امریکایي او افغان چارواکي د روسیې او طالبانو تر منځ اړیکو په اړه اندېښمن دي.

اسلامي امارت چې دسیمې په کچه یو سیاسي قدرت دی، ددې حق لري، چې دهر هیواد سره چې وغواړې خپلې اړیکې جوړولای شي ،نور ددې وخت په نړدې کیدو دی، چې ډیر ستر ستر حکومتونه به دې ته چمتوالی ونیسي- ،ترڅو له اسلامي امارت سره سیاسي تماسونه ونیسي– اودراتلونکې افغانستان په جغرافیه کې یې پر ځان باوري کړي، پدې باب دامریکا اونورو اندیښنې له زانګونه کتارې غوښتل دي او بس !!

دکابل له اداري څخه

د نهیلیو کچه ولې مخ په لوړیدو ده؟؟!

(هڅاند)

دکابل د اداري په استحکام او پیاوړتیا باندې چې لویدیځې نړۍ او مخصوصاً امریکایانوله خپلې بودیجې نه لوړ لګښتونه کړي او ورته ډیر هیلمن وو، چې ګوندې په باور یې داباغ به ثمر ته ورسي او دوئ به یې په بروکسل او واشنګټن کې تازه میوې وخورې ،اوس دادی ددې خوب تعبیر یې برعکس ختلی اوپه کابل کې دوئ ګوتو رغول شوې اداره ورځ تر بلې له ملت نه دتجرید په ساحل ورګډیږې .

چې د یوې احصائیې له مخې که د پوځ او جګړې د لګښتونو حساب ورسره مل شي، نو امریکا تر اوسه په افغانستان کې(۷۸۳) بلیونه ډالر مصرف کړي ،دا چې یوازې دامریکا لګښت دی که دنورو (۴۸) هغو بدایه هیوادونو لګښتونه راواخلو، چې دامریکا تر مشرۍ لاندې هیوادکې داشغالګرو برخه ده، شاید دحساب دماشین په سکرین کې یې اعداد ځایه نه شي اونه یې شمیرنه ترسره شي.

اوس چې داپیسې هسې په سیند لاهو شوې او دهیواد په ملت جوړونه او دهغوعام المنفعه تاسیساتوپه تولیدي او صنعتي پروژو ونه لګول شوې، چې له امله به یې افغانستان سمسور اوشاداب وی ،ځنګه چې ددې پیسو زیاته برخه شخصي جیبونو ته تللې او یا په شراب ،کباب او قمار لګول شوې، نو ولس دقهر په څپو شوی اودخپلو وفاداریو تنابونه یې دچارواکیو سره شکولې دي .

که چیرته ددې راټولو شویو بسپنونیمایې ۵۰٪ یې هم په ټولګټو پروژو لګول شوی وی، نو نن به ملت له چارواکیواو دولتمندانو راضي وی اودخپلې ښې او رنې راتلونکې هیلې به یې ورسره تړلی وی ،خو نن خبره بلې خوا روانه ده او دافغانستان نږدې ۷۰ ٪ وګړي دکابل داوسني حکومت څخه نا راضه دي او آن په ناکام یې بولي او دهرې ورځې په تیریدو یې نهیلې ډیریږې .

اوس چې افغانستان هم دنورې نړۍ غوندې په اصطلاح دولسواکۍ او دیموکراسۍ سره داشنا کیدو په قفس یا پنجره کې بند دی او که ولسونه یې مني او یا یې نه مني، نو اشغالګر ورته خامخه دلویدیځ ماډل ولسواکي ارمغان کوي ،په غربي دیموکراتیکو ټولنو کې هرکال دخپلواکیو ټولنو یا آزادو ادارو لخوادواکمنو او مسلط نظام نه درضایت یا عدم رضایت سروې ګانې ترسره کیږي اوددې لارې نه دوئ خپله دا احصائیه درسنیوله لارې اعلانوي ،افغانستان کې هم دنظرپوښتنې یا سروې ترویج عام شوی، نو ځکه دادی (دآسیا فاونډیشن)دکابل دحکومت نه دافغانانو درضایت یا نه رضایت په اړه یوه تازه سروې خپره کړې اود Image copyright Asia Foundation Image captionپه دې سروې کې ۲۵ سلنه ښاري او ۷۵ سلنه کلیوالې سیمې تر پوښښ لاندې راوستل شوې دي .

د اسیا بنسټ (ایشیا فونډېشن) په خپلې نوې سروې کې ویلي؛ له ۲۰۱۳ کال راوروسته په افغانستان کې د ناهیلیو لړۍ روانه ده او په ۲۰۱۶ کال کې یوازې نژدې ۳۰ سلنه خلکو ویلي چې هېواد یې پر سم لور روان دی.

دغه بنسټ زیاته کړې؛ تر ۲۰۰۴ کال راوروسته چې ایشیا فونډېشن هرکال له دولته د خلکو د رضایت کچه ارزوي، اوسنۍ شمېره ددغه هېواد د خلکو د هیله منديٰ ترټولو ټیټه کچه ښیي.

په ۲۰۱۵ کال کې افغانستان کې ۳٦،۷ سلنه خلکو باور درلود چې هېواد یې پر سم لور روان دی.

ددغه بنسټ په وینا، په ۲۰۱۵ کال کې د خلکو ناهیلي په دغه هېواد کې تر ولسمشریزو ټاکنو وروسته ترېنګلتیاوو له امله وه ، د ایشیا فونډېشن په وینا، ښکاري په ۲۰۱٦ کال کې د ناهیلیو زیاتوالی د امنیت، اقتصاد اود افغانستان دولت لاسته راوړنو ته د خلکو د نظرونو بدلېدل څرګندوي.

ددغه راپورله مخې؛ افغانستان کې خلک پر دولتي ادارو لازم باور نه لري، خو سره له دې او دغه هېواد کې د امنیتي او اقتصادي وضعیت خرابولي ته په کتو بیا هم ډېر شمېر افغانان له اروپایي هېوادونو بېرته ستانه شوي دي.

په دغه ارزونه کې تر ۱۲ زرو ډېرو کسانو ونډه اخیستې چې شاوخوا ۵۲ سلنه یې سړي او ۴۷ یې ښځې دي، د ۱٦ بېلابېلو قومونو له خلکو سره په ۳۴ ولایتونو کې خبرې شوې دي.

په دې سروې کې ۲۵ سلنه ښاري او ۷۵ سلنه کلیوالي سیمې تر پوښتنې لاندې راوستل شوي دي.

Image copyright Asia Foundation Image captionپه دغه راپور کې ویل شوي چې د ځوانانو لویه ستونزه نژدې ۷۱ سلنه بیکاري ده .

په ۲۰۱۳ کال کې د افغانستان له ۵۸ سلنې ډېر خلک په دې باور و چې هېواد یې پر سم لور روان دی، خو سږ کال دا شمېره ۲۹،۳ سلنې ته راټیټه شوې ده. د کابل ښار ۱٦ سلنه اوسېدونکي، د شمال ختیځو ولایتونو ۲۵ سلنه، د مرکزي سیمو ۲٦ سلنه او د ختیځو ولایتونو ۴۱ سلنه خلک فکر کوي هېواد یې سم لور ته روان دی .د خلکو دناهیلۍ دلایل دادي چې : له ۲۰۰۷ کال راهیسې اصلي دلیل چې خلک فکر کوي هېواد یې پر ښه لور روان نه دی، ۴۸ سلنه ناامني ده. ۲۷ سلنه بیکاري ددې کار لامل بولي. ۱۴ سلنه اداري فساد، ۱۰ سلنه خراب اقتصاد او نژدې ۹ سلنه د

دولت له نیمګړتیاوو شکایت لري......

خو ددې ټولو نهیلو او مایوسیو عمده بنسټ هغه چې دې ټولو ته به دپای ټکی ږدي، هغه په هیواد کې دخارجیانو پوځي حضور او داسلامي شریعت عدم نفاذ دی ! که چیرته خارجي عسکر له هیواده ووځي او دمجاهدینو په لاس اسلامي شریعت حاکم شي ،نو دې ټولو ناخوالو ته به دپای ټکی کښیږدي ،داځکه چې حدود به نافذ شي، نو په هیواد کې به غلا، اختلاس ،رشوت ،خونکاري یا وژنې ،زناري کاري ختمې شي ،که کوم څوک بسپنه ورکوي، هغه به هم په شراب او کباب نه مصرفیږي، بلکې بانکونو ته به ځي او په خپل مورد ضرورت مواضعو کې به مصرفیږي، که کوم هیواد بسپنه نه ورکوله، دافغانستان خپل دومره محصولات او ګمرکي عواید شته ،چې دا ټولې ارتیاوې پوره کولای شي، نوبه هم امنیت راشي ، هم به دهر وګړي اقتصاد ښه شي او هم به دبیګانګانودلاس وهنې څخه هیواد محفوظ شي .

چې دولسونو نهیلۍ به پای ومومي او دخوشحالي او مینې فضاء به ددې ګردو ناخوالو ځای ونیسي !

د امریکا د زوال او انحلال شیبې!!

(شاهـــد)

تجربـو ښـودلې چـې کلـه کومـه امپراطوري دخپل استبداد او استکبار له مخـې دافغانســتان غرونــو او درو تــه داشغال په نیت راغلې ، نو پایلـه یـې نـه یوازې په افغانستان کې ددې امپراطورۍ په ماتې منتج شوې، بلکې امپراطورې یې منحـل شـوې اودعـروج لـه اوج څخـه دزوال او ځوړتیـا پـه برخلیـک اختـه شوې، دا نړدې بیلګې یـې تیـره زیږیـزه پیـړۍ کـې (۸۹) کالـه مخکـې لـومړی دانګلیسان دامپراتورۍ انحلا ل او زوال وو اوبیـا شـاوخوا درې نیمـې لسـیزې مخکـې پـه (۱۳۶۷ل) کـال کـې دسرې خونکارې امپراطـورۍ فـاحش شکسـت او نړدې (۱۵) جمهوریتو باندې یې ویش او انحـلال وو چـې اوسـنۍ روسـیه یـې دمیراث په ګدۍ ناسته ده ،بویه د (ډونالډ ترمپ) په مشرۍ نـوې امریکـا بـه هـم دخپلو مخکنیو په برخلیک اختـه شي او دامریکا متحده ایالات به متلاشي او پـه (۵۲) جمهوریتونوبه وویشل شي ،(ددې هیـواد نـوی ولسمشر۔ (ډنالډترمپ) بـه دشوروي اتحـاد (ګورباچوف) غونـدې نور داسـتعمارخوبونه پریـږدي اودده پـه شان به امریکا منحل او دغرور زوال بـه یې پیل شي .

دا هغـــه وړانـــدوینې دي ،چـــې مطبوعاتوتـه دنړیوالوپوهـانواو مجربـو څیـرو لـه خولـو راوځـي او دحقیقـت میـدان بانـدې دپـلي کیـدو لارې شـماري ،نړیوالـو رسنیو د پنجشنبي پـه ورځ د لېندۍ په (۱۸مه، ۱۳۹۵ل) نېټه د سـولې نوبل جایزې نوماند او نـارویژي ټولنپوه «یوهـان ګلټونـګ» پـه حوالـه ولیکـل چې: د امریکا قوت مخ پـه ځـوړ روان دی او د ډونالډ ټرمپ په ولسمشرۍ کـې به د امریکا اوسنی نړیوال ځـواک اوبـه شي.

یوهـان ګلټونـګ پـه نـړۍ کـې د مختلفو سترو تحولاتو په اړه مخکـې لـه مخکـې وړانـدوینې کـړي دي، چـې بیـا سمې ختلې دي. نوموړی هغه شـخص دی چـــې د شـــوروي اتحـــاد د راپرځېـــدو وړاندوینه یې هم کړې وه.

ګلټونګ په (۲۰۰۰)م کال کې ویلي و چې «امریکایي امپراتـوري» بـه د(۲۵)کلونو په اوږدو کې سقوط وکړي. خو کله چې جورج بوش د امریکا انتخابات وګټـل، نـو ګلټونـګ د جـورج بـوش افراطي پوځي پالیسیو تـه پـه کتـو دغـه موده پنځه کاله نـوره هـم رامخکې او د امریکا نړیوال استکبار عمر یې ۲۰ کاله تخمین کړ.

برتـــانوي کـــالم لیکـــونکی او ژورنالیست «نفیز احمد» وایـي چې پـه وروستیو ولسمشریزو ټاکنو کې د ډونالډ ټرمپ له بریا وروسته مې وغوښتل چې د یوهان ګلټونګ نظر واخلم چې اوس د امریکا راتلـونکې تـه پـه کومـه سـترګه ګوري. نومـوړی د ګلټونـګ پـه حوالـه وایـي چـې د ټرمـپ لـه راتـګ سره دا احتمال نور هم زیات شوی چې په نـړۍ کې به د امریکا ځواک تر تـاکلې مـودې مخکې د پای ټکی وومومي.

یوهـــان ګلټونـــګ وایـــي چـــې د امریکا د زوال وړاندوینه یې پـه بـدبینۍ

ولاړه نه ده بلکې د «امریکایي امپراتوری» راپرځېدل لکه د شوروي امپراتوری په شان هرومرو او خامخا پېښېدونکي دي او د امریکا متحده ایالاتو پرځای به د «امریکا جمهوریت» رامینځته شي.....

همداسې نورو نړیوالوسیاست پوهانوهم د ډونالډ ټرمپ په مشرۍ دنوې امریکادزوال او انحلال په ورته ډول وړاندوینه کړې ده ،دوئ پدې باور دي ،چې دټرمپ تشدد آمیز سیاست به ددې سبب شي، چې امریکا لومړی منزوي او بیا په مختلفو جمهوریتونو تقسیم شي، ددې سربیره به یې دزور او ځواک اغیز په نورو پیکه شي او هیڅوک به دې ته نه تیاریږي، چې دامریکا دګټو لپاره جګړه وکړي او ددې دخوشحالولو لپاره پر نورو هیوادنو وبلوسیږي.

د سولې چارو د څیړنې اروپایي پوهنتون اداري رئیس «دیتریچ فیچر» وایي چې کله چې یوهان ګلټونګ د شوروي اتحاد د سقوط وړاندوینه کړې وه ډیرو لږو خلکو ته د منلو وړ وه، خو زیاتوي چې مونږ ولیدل د ګلټونګ له مشخص تخمین دوه میاشتې مخکې شوروي اتحاد راوپرځېد.

په(۱۹۷۸)م کال د ایراني انقلاب، په (۱۹۸۹)م کال په چین کې د تیانمن پاڅون، په(۱۹۸۷، ۲۰۰۸)او (۲۰۱۱) کې د اقتصادي بحرانونو، او د سپتمبر یوولسمې بریدونه د نړۍ په کچه هغه لویې پېښې دي، چې یوهان ګلټونګ یې مخکې له مخکې وړاندوینې کړې او ټولې سمې ختلې دي .

دڅیړونکیو په آند د (ډونالډټرمپ) د سیاست ځینې برخې مثبتې او ځینې یې منفي اړخونه لري او پر مایلو ترجیحاتو اغیز ښندي ،دټرمپ دا پالیسي، چې یوازې دامریکا په جوړولو به انرژي مصرفوي او کوښښ به کوي، چې امریکا وژغوري، نه داچې دنړۍ نور نظامونه بدل کړي او دولسونو لپاره یې نوې حکومتونه جوړکړي اوداسې نورې خبرې دده دمثبت سیاست نه استازیتوب کوي ،ځکه دټرمپ پدې تصمیمونو دنورو خپلواکو هیوادونو په کورنیو چارو کې دمداخلې څرک نه لګي او نه ترې داشغال بوی راځي، خو دنوموړي داخبره، چې دامریکا نه دي (۱۵۰۰۰۰) غیرقانوني مسلمانان ووځي او دنورو هیوادونو مسلمانان به امریکا ته نه راځي دده دمنفي سیاست اړخ دی ،ددې نه یې له مسلمانانوسره دحسادت نښې ښکاري ، خوځنګه چې دامریکا میشتې مسلمانان دامریکا تبعه او ددې هیواد کتله ده، امکان لري، ډرمپ ددې سیاست څخه تنازل وکړي او یایې ښایې داډول دا انتخاباتي کمپاین لپاره شعار ګرځولی وي ،ځکه دهمدې ګواښ نه وروسته ډیرو امریکایانو له ننګونو سره مخ شواو حتی دخپل ګوند غړو پرې هم نیوکې وکړې،خو هغه چې داډ بخښونکې او هیله زیږونکې کې ده، هغه داده چې تراوسه ټرمپ دکابل داداري مشرانو ته دتسلیت او داډ تلفون هم ندی کړی او دافغانستان په قضیه یې خاموشي خپله کړې ده ،که چیرته یې دافغانستان داشغال سره علاقه وی، نو د(بارک اوباما)په شان چې په لومړیو شیبو کې دکابل چاروکیو ته تلفون وکړاود مرستې داډ یې ورکړ،شاید ټرمپ هم داسې کوم تلفون یا بریښنالیک وراستولی وی ،نو دنوموړې چوپتیا افغانان پدې داډه کوي، چې ګوندې امریکایان نور ددې هیواد په اشغال نوي کتنه کوي او خپل عسکر ددې هیواده وباسي .

داوباما)دفلوریدا په ایالت کې ددې هیواد پوځ داعلی سرقوماندان په توګه خپلو امنیتي مشرانوسره دطالبانو په وړاندې دماتې اعتراف اودطالبانو پر قوت تاکید شاید دټرمپ له سیاست سره نږدې تړاو ولري اویا لږ ترلږه نور ددې وخت وي، چې حقایق خپلو خلکو ته څرګند کړي ،خو چې داهرڅه وي او هر هدف وي نتایج به یې وروسته راڅرګند شي دا ټول په مجموع کې دامریکا دماتې او په نړیوالو قضایاوو کې ددوئ ناکام سیاست ښکاره کوي ،هغه وخت به هم ولیدل شي، چې دامریکا امپراتوري هم دشوروي اتحاد او هم پیرنګیانو غوندې منحل اودتل لپاره به ترې دنړۍ مسلمانان خلاص شي!

له افغانستان څخه

د امریکا دوتلو همدا مناسب فرصت!!

(اخندزاده)

دامریکا په متحده ایالتونوکې سیاسي زلزلې اوځپانده توپان اوس امریکایي سیاست پوهان او ډیپلوماتان دې ته اړیستل، چې په علني او بارز ډول دامریکا پوځي او سیاسي مشرانو ته مشوره ورکړي ،چې نور خپل عسکر له افغانستانه وباسي او دملت جوړونې هغه طرحه چې دوئ له ځانه سره له واشنګټن نه راوړې وه، نوره دلته دافغانستان په تجربوي لابرتوار کې دازمیښت او تجربې وړ نده .

امریکایان چې نور دخپلو سیاسي او پوځي مشرانوله اجباري جګړه ایزې خارجي پالیسی او له امله یې دمالي او ځاني زیانونو نه په تنګ راغلي، ددې زغم نلري، چې مزیده بد نامي په نړیوال کچ ورواوړي، نو لومړی یې دهمدې اهدافو دتر لاسه په موخه (ډونالډټرمپ) ته رأیه ورکړه، ګوندې که دایې په ټپ ملهم کیږدي اوددې مقابل حریفه (کلنټن)یې په انتخاباتوکې ددې امله ماته کړه، چې هغې غوښتل چې دمخکنیو سیاسي مشرانو کلاسیکې سیاست پلې کړی او نړی دپخوا په شان دجنګونواو خونړیوجګړو په لمبو کې وسوزوي ، دویم ګام یې دا دی چې وخت پر وخت دخپلو قلمونوپه څوکو او کنفرانسونو له لارې مشرانو ته کلکه سپارښتنه کوي، چې دنوړې نړی په شان له افغانستان نه دعسکرو دایستلو ښه مناسب وخت همدا دی ، چې یو ددوئ څخه (مارک کریزر) د امریکا د بهرنیو چارو د وزارت هغه پخوانی مامور او د ملت جوړوني په څانګه کې د نړیوالو تولنو غړي لیکوال او سیاست پوه دی ،چې امریکایانو ته یې په خپله یوه تازه لیکنه کې ویلي، چې په افغانستان کې د ملت جوړوني پروسه هیڅ لاسته راوړنه نه لري، ځکه نو امریکا باید نور تر دې پروګرام تېر شي او افغانستان پر خپل حال پرېږدي.

نومړي (مارک کریزر)ویلي چې پنځلس کاله وروسته امریکا د ملت جوړوني پر پروسه باندي(۱۱۵) بلیونه ډالره مصرف کړل، (د یوې احصائیې له مخې که د پوځ او جګړې د لګښتونو حساب ورسره مل شي نو امریکا تر اوسه په افغانستان کې (۷۸۳)بلیونه ډالر مصرف کړي)

خو په افغانستان کې په کال (۲۰۱٦) کې حالت دېته راغلی چې امریکا هر څه طالبانو ته بایلي، د امریکا په هڅو چې چې هر څه پرمختګ را منځته شوی، هغه اوس د طالبانو په لاس له منځه ځي، د افغانستان حکومت په کراره کراره نور د فساد له وجې او همداسي د طالبانو له وجي په را پرځېدو دی.

طالبان د کال (۲۰۰۱)راهیسې تر بل هر وخت زیاتې سیمې په خپل کنترول کې لري، د هیواد پر دریمه برخه یې بشپړ واک دی، او په پاتې دوه برخو کې هم د شپې له خوا اکثره سیمې د دوی په ولکه کې وي. د کال ۲۰۱٦ د جنوري میاشتې راهیسي طالبان وتوانېدل چې د پنځو

ولایتونو مرکزونه تهدید کړي، په کابل کې لوی بریدونه وکړي او د هیواد په ټولو ٣٤ ولایتونو کې عملیات تر سره کړي چې هره ورځ یې د بریدونو اوسط ٦٨ بریدونه وو.

په نتیجه کې افغان ځواکونو په یوه کال کې (١٥٠٠٠)تلفات ورکړل، (٥٠٠٠) ملکي تلفات دي، په هیواد کې تر(١،٢)ملیونه زیات افغانان له کوره بې‌ځایه شول، د کال (٢٠١٦)په اولو شپږو میاشتو کې(٨٥٠٠٠)کسانو د اروپا په لور هیواد پرېښودو ته زړه ښه کړ.

د نومړي په وینا د طالبانو تر څنګ د افغانستان په ختیځو ولایتونو کې داعش را څرګند شو، د افیونو تولید د تېر کال په نسبت ٤٣) سلنه زیات شو، تر اوسه په مالي لحاظ د جګړې او فساد لپاره هر څه امکانات موجود دي.

د نړیوال بانک د(٢٠١٦)کال د راپور سره سم په افغانستان کې ټولنیز او مالي لاسته راوړني ١٥ کاله وروسته په چټکۍ سره د جګړې او فساد له امله له منځه تلونکي دي. لیکوال زیاتوي: اکثره امریکایانو په افغانستان کې جګړه هېره کړې او نه هم غواړي چې په اړه یې څه واوري او نه هم په افغانستان کې د جګړې د قیمت څخه معلومات لري چې د امریکایانو د ژوند او اقتصاد په زیان تمامیږي.

لیکوال وایي همدا وخت دی چې د امریکا نوی ولسمشر په افغانستان کې خپله لاره بدله کړي او امریکایانو ته نوي اهداف واضح کړي.

تر ١٥ کلنۍ ناکامي جګړې او پروګرام وروسته باید د امریکا لپاره نوې لاره له افغانستان څخه د پوځونو ایستل وي او په ملکي سطحه باید د «ملت جوړونې «پروسه ودروي، کوم چې هم قیمتي تمامه شوې او هم یې هیڅ لاسته راوړنه نه ده لرلې.....

دیری امریکایان پدې نظر دي ،چې نور باید ژر تر ژره له افغانستان څخه امریکایي چارواکي خپل عسکر وباسي او دافغانستان جګړه نوره ددوئ لپاره زیان رسوي ،چې ژوندۍ بیلګه یې د(بارک اوباما) انتخاباتي کمپاین او مبارزه وه، چې نومړي دامریکا له ولس څخه په همدې ژمنه رأیه واخسته چې له افغانستان او عراق څخه به خپل عسکر وباسي او د(ګوانتانامو) بدنام زندان به بندوي ،خو کله چې سپینې ماڼۍ ته ننوت ،بیایې ټولې ژمنې تر پښو لاندې کړې او په یوه وعده یې هم چندان وفا ونکړه ،ددې خبرې نه جوت معلومات کیږي ،چې نه یوازې دا چې دامریکاپوهان ،سیاستمداران او دیپلوماتان یا نور لوستي قشربلکې په ټولیز ډول ددې هیواد دولس عام اکثریت نور نه غواړي، چې امریکایي عسکر دې افغانستان کې پاتې شي او دوئ دې دیوه اشغالګر پوځ په نامه هلته ولس وژنه وکړي او عسکر دې ووژل شي ،ددوئ غوښتنه او مشوره خپلو سیاسي او پوځي مشرانوته داده: چې نور دنړی ولسونه پرېږدئ چې خپل آزاد ژوند وکړي او ستاسو دنده او هغه چې پرې مکلف یاست ،هغه دامریکا ساتنه ده ، نه دنورو حکومتونو او نظامونو اصلاح او بدلون !

افغان ولس چې نور دامریکایانو له مداخلې نه تر پوزې پورې راغلی ، په وازګومې دامریکا له نویو مشرانو څخه په جدي ډول غواړي، چې خپل پوځونه مو له هیواده وباسئ او مونږپرېږدئ چې دخپل برخلیک پرېکړه پخپله وکړو،نه درنه پیسې غواړو ،نه درڅخه دملت جوړونې پروسه کې مرسته غواړو او نه نور ستاسو یرغل په خپله خاوره راته دزغم ور دی .

په پای کې دامریکایي سیاست پوه او دیپلومات (مارک کریزر)خبره یو ځل بیا دامریکاپوځي او سیاسي چارواکیو ته ورغبرګووچې : «همدا وخت دی چې امریکا له افغانستان څخه ووځي!!!

افغانستان کې د رشوت او بډو اخیستلو هیښوونکی لوړ ګراف !!

(شاهد حقاني)

افغانســتان کــې داداري فســاد، رشوت ،بډو اخستلواو اختلاس ګراف لـه تیروکلونولوړ شوی او دیوې نظر پوښتنې له مخې هر کـال افغانـان دري میلیـارده ډالر چاروا کیو ته په بـډو او رشـوت کـې ورکـوي ،چــې درشــوت دا ګــراف ډیــر حیرانونکی اودڅار ډلې یې ګوته په غاښ کـړي دي . د(افغانسـتان د روڼتیـا څـار بنسټ) د موندنو له مخې؛ تر نـاامنۍ او بیکــارۍ وروســته، فســاد لا هــم د افغانستان د خلکو لویه ستونزه ده.

دا نظرپوښـتنه د افغانسـتان پـه(۳۴)ولایتونو کـې تـرسره شـوې او نـژدې (۸۰۰۰) کسانو پکې برخه اخیستې ده.

ددې سروې پــایلې فســاد سره د مبارزې نړیوالې ورځې (ډسمبر ۹مه) یوه ورځ وړاندې د قوس/لیندۍ په ۱۸مه په کابل کې د یوې خبري ناستې په ترڅ کې خپرې شوې.

تر نیمایي کمـو کسانو چـې ورسره خبرې شـوې دي، فساد یـې لیـدلی او د هغه راپور یې ورکړی، خو ډېر خلک بـاور لري ،چې دا کار کومه ګټه نـه لـري او د فساد په له منځه وړلو یا کمېدو کې هېڅ اغېز نه لـري، ځکـه چـې هغـوی ډېـر لـه عدلي او قضایي ادارو سره ستونزه لري.

ددغــې نظرپوښــتنې نــږدې (۷۰) ســلنه ګــډونوالو، محکمــې، قاضــیان او څارنوالان فاسد بللي دي.

پوښـتل شـویو کسـانو ویـلي؛ دغـو ادارو ته یې چې د تګ اړتیا پېښـه شـوې، نو(۵۵)سـلنه مـواردو کـې تـرې رشـوت غوښتل شوی.......

له نیکه مرغـه چـې افغانسـتان یـو اسلامي هیواد دی او میشـت وګـړې یـې نږدې (۹۹٪)مسلمانان دي ،ټول ملتونه او ولسـونه پکـې دوروښـو غونـدې اوسـیږي ،داسلام دمبـارک دیـن تـه دزړه لـه تلـه وفادار دي ،رشوت یـا بـډې چـې نـه یـې اسلامي روح اجازه ورکوي ،نه په اخلاقـي لحــاظ کــوم ښــه کــار دی او نــه یــې دافغانانو ملي عرف او روایـات دټـولنې ایجابیات اوکلتوري صبغه بولي، بلکې پـه ټولوجهتونو کې مردود او منفور کـار دی ،عقـلاً هـم یونـا مانوسـه چـاره ده او لـه همدې امله ده چې څوک رشوت اخلي، هغه یـې هـم ډیـر پـټ او پداسـې شـکل اخلي، چې بل څوک پرې خبر نشي ،که دا بډې اخستل رښتیا هم کوم مشروع کار وی، نـو بویـه چـې بیـا خـو یـې ښـکاره اخستل ضرور و، نه پټ او په غلا ترلاسـه کول ،رسول الله صلی الله علیه وسلم هـم پـه بـډې خـور اوبـډې ورکـونکې بانـدې لعنت ویلی دی، لکه دمشکاة المصابیح پدې حدیث کې چې راغلـې : عـن عبـد الله بن عمرو قال : لعـن رسـول الله صـلی الله علیه و سلم الـراشي والمرتشيـ . رواه أبو داود وابن ماجه .

نوبډې اخستل چې عقلاً، شرعـاً او اخلاقـاً یـو نـا مشرـوع او کثیـف او نـا سپیڅلی کار دی، نو دافغانستان غوندې یـوه هیـواد کـې چـې عـامې پرګنـۍ یـې داسلام له لومړنیوڅخه مسلمانان دي او نږدې دا (۳۸)کاله شاوخوا داسلام لپاره دسرونو نذرانې ورکوي اوداسلام په مبین دیــن عاشــقان دي، خــو بیــاچې دیــوه دیموکرات حکومت دتسلط له املـه کلـه په رشوت اواداري فساد کې دریـم مقـام ،کله څلورم او پینځم مقـام اخـلي اوکلـه

خو يې دادی هرکال ميشت ولسونه دخپلو حقوقو دترلاسه کولولپاره مجبوراً هرکال چارواکيو ته(۳۰۰۰۰۰۰) درې ميليونه ډالر ه رشوت او بډې ورکوي ، رښتيا هم دډيرتأمل ،درک او افسوس ځای دی او دخپلو شهيدانو، يتيمانو او کونډو په وړاندې دخجالت مقام دی .

داسې عيني واقعيتونه او خبرونه هم مخې ته راغلې، چې دښاروالی، ،گمرک ،بريښنا ،انکشافي ادارو اونوروعايداتي پروژو په پوستونو باندې دتقرر خپل خپل قيمت او پيسي معلومې دي ،دهربست اوڅوکۍ ايډوانس اومياشتينی باج ټاکل شوی وي، څوک چې پدې بست کې مقررېږي، نو پورتنې ذيصلاح مشرچارواکې ته به په تقرر يوه اندازه پيسي او بيا به ورته دامقرر شوی رئيس ،مدير اويا آمر، هره مياشت يوټاکل شوي اندازه پيسې ورکوي ،او دابې ترمينځ پروټوکول شوي وي، چې ددې نه په غير يې مقرري نا شونې ده ،حتی دعينې شاهدانو په وينا ديوه ښوونځي يا تعليمي مکتب استاذ يا معلم چې مقررېږي ،نو هم مجبور دی، چې دمعارف مدير ته د(۵۰۰۰۰يا ۶۰۰۰۰)پنځوسو يا شپيتو زرو کلدارو درشوت دورکړي نه وروسته چيرته مقرر شي ،نور قضايي او تقنيني ارگانونه خو پريږده چې هلته کوم اداري فساد او بډې اخستل روان دي، دهغې دارقامو شمير دحساب په ماشين يا کاکوليټرکې نشيـ راتلای او ديوې اسلامي ټولنې دتباهۍ لوی سبب وي .

دا خبره به هم رښتيا وي، چې رشوت که يوه چټل کار دی، نو شايد په اصطلاح دا مترقي او متمدنې لويديځې ټولنې به هم ترې خلاصې نه وي او هلته به هم وي ،ځکه هلته چې پانگه وال ډير دي ،نو ښايې ديوه نا مشروع کار دحتمي کولولپاره له بډو او رشوت نه کار واخلي ،معمولاً دټولټاکنويا انتخاباتوپر وخت خو کانديدان دځان دبري لپاره بي ختره پيسي مصروفوي ،دخلکو نه په رشوت رأيه اخلي اوخپل حريف ته ماتې ورکوي ،لويديځو او کفري ټولنوکې خو درشوتونوپه شان ټولې غير اخلاقي چارې کوم جرم نه وي او نه هلته کوم ډول عيب گڼل کيږي ،ځکه هلته چې کفر بواح مشروعيت لري ،شرک اودهريت دقانون برخه وي ،نو دا رشوت اوبډې اخستل خو يوه معمولې مسئله ده، خو دافغانستان غونډې يوه اسلامي هيواد کې چې وگړې مسلمانان دي اواوسنی اساسي قانون يې هم دا ډول کارونه جرم او دقانون نه خلاف بولي ،خو بيا هم يې درشوت يا بډو اخستلو گراف ورځ تر بلې لوړيږي ،شايد د ډير تأمل اوتدبر وړ وي ،او اصولاً ددې هيواد چارواکې ددې ټولوجرايمو او گناهونوپه اساس مجرم بلل کيږي ،دا نه يوازې جرم دی، بلکې دافغانستان غونډې دغريب هيواداو ولسونو ته دسرطان دداني نه ډير مهلک دی .

هيښونکې داده ،چې دکابل چارواکې اوددوئ خارجي باداران او اشغالگر چې په دعوی سره وايې ،چې يوه شفاشفه اداره يې افغانانو ته ارمغان کړې او دوئ اوس په اصطلاح دولسواکۍ خاوندان دي، خو بيا ددوئ دخبرې اژانسونو دسرخبر داوې : چې افغانستان کې اداري فساد اوج ته رسيدلی ، دکابل اداره په فساد کې دريم مقام لري او دولتي کارمندان تر سپيږموپورې په رشوت کې ککړ دي ، يا داچې نظرپوښتنه ښيې چې افغانستان کې بډې اخستل يوکال کې افغانان درې ميلياردہ ډالره تاواني کوي، خو بيا هم نه رشوت اخستونکی دوئ کله ونيوه اوکومه درنده سز ايې ورکړه او نه يې رشوت ورکونکی مجازات کړ،چې ددې نه له ورايه ښکاري، چې که چارواکې رشوت اخلي، نو هم دبهرنيو بادارانو په هڅونه او لمسونه يې اخلي اوکه خارجيان پخپله دا کارکوي، نو هغوئ ددې لپاره گمارل شوي او وظيفةً دا کار کوي ،ښايې موخه يې داوې ،چې يو خو دافغانانو په نامه راغلې بسپنې ضايع شي او بل پدې اسلامي معاشره او ديني ټولنه کې خلک درشوت سره عادت شي او خدای ج مکړه په لوی لاس ددې منهی عنه کار مرتکب شي ،که نه درشوت خورو او بډې اخستونکيو سزا ډيره اسانه او بسيطه ده، خو چې داشغالگرو عزايم غلط دي، نو ځکه افغانان ددې ډول ستونزو سره لاس وگريبان دي !

خبیر احمد م

د اوبـــاما تاریـــخي اعتـــراف !!

اوباما چې دامریکا دولسمشری دپای شیبې شمیرې اوپه څواونیوکې اړدی چې نوي ولسمشر(ټرامپ) تـه سپینه مـانی پریـږدي ،هغـه دنړیوال سیاست دتحلیل اوڅیړلوپه ترڅ کې دافغانسـتان موضـوع اوروانـه جګـړه امریکاته مهمه وبلله خوپه عـین حـال کــې یــې پــه دې حقیقــت پــه خوراصراحــت اعــتراف وکړ،چــې طالبان یې مات نشوکړای .

اوباماچې دغه خبري دامریکاپـه فلوریـدا ایالـت د(تامپا) پـه هـوایي ډګرکــې دامریکــاپوځي اوامنیتــي بنســتیونوته کــولي وویــل : پــه افغانستان کې ۱۵کلن جنګ یـواځې امریکاپــه امــن کــړه ؛خونــه یــې افغانستان ته ثبات راوست اونه یې دطالبانوزوراوبه کړای شو

دامریکـاتلونکي ولسمشرـ زیاتـه کـړه :لـدې ورسـته دامریکـادنوي ولسمشرـ دنـده اومکلفیـت دی چـې دافغانستان جګړه په کوم ډول پـرمخ بیايي ، ولې دی مسؤلیت لـري چې وورايي : القاعده اوداعش دده په انـد دامریکایي قواوو له لوري وځپل شول ، ولې د (طالبان په ماتولوکې امریکا پاته راغله)

اوباما په داسې حال کې دغـه خبري مطرح اوپـه ښکاره ډول یـې پرې سخوند وواهه ، چې هغه دتیـرو ۸ کلونوپـــه دوران کـــې همیشـــه دااعلانونـه کـول چـې دافغانسـتان دجنـــګ اوروان بحـــران دحـــل اوګټلولپـاره هراړخیزچمتـوالي لـري ، اوباما پـه ۲۰۱۲ کال کې ، چې کله امریکایانو دالقاعده جهادي تنظیم مشرــ (اســامه بــن لادن) پــه پاکستان کې شـهید کـړ وویـل چـې نورپه افغانستان کې جدي مزاحمت اومقاومـت پـای تـه ورسـید اوهغـه باوري دی چې پرته لـه خـال خـال اوبـې اثـره بریـدونو نورطالبـان ددې روحیه اوحوصله نلري چې دپخواپه شان په امریکایي عسکرو پراخـې حملې اوبریدونه ترسره کړي.

داوبامــا ورســتی خــبري ددې ثبــوت وړانــدې کــوي چــې پــه افغانستان دامریکایانودبریـاوو تیـرې دعوې له یوې مخې ناسمي اوباطلې وي ،بلکې امریکـایي قـواوو اوورسره ناټو له نیږدې لس کلونوراهیسي پـه افغانسـتان کـې دطالبانوپـه وړانـدې ماته خوړلې وه اوټولې ستراتیژی یـې لـه شـکست سره مخ شـوي وي ، خوچــون میــډیا ددوئ پــه ولکــه اوسـلطه کـې وه ،سیاسي تحلیـل ګــران امریکایــانو زرخریــدکړي وو اوخپله امریکـایي جنرالانواودسپیني مانۍ چارواکوپه لوي لاس هڅه کوله چې حقـائیق اوواقعیتونـه همداسې پټ اومخفي وساتل شي.

داوباما پـه خبروکـې بلـه مهمـه نکتـه داوه چـې د افغانستان جګړې

امریکا په امن کړه ، یعني دافغانستان اشغال اوهلته دیوې نیمي لسیزي پوځي ماموریت یوائې ددې لپاره وو چې تنها امریکاپه امن اوولس یې دارام ساه واخلي .

داچې امریکایانولدې وړاندې داشعارونه ورکول چې دافغانستان له جګړې سره نړیوال امن اوثبات تړلی اوپه خاص ډول یې هدف دافغانانوخوندیتوب اوترقي ده داوباما ورستیوټکوثابته کړه چې امریکایانونړۍ اوافغانانو ته څرګنددروغ وئیلي وو

له همدې امله ویل کیږي چې په افغانستان کې امریکایانوپه قصدي اولوی لاس وغوښتل چې په افغانانوجګړه تراوږدې مودې پورې تپلي اوتحمیلي وساتي اودهغه ترڅنګ یې په ګڼوداسې کړاوونواوتراژیدیوکې درګیر اوښکیل وګرځوي چې اصلاځوک ددې خبرې فرصت پیدانکړي چې ترڅو نورو کلونوپورې به امریکایي اشغال دوام کوي اوتر بیلابیلو پلمو او بهانولاندې به دافغانانووژلواوربرولوته ناروا توجیهات جوړوي.

له همدې امله ویلای شوچې ددوه سري رژیم رامنځته کول اوواک مفسدوباندونواوقاتلوګروپونوته سپارل دامریکاهغه خاص هدف اودجان کیری پلان وو ترڅوپه افغانستان کې ګډوډي اوانارشیزم خوله خښنه کړي، فقر، بې وزلي اوبې ثباتي اوج ته ورسیږي ، چې په نتیجه کې به دامریکایانوپه فکرافغانان یادامریکایانوتل پاتي غلامی ته غاړه کیږدي اویابه له افغانستان څخه بهرنی نړۍ ته تیښته اوفرار کوي

دتیرو۱۵ کلونوپه اوږدوکې امریکایانوهڅه وکړه څو افغانان له خپلو ګاونډیوهیوادونوسره په یولړ خطرناکو شخړو اوتربګنیوکې درګیروګرځوي اودولسونوترمنځ یې داخوت اودیني وروړګلوي ماحول له منځه یوسي .

ددې ترڅنګ لوی شیطان وغوښتل چې په افغانستان کې دمیشتوقومونواوملیتونوترمنځ ژبني ، مذهبي او نژادي شقاوتونه وټوکوي اوواحد افغانستان دپراګندګی اوویشلولورته بوځي

امریکایان ممکن په خپلویولړپټواوښکاره دسیسو او حربو کې دخپلومزدورانوپه توسط څه لاسته راوړنې لرلې وي ، ولې ترټولوعمده هدف اومقصد چې هغه داشغال په وړاندې دافغانانودمقدس جهاداومقاومت ختمول ووپه دغه میدان کې الله تعالی امریکااوناټودومره شرمنده اوذلیله کړه چې خپل پنځوس زره عسکریې ګوډو مات اویاووژل شول اودوه تریلیونه ډالریې خاوري ایري کړل خودافغانستان اسلامي امارت بیاهم دهیوادپه ۸۰ برخه څمکې خپله سلطه اوولکه برقراره وساتله

امریکایانواټکل کړی چې ددوئ څارګري شبکې په افغانستان ترکومه

حده غلامان روزلې اوکومې ډلې اوټپلې يې دواک ګدی رسولي هغوئ به وکولای شي دافغانانوپه منځ کې امريکايي بيم اووحشت خپور اوداخبره به په ذهن کې وراچوي چې امريکاداسې طاقت اوقدرت نده چې کوم هيوادته يې پښه ورسيږي هغه اشغال کړي اوبيادې هلته ماته وخوري اوپه اسانی دې ترينه پښې سپکې کړي

امريکايانوبه دخپلوغلامانو اومزدورو رسنيوپه توسط په مسلسل ډول دازهرشيندل چې له بادار سره يې داسې ټکنالوجی شته چې له هواڅخه دزرګونومسافي لاندې دځمکې په سريو(اينچ) شی هم ويني اوداخوبلکل ناممکن اوناشونی کار ده چې يوڅوک دې دامريکايانوپه خلاف حرکت وکړي ،ماين دې خښ کړي اويادې په امريکايي قواوودبريدکولوکوشش وکړي

امريکايانودخپلوهمدغواوتوبو دخورولو اورسولو په خاطر دبګرام اوګوانتانامو په څيروحشي- زندانونه جوړکړل ترڅوافغانانوته وروښيي چې تاسې دامريکايې عسکروپه ضدهيڅ مخالف حرکت نشی کولای ددوئ ترڅار او تعقيب لاندې يی اوکه موکوم وخت مخالفه هڅه وکړه نوځای به مودغه ناترسه زندانونه اوشکنجې وي .

الله تعالی دامريکايانودغه توطيی ، وحشتونه اوغورځې پرځې له يوې مخې بې اثره ، ناکاره اورسواوګرځولې ، دافغانستان په لويشت لويشت ځمکه کې داشغالګرواوددوئ دمزدورانوپه خلاف مقاومت پيل شو، سرلوړو افغانانونه دامريکايانو۵۲ ډوله الوتکوته وکتل چې په څه ډول بمبارکوي ، نه يې دډرونه الوتکوتو غنديوته اهميت ورکړچې په کوم تکتيک اومهارت هدف ويشتلی شي ، نه دفاسفورس اوممنوعه وسلواستعمال دهغوئ په روحيه اوهمت کوم اثروغورځاوو په لوړه روحيه يې په خلاف وجنګيدل اوداتوپيريې له امريکايانو ورک کړچې اوس طالب څوک ده ، يعني ولس دخپل همت اوايماني جذبې له مخې له طالب اومجاهد څخه په سر او مال دفاع وکړه ، هغوئ يې اکمال کړل له ځانوسره يې په خپلوجونګړوکې وساتل يعني خپل ځانونه يې هر ډول فداکاری اوقربانی ته وړاندې کړل خوله مجاهد اوطالب څخه تيراوبيزاره ونګرځيدل .

همدغه وجوهات دي چې اوباما دتلو په حالت کې اړ او مجبور کړل چې په همدې تريخ واقعيت اعتراف وکړي او اوخپل ولس ته په واز کومي ووايي چې په خپلو ټولو هڅو اوحربو سربيره يې طالبان مات نشوکړلای

داوباما له خولې دغه توري راوتل چې طالبان يې مات نشوکړای له ځان سره داحقيقت هم په اثبات رسوي چې امريکايانوپه افغانستان کې تاريخي شکست وليداوداسلامي امارت دموسيس مرحوم ملا محمد عمر مجاهد هغې پيشګويي ته سرکيښود چې امريکايان به ارومرو په افغانستان کې ذليله کيږي اوخپل شکست به مني.

د شهید مولوي احسان الله احسان صاحب

ژوند او کارنامو ته کتنه

عبدالرؤف حکمت

اسلامي خوځښتونو همیشه د هر بخش لپاره ځانګړي، ورزیده او با استعداده رجال درلودلي دي. که د خوځښت ځیني برخوال د توري او جنګ د ډګر نومیالی وي ځینې نور بیا د سیاست، دعوت، خطابت او د خلکو د زړونو د فتحه کولو په چاره کې داسې مهارت او استعداد لري چې هره خبره او چلند یې د زړګونو مرمیو په تناسب ستره نتیجه او فتحه په لاس راوړي.

الله تعالی خپل اشرف مخلوق انسان ته بیلابیل استعدادونه ورکړي دي چې په دې استعدادو کې یو مهم استعداد د نطق او بیان استعداد دی چې انسان له نورو مخلوقاتو څخه ممتاز ګرځوي. خو کله چې همدغه د بیان او وینا استعداد د فصاحت او بلاغت له کمال سره همغاړی شي او ورسره د اخلاص او صمیمیت مرسته هم وي نو بیا د وینا کوونکي وینا په نورو خلکو د سحر غوندې اغیز کوي، خبرې یې په زړونو کې لارې باسي او د افکارو په توجیه او تهذیب کې ستر نقش لوبوي.

شهید مولوی احسان الله احسان صاحب د افغانستان په سطحه یو له همداسې خطباوو او ویناوالو څخه و چې د اغیزناکې وینا یادونه به یې تر ډیره د افغانانو په اذهانو او زړو کې خوندي وي. شهید احسان صاحب د هیواد د تاریخ په یوه حساس پړاو کې د سیاست میدان ته راودانګل، هغه مهال چې افغانستان د حتمي تجزیې له ګواښ سره مخ و، اولس د ذات البیني جګړو او فساد په لمبو کې کبابیدو او په هر اړخیزه توګه د فساد او هرج و مرج توپان را الوتی وو. مولوی احسان الله احسان صاحب د ګڼ شمیر نورو علماء کرامو او طالبانو په شمول د فساد د محوه کولو لپاره د جهاد میدان ته راوړاندې شول،د طالبانو اسلامي تحریک او په تعقیب یې د افغانستان اسلامي امارت تأسیس کړ، هیواد یې له فساد او ګډوډیو وژغوره او د جهاد ثمره یې د ضیاع له خطر څخه خوندی کړه.

شهید مولوي احسان الله احسان

شهید مولوي احسان الله احسان د مولوي اغا محمد زوی د مولوي میرزا محمد لمسی په قوم پوپلزای چې اصلي ټاټوبی یې د کندهار ولایت د شاولي کوټ ولسوالۍ د بورې د علاقې لوی کلي دی په کال ۱۳۸۱ هجري قمري کې د محرم د میاشتې په پنځمه نیټه د زابل ولایت دمیزاني ولسوالۍ د سلیم په کلي کې په یوه متدینه علمي کورنۍ کې زیږیدلی دی. دشهید

مولوي احسان الله نيکه مولوي ميرزا محمد صاحب دکندهار ولايت له مشهورو جهادي اوعلمي شخصيتونو څخه بلل کيږي؛ نوموړي دافغان انګليس د دوهمي جګړې په مهال دانګريزانوخلاف په ډيرو جګړوکي فعال سهم درلود اودخپل همدغه فعال جهادي مساهمت له امله دکندهار ولايت په سرحدي ولسوالۍ سپين بولدک کي له انګليسي_ پوځونوسره په مخامخ مقابله کي په پښه زخمي شوی و چي له همدې امله دسيمي دخلګوپه منځ کي دګوډ ملا ميرزامحمد په نوم مشهور و.

زدکړه اوتحصيل يې :

شهيد مولوي احسان الله احسان له وړکوالي څخه دفطري نبوغ اوسرشاره علمي ذکاوت څښتن و. نوموړی په يوه متدين علمي خاندان کې زيږيدلی و د پلار په شان يې والده شريفه هم د ديانت او زهد څښتنه وه چې ويل به يې شهيد احسان ته مې هميشه په اوداسه شيدې ورکړي دي. د شهيد احسان صاحب مور به د نوموړي د ذکاوت په اړه ويل چې له کوچنيوالي د نبوغ او ذکاوت څښتن و د پنځو کلونو و چې آيت الکرسي يې ياد کړې او ماته يې هم را ياد کړه. د شهيد احسان والد صاحب له هماغه وړکتوبه څخه دده علمي اوتربيوي روزني اوپالني ته ډيره توجه کوله .لومړی يې په خپل کورکي په هغه باندي دابتدايي ديني علومو زده کړه پيل کړه اوبيا وروسته يې دشرعي علومو دتحصيل لپاره د پاکستان لوړوشرعي مراکزو اومدارسوته وليږه .شهيد مولوي احسان الله صاحب خپل لوړشرعي تحصيلات ددارالهجرت په بيلا بيلو ديني مدارسوکي په ډيرزيار اوکوښښ سره حاصل کړل. د پاکستان د خيبر پښتونخوا له سوات علاقې نيولې بيا د بلوچستان تر مختلفو سيمو لکه، ميزی اډه،پښين، کچلاغ،لور لايي او مرکز کوټه کې يې د خپل وخت له زبده عالمانو او مدرسينو لکه مولوي سعد الدين اخندزاده،مولوي عبدالغفور صاحب، مولوي شرف الدين صاحب، مولوي عنايت الله مشهور په غبرګي اخندزاده،مولوي عبيد الله قندهاري، مولوي ابوالفضل معين الدين صاحب او نورو څخه يې ديني علوم او فنون حاصل کړل تر دې چې د احاديثو تر وړې او لويې دورې پورې ورسيد.

وړه دوره يې د کويټې په مشهوره مدرسه جامعه اشرفيه کې له شيخ الحديث مولوي عبدالباري او مولوي عبدالحی څخه ولوسته او لويه دوره يې په همدې مدرسه کې له شيخ الحديث مولوي عبدالغفور صاحب څخه پيل کړه. خو د کال په اوږدوکې شيخ الحديث مولوي عبدالغفور صاحب وفات شو، نو ځکه يې پاتې سبقونه د کويټې د شالدرې په مدرسه کې له شيخ الحديث حافظ عبدالواحد صاحب څخه تکميل کړل او له ديني علومو د فراغت سند يې ترلاسه کړ.

د کمونيزم په خلاف جهاد

شهيد مولوي احسان الله صاحب لادخپلو ديني تعليماتو دحصول په ابتدايي مرحله کې و چې په افغانستان کې کمونستانو ديوې پوځي کودتا له لاري دقدرت واګې ترلاسه کړې چې سمدستي يې پرخلاف مؤمنو افغانانو اسلامي جهاد پيل کړ. په دغه مقدس جهاد کې دافغانستان ټول ملت په بيساري ميړاني اوشهامت سره سهم درلود، خودهغه دقيادت او درهبرۍ مسؤليت دشرعي اومذهبي مکلفيت له مخي تر ډيره دعلماوو په اوږو ورلويدلی و. شهيد مولوي احسان الله صاحب هم چې دخپلي سيمي په کچه يې په يوه علمي اوجهادي کورنۍ پوري تعلق درلود نوتربل هرچاپې

دروسانواوکمونستانو خلاف جهاد خپل ديني مسؤليت باله .

نوموړي دهمدغه ديني مسؤليت له مخې لومړی دزابل ولايت دميزاني ولسوالۍ دشهيد مقيم ترمشرۍ لاندې ديرغلګرو روسانوپه ضد جهاد پيل کړ .له هغه وروسته هلمند ولايت ته ولاړ اوهلته يې دوه کاله دهماغه ولايت په مختلفو جبهاتو کې دکمونستانو خلاف جهاد وکړ .په هلمند ولايت کې د بېلابيلو جهادي اوپوځي تکتيکونو ترلاسه کولو وروسته بيرته زابل ولايت ته راغی اودلته يې دمولوي عبد الظاهر په ملګرتيا ددې ولايت دميزاني ولسوالۍ په ارغسو غره کې ديوې فعالې جهادي جبهې بنسټ کښېښود.شهيد مولوي احسان الله به دخپلې نوې تأسيس شوې جبهې مجاهدينوته دپوځي اوعسکري زده کړې ترڅنګ د دعوت په حلقوکې دفکري پوهنې اواسلامي ثقافت درسونه هم ورکول اوهغوی به يې دپوځي زده کړې ترڅنګ په علمي اوفکري لحاظ هم دالحاد اوبيدينۍ په خلاف جهاد اومبارزې ته چمتو کول .

نوموړي وروسته ډېره توجه دديني زدکړو تکميل ته واړوله خو بيا يې هم د خپل توان او فرصت په اندازه په جهادي فريضه کې ونډه اخيسته او د جهادي داعيې يو مخکښ داعي او عملي مجاهد و.

د طالبانو په اسلامي تحريک کې شموليت

د ۱۴۱۵ هجري قمري کال د محرم الحرام په مياشت کې چې په هيواد کې دجهادي نيمګړو آرمانونو دتحقق لپاره داسلامي امارت دمشرتابه له لوري دطالبانو اسلامي تحريک تاسيس شو نوشهيد مولوي احسان الله صاحب يوله هغو لومړنيوکسانوڅخه و چې په خورا اخلاص اوصداقت دتحريک دمؤسس ترڅنګ ودريد اوپه خپلونه ستړي کيدونکو هلوځلوېې دهغه ملاتړ وکړ .دتحريک دتأسيس په هماغو اوائلوکي چې لا د طالبانو تحريک د ميوند او ډنډ ولسوالۍ له حدودو نه و تېر شوی مولوي احسان الله صاحب نه يوازې عملا د اسلامي تحريک غړی شو بلکې دخپلې سيمې ټول جهادي قومندانان اوعام ولسي-خلګ يې دې ته وهڅول چې په سوله ييزه توګه له تحريک سره يوځای اوله خپلو وسلوسره دطالبانو په ليکوکي په هيواد کې ديوه سوچه شرعي نظام دحاکميت لپاره قرباني وركړي.هماغه ؤ چې دشهيد احسان صاحب ددغو حکيمانه هلوځلو له برکته دسيمې ډېر پخواني جهادي قومندانان او عام خلګ دې ته تيارشول چې له تحريک سره يوځای شي . مولوي احسان صاحب د علماء کرامو د هغې شورا غړيتوب هم درلود چې د مرحوم شيخ مولوي عبدالعلي ديوبندي صاحب په مشرۍ يې به بولدک کې ټوپکي قومندانانو ته دعوت ورکړ تر څو له پاټکمارۍ او ظلم زياتي لاس واخلي او د طالبانو د تحريک داعيه ومني خو دا چې هغو ټوپکيانو له ډيرو دعوتونو سره سره هم خپل ناروا حاکميت ته دوام ورکاوو نو ځکه طالبانو د شهيد ملا محمد اخند په مشرۍ د هغو په ضد عمليات وکړل او د بولدک ساحه يې ترې تصفيه کړه.

د مولوي احسان الله صاحب ستره کارنامه

د کندهار له فتحې وروسته د ۱۳۷۳ هـ ش کال د جدي د مياشتې په ورستيو کې د طالبانو لښکر له کندهار څخه د زابل په خوا حرکت پيل کړ. مولوي احسان الله احسان صاحب هم د امارت د نورو مشرانو تر څنګ ددې لښکر برخوال و، د زابل په ولايت کې موجوده مجاهدينو او طالبانو د دوی هرکلی وکړ او واک يې

په بشپړه توګه وروسپاره. له زابل وروسته همدغه لښکر غزني ولایت ته ورسید. د غزني مرکز، ولایت، فرقه او نور مهم مراکز په غزني کې یو شمیر خیرخواه قومندانانو طالبانو ته وسپارل، خو د غزني په یونټ او روضه سیمو کې د حزب اسلامي او حزب وحدت له ډلو سره جنګ وشو چې وروسته هغوی تیښتې ته اړ او سیمه مکمله د طالبانو تر واک لاندې راغله.

که څه هم د طالبانو د همدې لښکر لویه برخه د میدان وردګو په خوا لاړل او تر میدان ښار، لوګر او چهاراسیاب پورې ورسیدل خو د همدې کال د دلوې د میاشتې په ۲۷ نیټه د طالبانو یوه لویه ډله د مولوي احسان الله احسان صاحب په مشرۍ د له غزني د پکتیکا په خوا لاړه . د پکتیکا ولایت ځایي علماء او مشرانو ورته د ولایت واک په بشپړ ډول وسپاره. له همدې ځایه مولوي احسان الله احسان صاحب د لویې پکتیا له جهادي قومندانانو او مطرحو مشرانو لکه ستر مجاهد مولوي جلال الدین حقاني،ملا عبداللطیف منصور، مولوي فرید الدین محمود او نورو مجاهدینو سره خبرې پیل کړې تردې چې دمولوي احسان صاحب د مدبرانه تګلارې، قوي استدلال او قانع کوونکو وضاحتونو په نتیجه کې د لویې پکتیا یعنې پکتیا، پکتیکا او خوست ولایاتو ټول مجاهدین د اسلامي امارت په واکمنۍ قانع او په پوره اخلاص یې خپل تشکیلات د طالبانو د اسلامي تحریک په صفوفو کې مدغم کړل. چې په دې توګه نه یوازې دغه درې مهم ولایات په مکمل ډول د اسلامي واکمنۍ برخه وګرځیدل بلکه د ځایي مجاهدینو، طالبانو او د له هغوی سره د موجودو امکاناتو او وسلو او عام اولسي ملاتړ په مټ اسلامي تحریک نور هم قوي شو چې ددغې پروسې په کامیابۍ کې ډیر رول د مولوي احسان الله احسان صاحب و چې په خپل فصیح او بلیغ استدلال سره یې اسلامي تحریک خلکو ته د یوه واقعي اسلامي او افغاني تحریک په حیث ورمعرفي کړ او د هغوی بشپړ قناعت او ملاتړ یې حاصل کړ.

په اسلامي تحریک مسؤلیتونه

مولوي احسان الله احسان صاحب چې د اسلامي تحریک په اوائلو کې یې د جنوب ختیځ زون په ولایاتو کې د طالبانو سرپرستي او مشري په غاړه درلوده د هرات ولایت له فتحې څه موده وروسته د عالیقدر امیرالمؤمنین رحمه الله په امر د هرات ولایت د والي په حیث وټاکل شو هغه مهال چې هرات ولایت په پوځي لحاظ فتحه شوی و مګر په ذهني لحاظ لا هم ډیر خلک د طالبانو په اړه شکمن و او له همدې امله ډیر خطرات موجود و او همیشه به په ښار او اطرافو کې د طالبانو په خلافت مزاحمت او بریدونه کیدل. مولوي احسان الله احسان صاحب په خپلو عالمانه قانع کوونکو ویناوو او مدبرانه برخورد سره په دې وتوانید چې ددې ولایت د خلکو باور او زړونه را خپل او په دې توګه په هرات کې د اسلامي امارت په خلاف موجود مشکلات او مخالفتونه له ریښې ختم شي.

د ۱۳۷۵ هـ ش کال د حمل په میاشت کې کله چې په کندهار کې د اسلامي امارت د تأسیس غونډه دائره او د طالبانو تحریک د افغانستان په

اسلامي امارت سره تبدیل شو. د علماء کرامو په دې عظیم الشانه غونډه کې چې شاوخوا یونیم زر تنه علماء کرامو په کې ګډون کړی و مولوي احسان الله احسان صاحب په کې کلیدي رول درلود د غونډې په جریان کې مولوي احسان الله صاحب دغې شورى ته د ملا محمد عمر مجاهد لپاره د امیرالمؤمنین لقب عرض کړ چې د شورى لخوا د رأیو په اتفاق سره تصویب او له کلونو وروسته یو ځل بیا دغه نوم د اسلامي سیاست په قاموس کې راژوندی شو.

د همدې کال د میزان په میاشت کې چې طالبانو د کابل د فتحې عملیات پیل کړل د افغانستان د ختیځ د فتوحاتو په سلسله کې مولوي احسان الله احسان صاحب لومړی د ننګرهار ولایت د والي په حیث وټاکل شو خو څو وروسته چې کابل فتحه شو نوموړی د اسلامي امارت د لومړنۍ کابینې د تعین په مهال د افغانستان بانک د لوی رئیس په حیث وټاکل شو.

د ۱۳۷٦هـ ش کال د جوزا د میاشتې په لومړیو کې چې طالبانو په شمال ولایاتو کې له جنرال مالک سره ناکامه موافقه وکړه چې په لړ کې یې د لنډو ورځو لپاره د فاریاب،جوزجان سرپل او بلخ ولایاتو ته طالبان ور داخل شول مولوي احسان الله احسان صاحب د امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد په امر له څو تنو نورو امارتي مشرانو سره مزار شریف ته لاړ تر څو هلته د وضعیت په برقرارۍ کې همکاري وکړي. خو له موافقې دوه ورځې بعد جنرال مالک اړخ بدل کړ او له حزب وحدت سره د شریکې دسیسې په پایله کې یې د طالبانو په خلاف غدارانه اقدام وکړ چې په نتیجه کې یې په زرګونو په پاک نیت ورغلي طالبان په شهادت ورسیدل چې له دې جملې د امارت څو تنه زبده مشران من جمله مولوي احسان الله احسان صاحب هم و.

د شهید مولوي احسان الله احسان صاحب د شهادت واقعه

دلته به د شهید مولوي احسان الله احسان صاحب د شهادت واقعه د نوموړي د ورور مولوي عبدالغني احسان صاحب له قوله درسره شریکه کړو چې ددې پیښې عیني شاهد پاته شوی دی. نوموړی وایي: د ۱۳۷٦ هجري شمسي کال د جوزا په پیل کې زه کابل ته د مولوي احسان الله صاحب د لیدلو لپاره لاړم. خو هلته مې دی ونه لید ځکه پاکستان ته یې سفر کړ تر څو د مزار له سقوط وروسته پاکستان هیواد د افغانستان د اسلامي امارت په رسمیت پیژندلو ته وهڅوي چې په اسلام اباد کې د اسلامي امارت د هغه وخت د سفیر مولوي شهاب الدین دلاور صاحب په خبره پاکستان هیواد بالاخره همدې ته تیار هم شو او د د جوزا د میاشتې په څلورمه نیټه یعني د مزار له تحول سمدستي وروسته یې اسلامي امارت د افغانستان د رسمي حکومت په حیث په رسمیت وپیژاند چې په تعقیب یې سعودي عربستان او عربي متحده اماراتو هم اسلامي امارت په رسمیت وپیژاند.

مولوي عبدالغني صاحب زیاتوي: زه بیا کندهار ته راغلم او مولوي احسان صاحب هم له پاکستان څخه کندهار ته او له هغه ځایه د اسلامي امارت د بهرنیو چارو د وزیر ملا محمد غوث او څو نورو مشرانو په ملګرتیا مزار ته لاړل. زه هم ددوی په تعقیب په الوتکه کې شبرغان او له هغه ځایه مزار شریف ته لاړم، په مزار کې د ښار د امنیت لپاره د طالبانو او جنرال مالک تر منځ ګډ پلان جوړ شو چې شپږ اعضاء یې درلودل. د طالبانو لخوا د فاریاب والي سیدجانان اغا، دهرات امنیه قومندان ملا عبدالحق او زه و او د جنبش لخوا شیرعرب، جنرال مجید روزي او مولوي عثمان وو.

یوه ورځ چې تیره شوه په ښار کې جنګ شروع شو. سره له دچې جنګ جنرال مالک شروع کړی و خو موږ ته یې ویل چې دا د حزب وحدت کسانو شروع کړی دی.مازدیګر جنګ شروع شو تر سهار پورې د سهار په وخت کې ډیر طالبان څوک د شبرغان خواته او څوک د سیلو خواته له مزار ښار نه ووتل. په همدې ورځ سهار اته بجې چې د ۱۳۷٦ لمریز کال د جوزا د میاشتې ۷ مه نیټه وه زه د روضې شریفې له مسجد سره ولاړ وم چې په جیپ موټر کې څو طالبان راغلل او راته ویې ویل چې مولوي احسان الله صاحب او نور ملګري د مخابراتو په ریاست کې دي ما په ډیر تکلیف ځان ورورساوو. هلته مولوي احسان الله صاحب،ملا محمد غوث اخنداو په کندهار کې د امارت د خارجه چارو رئیس حاجي فضل محمد موجود و بیا له دې ځایه په له نورو طالبانو سره یوځای په موټرو کې سپاره شو د سیلو سره نږدې یې د ملا محمد غوث اخند موټر وویشت بیا مو هغه په بل موټر کې سپور کړ او په مخ مو حرکت وکړ. د تنګي شادیان په نوم سیمې ته چې ورسیدوپه مخکې د چارکنت د ولسوالۍ د هزاره ګانو د مشر سید اسد نفر ولاړ وو. هغوی زموږ لاره بنده کړه او زموږ د خلع سلاح کولو لپاره یې لاس واچاوو. بالاخره همدلته له هغوی خبره تر جنګ ورسیده او ټکان شروع شول. دغه وخت به د ورځې تقریبا لس بجې وې همدلته په جنګ کې مولوي احسان الله صاحب ولګېد او وغورځېد موږ د غره په خوا حرکات وکړ، همدا شپه موږه غره کې شوه سهار د لوړې او تندې څخه د هلاکیدو له امله بیرته کلي ته راکوز شو هزارګانو له ټولو څخه پیسې، ساعتونه او قیمتي شیان واخیستل او موږ یې بندیان کړو. بیا یې بندیان څو ځایه سره جلا کړو زه چې د کومو بندیانو په ډله کې وم شپیته کسان و موږ یې مزار شریف ته یووړو څلورو ورځې بعد یې بیرته همدلته په تنګي شادیان کې د حزب وحدت یوې قرارګاه ته راوړو پنځه ورځې بعد یې موږ لس کسان را وایستو تر څو هغه شهیدان راباندې راټول کړي چې همدلته دوی شهیدان کړي وو.

په دې ورځ موږ پنځه څلویښت شهیدان چې تراوسه په لاره شاوخوا پراته وو او څو ورځې وربانډې تیرې شوې راټول او دفن مو کړل په دوی کې مې خپل ورور مولوي احسان الله احسان صاحب وپیژاند او له نورو شهیدانو مې جلا دفن کړ. بیا چې کله مزار شریف او ټول سمت شمال دوهم وار فتحه شو د مولوي احسان الله صاحب جسد له هماغه قبر څخه کندهار ته را انتقال او د کندهار ښار په لویه ویاله کې د طالبانو په هدیره کې دفن شو چې په دغه هدیره کې د مشرانو د قبرونو له جملې د مشرق لخوا لومړی قبر د شهید ملامحمد اخند، ورپسې شهید ملا بورجان اخند، ورپسې شهید مولوي احسان الله احسان صاحب، ورپسې شهید ملا یار محمد اخند او د سر خواته یې د رئیس الوزار مرحوم ملا محمد رباني صاحب قبر دی. رحمهم الله تعالی

باید ووایو چې د شمال په همدې ستره غمیزه کې د مولوي احسان الله احسان صاحب یو بل ورور مولوي ولی الله صاحب هم شهید شو نوموړی چې د میمنې لخوا له طالبانو سره راغلی و د جنرال مالک کسانو د زرګونو نورو طالبانو په شان له نیولو وروسته د جوزجان د فیض اباد ولسوالۍ په دشت لیلي کې په ژورو څاګانو کې په شهادت رسولی وو. انا لله و انا الیه راجعون

***

د افغانستان لپاره، بې ګټې غونډې ... !!

لیکنه : موسی فرهاد

لـه نـن نـه قریـب ۱۶ کالـه وړانــدې چــې د ګــران هیـــواد افغانســتان پـه اړه کومـه غونـډه د المان د بُن په ښار کې دائره شوه او د افغانســتان د نویــو بــدمرغیو او ناخوالو بنیاد ګذاري پکې وشوه ؛ لـه همغه نیتې نه بیا تراوسه پورې چې په بهر او داخل کې کومې غونډې جوړیږي ؛ د تسلسل کړۍ یې لـه همغې بدنامې تاریخي غونډې نـه سرچینه اخلي .

همـدا لامـل دی چـې پـه یـوه غونـډه کـې هـم پرتـه لـه دې چې د افغانـانو پـر شـته زخمونـو مـالګې ودوړولې شي ؛ زموږ هیڅ درد ته یې درمل نه دې ورکړې.

د یــوه نیمــي لسـیزې پــه جریان کې په نړیواله او سیمه ایزه کچه نژدې۴۷ غونډې د افغانسـتان د ستونزو د حل په عنوان جوړې شوې مګر حقیقت ته چې یې وګورو تنهـا د اشغالګرو لـه لورې د خپلو برنامو د تعمیـل پـه موخـه د افغانسـتان پـه اسـتائیتوب بدنامـه ګوډاګیـانو تـه مشخصې لاربښوونې شوې او د جنګ جګړو د ګرم ساتلو په موخـه د څـو پیسو ژمنـه ورسره شـوې. لـه هغوی نه د هیواد پلورنې او استقلال بایللو پر سند د ګوډاګیانو لاسلیکونه تـازه شـوي ، وبـس . نـور هـیڅ نـه دی ورځخه ترلاسه شوي .

د توکیــو ، بـرلین ، پـاریس ، لندن ، بروکسـل ، هـاګ، بُن دویم ، شیکاګو ، استانبول ، مسـکو او کابـل کې د نړۍ په سطحه داسـی غونـډې وشـوې چـې لسـګونه حتـی سـلګونه هیوادونه او نهادونـه پکـې ګـډونوال شـول . دا راز د شـانګهای ، ایکــو ، سارک، آسیا زړه په نوم کنفرانسونه ترسره شول او ورپسې د چهارجانبـه جلساتو عملیه هم اجراء شوه .

د پورتنیـو ټولـو غونـډو لپـاره سرلیکونـــه او بیړنونـــه داســـی اعلانیدل چې ګویا افغانستان پرېښنو ودریــږي ، آبــاد شي ، عـــدالت او انصـاف پکـې واکمـن شي . سـوله او ثبات رامنځ ته شي ، فقر او غربت له منځه ولاړ شي ، او په ترځ کـې یـې د کابــل اداري تـــه پـــه میلیـــاردونو ډالرونه هم ومنل شول .

د بیلګـې پـه توګـه د پـاریس پـه غونـډه کـې د افغانسـتان سره د بشري مرستې په نـوم ۲۱ بووېشـت میلیارده، په توکیو کې ۱۶ میلیـارده ، په لندن کې لس نیم میلیـارده ، پـه کابـل کـې پنځـه اعشـاریه څلـور میلیـارد ډالـره او پـه ایټالیا کـې څـه باندې درې نیم سوه میلیونـه ډالـره بسپنه اعلان شوه .

او دا میلیاردونه ډالري مرسـته لـه هغـه پیسـو نـه عـلاوه ده چـې د امریکایي مرستو د څار د ډلې مشر- جـان سـوپکو وایـی ، د افغانسـتان د بیارغونې لپاره یې ۱۲۷ میلیارده ډالر لګولي او په پوځي برخه کـې یـې ۶۸۰ میلیارده ډالره خرڅ کړیدي .

نـو د دې ټولـو غونـډو پایلـه همیشه دا راوتلې چې په افغانستان کې د جنګ جګړو پـر جـاري سـاتلو او د افغانســتان پــر بې دفــاع ولــس باندې د بې رحمه بمباریو زیـاتولو او پـه مجمـوع کـې د یـو فاسـد نظام د

پیاوړي کولو او د افغانانو د بدمرغیو د زیاتولو لپاره کار شوی دی . نور له دې ټولو غونډو نه یوه ښیګڼه هم افغانانو نه ده محسوسه کړې .

په دې وروستیو کې د سولې په غرض ، د څلور اړخیزو غونډو په نوم پرلپسې څو ناستې په کابل او اسلام آباد کې ترسره شوې .

خو له دې پرته چې د سولې د رامنځ ته کولو بنسټیز مخنیوی وشي ؛ بل هیڅ ثمره یې چا ونه لیدله . دا ځکه چې د افغانستان سوله په هغه صورت کې ممکنه کیدلای شي چې د جنګ د عواملو د پیدا کولو هڅه شوې وای خو هغه لوري ته هیڅ اشاره نه کیدله .

دا رنګه په دې تازه وختونو کې د هندوستان په امرتسر ښارګوټي کې د آسیا زړه کنفرانس په نوم جلسه کې هم د افغانستان د ښېرازۍ او سولې راوستلو موضوع های لایټ شوې وه ، خو له زړه بداوي او سیاسي رقابت پالني پرته یې ګډونوالو افغانانو ته هیڅ ورنکړای شول . تنها دا چې د کابل د ګوډاګی اداري نیمه واکمن اشرف غني جنګ ځپلی خو په حقیقت کې خپلواک افغان ولس د بې ضرورته سیمه ایزو رقابتي لوبو ته ورټیل وهي ؛ بله ګټه یې ورته را نه وړه .

تر دې وروسته په بروکسل کې د ناټو د غړو هیوادونو د خارجه وزیرانو درې ورځنۍ غونډه هم تر همدې سرلیک لاندې دایره شوه چې ګویا د افغانستان لانجه حل کړي ، مګر له وروستۍ اعلامیې نه یې واضحه شوه چې خپل زرخریده افغانان یې بیا دې ته وهڅول چې جنګ جګړه به ژوندۍ ساتئ او تر همدې پورې یې خپلې ډالري مرستې مشروطې کړې ، او په عین حال کې یې له همدې روان فاسد نظام نه د ملاتړ ړغ پورته کړ چې هغوی نه یوازې داچې د خپلو بادارانو له لوري د افغانستان په نوم ورکول شوې ۵ زره میلیونه کلنۍ بسپنه غلا کوي بلکې له غریب او بیچاره ولس نه هم د کال ۳ میلیارده ډالر په رشوت کې اخلي .

د شفافیت د نړیوالې اداري څېړنیز راپور یې په اړه داسې وایی : (د ملي وحدت حکومت په تیر یو کال کې درې زره میلیونه ډالره [درې میلیارده] رشوت له افغان ولس څخه اخیستی دی، دا درې زره میلیونه رشوت د پنځه زره میلیونو ډالرو چې له نړۍ څخه یې د نظامي مرستو په برخه کې اخلي او دارنګه څلور زره میلیونه ډالره یې چې په ملکي برخه کې اخلي، علاوه دی.)

بی بی سی ښه موده وړاندې په افغانستان کې د اروپا تر ټولو جګپوړي مخکني استازي فرانسیسک وینډریل نه وپوښتل: روانې نړیوالې غونډې له افغان لانجې سره څومره مرسته کولای شي ؟

وینډریل وویل : په غونډو کې بدی نشته، مګر د امریکا او نړیوالو تیروتنه په دې کې ده چې غونډې یوازې د داسې فاسد نظام او بدنامه جنګسالارانو په ملاتړ کې ترسره کیږي چې هغوی د افغانستان لپاره سرخوږی نور هم زیات کړی ، کم کړی یی نه دی.

نو د بهرنیانو په ابتکار دا ډول غونډې چې ظاهراً د افغانستان د پیچلې لانجې د حل په عنوان جوړیږي، خو په حقیقت کې ټولې زموږ د هیواد د استقلال په له منځه وړلو، د فاسد او ګوډاګي رژیم په حمایه کولو او په مجموع کې د بدمرغیو د زیاتولو په موخه دایریږي ؛ نو ظاهره خبره ده چې دا ډول کنفرانسونه او جلسات نه یوازې داچې د افغانستان ستونزې هوارولای نشي بلکې لاپې د بدبختۍ او بدمرغۍ کندې ته ورټیل وهي . چې دا حقیقت اوس افغان ولس ښه درک کړیدی .

پای ....

۱۱/۱۲/۲۰۱۶/ دوشنبه

د اسلامي ثقافت پر خلاف
تبليغاتي ډنډوره

احمد مختار

د کابل د مزدور رژيم په واکمنۍ کې د افغان ولس ټول ديني او ملي ارزښتونه توهين شول.

مسجدونه او ديني مدرسې د امريکايي يرغلگرو لخوا د هيواد په مختلفو ساحو کې تر بريد لاندې ونيول شول، د بگرام په امريکايي زندان کې قرآن کريم د مسلمانانو د ترټولو مقدس مذهبي کتاب په توگه د امريکايي پوځيانو لخوا توهين شو.

د مقدساتو د توهين او د هغوي په خلاف د ناوړه تبليغاتو په سلسله کې اوس تازه د لاس پوځي رژيم د تبليغاتي ډنډورچيانو لخوا په تحصيلي مراکزو کې د اسلامي ثقافت د مضمون په خلاف تبليغاتي ډنډوره پيل شوې.

کله وايي چې دا مضمون ځوانان تشدد او تاوتريخوالي ته سوقوي او کله وايي چې د دولت په خلاف بغاوت ته يې لمسوي.

دا ډنډورې په لومړي ځل د رژيم د ځيني پارلماني وکيلانو لخوا راپورته او اوس يې په ټولو رژيم پلوه رسنيو کې پراخ انعکاس موندلی دی.

اصلا د کابل رژيم چې د امريکايانو له لوري د خپلو اغراضو د ترلاسه کولو لپاره ايجاد شوی د يوه اجرتي رژيم په توگه يې تل د دغسي لمسوونکو اقداماتو تر شا اجنبي تحرکات موجود وي.

امريکايان چې کله وپوهيدل له پوځي لارې د دوي په خلاف د افغان مجاهد ولس برحق مقاومت له منځه وړل ناشونی دی نو په غير مستقيم ډول يې اوس د مقاومت د هغو محرکاتو او عواملو په له منځه وړلو پيل کړی کوم چې په فکري لحاظ دغه جهادي مقاومت تغزيه کوي.

له تيرو ١٥ کلونو راهيسې د مساجدو امامانو د مدارسو ، مکتبونو، ليسو متعلمينو او د هيواد په تحصلي مؤسسو کې په جهادي فکر روزل شويو محصلينو د يوې خطر ناکې او نه ماتيدونکې قوې په توگه د امريکايي اشغالگرو په مقابل کې په شعوري ډول مقابله کړې.

هغوي که څه هم چې د امريکايي اشغالگرو او د هغوي د لاس پوځي رژيم تر واکمنۍ لاندې ساحه کې اوسي او ياهم د هغوي په مربوطو تحصلي مؤسسو کې

زده کړې کوي خو زړونه او فکرونه يې له اسلام ، هيواد او ديني معتقداتو څخه د دفاع له روحيې څخه سر شار دي.

هغوي په خپلې دعوتي ، تعليمي او اکاديميکي ساحې کې د رژيم د فاسدو چارواکو د فساد، د اشغالگرو د وحشت او د رژيم د جنايتکاره توپکيانو د وحشت په خلاف داسې مبارزه کړې چې امريکايان او اجرتي لاس پوڅو د مقابلې توان له لاسه ورکړی.

امريکايان او د هغوی لاس پوڅي چې اوس د دغو جهادي فکر لرونکو مقابله ورته ناشوني ښکاري غواړي په غير مستقيم ډول د هغو افکارو او نظرياتو خلاف اقدام وکړي کوم چې د افغان غيرتي ځوانانو غيرتي او جهادي حماسي راوژندۍ کوي.

هغوی غواړي په مختلفو پلمو سره هغه افکار او اشخاص وځپي چې د دوي د اشغال په مقابل کې جهادي روحيه تحريکوي.

هغه مفاهيم له منځه يوسي چې ځوانانو ته د غرب د مادي نظرياتو په ځای اسلامي نظريات ور تلقينوي.

د اسلامي ثقافت مضمون چې د شوروي اشغالگرو په خلاف د جهاد د وخت يواځنی ياد گار او د ځوانانو په اسلامي روزنې کې مهم رول لرلی امريکايان او دهغوی لاس پوڅي غواړي اوس د دې مؤثر مضمون په خلاف اقدام وکړي.

د اسلامي ثقافت مضمون چې ځوان نسل ته له خپل هيواد څخه د دفاع روحيه ورکوي ، هغوي له اسلامي او مذهبي ارزښتونو سره اشنا کوي ، هغوی ته د غيرت ، حياء، سرښندنې او له خپل دين او خاوري څخه د دفاع اهميت ورپه گوته کوي د خپل مذهبي او علمي اهميت له مخې د دي وړ دی چې د هيواد د تحصيلي مؤسسو او همدا راز د معارف په مربوطو تعليمي مراکزو کې د يوه اهم مضمون په حيث تدريس کړای شي.

که همدا ديني مضمون د هيواد د تحصليي مؤسسو په کريکولم (نصاب)کې موجود نه وي نو ټول راتلونکی چارواکې به مو لکه د کابل رژيم له دينه ناخبر مشر. اشرف غني حضرت امام حسين نواسه خدا (العياذ بالله) او د جنازي په لمانځه کې د تکبير په ځای رکوع او د مأثورو د عاگانو د ويلو په ځای لاسونه غوړونو ته وړي.

همدا داسلامي ثقافت مضمون دی چې د نورو مسلکي مضامينو ترڅنگ د هيواد تحصيلي نسل د اسلام د مقدس دين له اساساتو ، دهغه له ارزښتونو او اسلامي شعائرو سره اشناکوي.

افغانستان چې يو اسلامي هيواد اومطلق اکثريت اوسيدونکي يې مسلمانان دي په کار ده چې د هغه د معارف او تحصلي مؤسسو فارغين تر هرمسلک له مخه په دين پوه مسلمانان وي.

کله چې په يوه ډاکټر، انجنير، اقتصاد پوه حقوقدان سياست پوه او ... د اسلامي عقيدې په اساساتو او اسلامي شعائرو پوه وي هغه هيڅکله هم د خپل ولس او خاورې په خلاف د خيانت کولو عزم او اراده نه کوي.

باشعوره مسلمان کدرونه زمونږ د اوسنۍ ټولنې مهم ضرورت او هغوی تر بل هرڅا د خپل ولس او خاوري په اړه د قرباني ښه احساس لري.

هغوی تر بل هرڅا له مخه د خاوري او ولس ښه خدمتگاران جوړيداشي او تر بل هرچا وړاندې همدوی د قربانۍ او ټولنيز خدمت ډگرته وردانگي.

اشرف غني یې مندر ته ولې ورووست ؟

خلیل - عزم

دکابل مزدور رژیم مشر هندوستان ته دخپل ورستي سفرپه مهال په هغواوتوبوتوسربیره چې له تیرو ۱۶ کلونوراهیسي- یې دده په شمول دکابل لاسپوخي رژیمونه وایي اوهیڅ نتیجه هم په لاس نه ورځي ، داواریې خپل بادارته دتل پاتي ثبوت اوغلامۍ دوړاندې کولوپه خاطر آن دنوموړي هیواد یوه (مندر) ته ورغی اوسجده یې ورته وکړه.

اشرف غني هندوستان ته دسفرپه مهال په مسلسل ډول په افغانستان کې دبهرني وحشي اشغال په وړاندې دروان مقاومت جرړي له گاونډي هیواد (پاکستان) سره وتړلې اوتوریې ولگاوه چې پاکستان داسلامي امارت مرسته کوي !!!

په دغوډول تورونو اوپروپاگنډو باندې له یوې نیمې لسیزې ډیروخت واوښت اوپه هره مرحله کې چې اجیررژیم دمجاهدینوله لوري کلک گوزار لیدلی اویاېې بادارانو له درنو زیانو اوتلفاتوسره مخ شوي نوداذهانوداغفال اومصروفولولپاره یې دغې سولیدلې پلمې اوچلوټې ته لاس ورغځولی

په دې ورستیونیږدی میاشتوکې چې کابل رژیم اوخارجي بادارانو یې دمجاهدینوترکلکې اوسختې محاصرې لاندې راغلي ،ولایتونه یې له لاسه وتلي اولسگونه ولسوالی دمجاهدینو تر بشپړې سلطې لاندې راغلي اوهم ددښمن ترټولو حساس نظامي اوامنیتي مرکزونه ترپریکنده بریدونو اوحملولاندې راغلي ،نواشرف غي اوشړیدلی رژیم یې اړدی چې په اصطلاح هغې زړې ببولالې ته بیالاس وراوږد وکړي چې گواکې پاکستان له اسلامي امارت سره همکار اومرستندوی دی .

اشرف غني اودگډوډ رژیم ماشین یې سره لدې چې امریکا ، ناټو اومتحدین یې اوږه په اوږه ورسره روان اوهمکاردي، اوداسلامي امارت دمقابلې لپاره هرکال په ملیاردونو ډالرو پرې لوروي، څوک ورته درنې ورسلې ورکوي،څوک پیشرفته بمونه په اختیارکې ورکوي څوک نوې چورلکي اوجنگي الوتکي ورته رالیږلي اوڅوک ورته زړې ترمیموي ؛ولې بیاهم دغه شرمیدلې اداره دنړۍ دمفسدوهیوادونودریم اوځلورم نوم خپلوي، په فقراوبې وزلۍ کې دافریقایي هیوادونوڅخه په لاندې کتار کې راځي ،په امنیتي برخه کې دومره ناتوانه دی چې ارگ ، دفاع وزارت اودملي امنیت ودانۍ اومهم تاسیسات یې دمجاهدینوله هجومي اوفدایي بریدونومحفوظ نشي- پاته کیدلای

له بلې خوا دامریکانوی قیادت هم په صریحوالفاظوورته ویلي چې دکابل اداري چارواکي ټول غله اولوټماردي اودې وړتیانلري چې افغانانوته خدمت وکړي او د امریکادغه دریځ او تصمیم له شک پرته چې په ټول غرب اثر کوي اوممکن هریوله کابل رژیم څخه له یوې نه بلې ورځې ته زړه توری اومخ ترې واړوي

نواشرف غني ته په دغسې حالاتوکې صرف یوهندوستان پاتې دی اوهندوستان بیادافغانانوغم اودرد نه دی اخیستی هغه له پاکستان سره تاریخي رقابت اودښمنی لري اوغواړي چې هغه دښمني د افغانستان له لارې له پاکستان سره پرمخ بیوځي، نوله همدې امله په دې ورستیو وختونو کې هندوستان اعظمي هڅه کړي چې دکابل رژیم ځانته نیږدې اومنونکی وساتي اوڅه یې چې زړه کې وي هغه دکابل رژیم په توسط ووایي او یا یې ترسره کړي .

داچې څوورځې دمخه اشرف غني په هندوستان کې کوم خبرې وکړې اوحتی په دې سربیره چې ځان دیوه مسلمان هیواد ولسمشر بولي اودافغانیت نسبت هم ځانته کوي ،خوپه دغوټولونسبتونواودعوو یې پښه کیښوده دهندوستان له ړومبي وزیرسره دډهلي مشهورمندر ته ورغی اوهلته یې ورته سجده ولگوله ،نوویلای شوچې داټول هغه څه دي چې داشرف غني په تشخص ، عقیده اوخیره کې دهندوستان دیوه حلقه بگوش غلام ثبوت وړاندې کوي او د پردیو دشومو اهدافو لپاره له اسلام اوافغانیت سره دغه برالا دښمني اوتل پاتې جفا ښکاره کوي.

د اوباما دستاینې وړ اعتراف

سید شریف

د امریکایي ولسمشر اوباما اعتراف چي:(داسلامي امارت مجاهدین له منځه نشي وړلای) دنوموړي هوښیاري په ګوته کوي، اوبامادواک په وروستیو شپو کې خپل ولس اونړیوالو ته رښتیا و ویل او پر هغه حقیقت او واقعیت یې اعتراف وکړ چې د نوموړي په ګډون امریکایي مشرانو پنځلس کاله پټ ساتلی ؤ.

اسلامي امارت د ولس له منځ څخه راپورته شوی هغه خوځښت او ځواک دی چي په نوي یمه لسیزه کې یې ګران هیواد افغانستان له تجزیې څخه وژغوره،ملوک الطوایفي یې محوه کړه،انارشي یې نابود کړه او دولس دخوښي سره سم اسلامي نظام یې قایم کړ.

اسلامي امارت د بېساري انارشی څخه وروسته سرتاسري امنیت تامین کړ،عدالت یې تطبیق کړ،مرکزي حاکمیت یې تینګ کړ،د هیواد پولې یې وساتلې او دمجاهدولس مراوي هیلې او امیدونه یې ګل کړل.

اسلامي امارت نه امریکا یا بل هیواد کې کوم برید کړی او نه هم برید کونکي افغانان وو،خو دامریکا احمق ولسمشر بوش پر افغانستان وحشیانه یرغل وکړ،د خلکو دخوښي نظام یې له منځه یوور،پخواني قاتل کمونستان او پاټکسالاران یې د بې لاري غرب مشربه تکنکراتانو په شمول د واک پر ګدی نصب کړل.

نوي ډیموکراتي اداري د یرغلګرو د پوځي، اقتصادي او سیاسي بشپړ حمایت ترچتر لاندي د توپکسالاری د توري دورې په څېر دولس پر ځان،مال،عزت،تجاوز وکړ،ملي شتمنی یې خپل منځ کې تقسیم کړې،په زرهاوو اکتاره دولتي او شخصي مځکې یې غصب کړې او پردیو ته د جاسوسی په پیسو یې اسمان څکې ماڼۍ پورې ودانی کړې.

اسلامي امارت دخپل مجاهد ولس په ملاتړدیرغل له اولي ورځې د اشغالګرو او داخلي غلامانو پر ضد یې مقدسه جهادي مبارزه پیل کړه، یرغلګرو او داخلي ګوډاګیانو یې دجهادي ولسي مبارزې د له منځه وړلو په موخه له هیڅ راز وحشت او دهشت څخه دریغ ونه کړ،خو د الله تعالی په نصرت دښمن خپلو موخو ته ونه رسید،جهادي پاڅون پنځلس کال وروسته نه یوازي داچې جاري،بلکي تر هروخت په قوي نظامي او سیاسي بنه موجود دی او دهیواد اکثره سیمې یې تر واک لاندي دي.

د ملتونو تاریخ ثابته کړې چې یرغلګرو او تاړاکګرو د پوره زور،زر او تذویر سره سره ملي پاڅونونه له منځه نه دي وړي،اشغالګرو که هرڅومره وحشت تکرار کړی پای یې په بشپړه ماته منتج شوی دی، افغان ولس په خپله روښانه ماضي کې دهیڅ زبر ځواک واک نه دی منلی،کور یې ویجاړ شوی،شتمنی یې چور شوي،خپل سر یې ښندلی خو د پردیو دغلامی جغ ته یې غاړه نه ده ټیټه کړې.

دیرغلګرو پر ضد داسلامي امارت روان جهاد هغه ملي پاڅون دی چې د یرغلګرو د هر اړخیز زور او وحشت سربیره خپله سپېڅلې مبارزه پر مخ بیایي،اشغالګرو او کابل رژیم افغان ولس ته بېساري ځاني اومالي زیانونه رسولي،خو ولس له خپلې برحقې داعیې ستومانه شوی نه دی،لایې روحیه پیاوړې شوې، د هیواد دخپلواکی جذبه یې تانده شوې او د خپل پاک ارمان اسلامي نظام د قیام هیلې یې تازه شوي دي.

د اسلامي امارت پر پیاوړتیااو د له منځه وړلو پر ناشونتیا یې داوباما اقرار د ستاینې وړ دی،د امریکا نوی مشرتابه باید د اوباما همدغه اعتراف جدي ونیسي او د کار پیل بایدله افغانستان څخه د خپلو پوځیانو پر بشپړ ایستلو وکړي.

زبیر مجاهد

په اروزګان کې مو څه ولیدل؟

روزګان ولایت د افغانستان له مرکزي ولایاتو څخه دی چې د غزني،زابل،دایکندي،غور، هلمند او کندهار ولایاتو تر منځ پروت دی.روزګان هغه سیمه ده چې یوه نیمه لسیزه وړاندې د امریکایي یرغل په مهال د اسلامي امارت په خلاف لومړنی بغاوت له همدې ځایه د حامدکرزي لخوا پیل شو چې بیا امریکایانو، هالنډیانو او استرالیایي ځواکونو په دې ولایت کې د خپل ناروا حاکمیت د ټینګښت لپاره ډېرې خوارۍ وکړې، سیمه پر سیمه یې قرارګاوې جوړې کړې ، ملیشې او اربکیان یې استخدام کړل او سخت عملیات او جنایات یې ترسره کړل.

خو الله الحمد د څو کلونو په تیریدو او د متداوم جهاد په برکت اوس روزګان ولایت یو ځل بیا د اسلامي حاکمیت تر زرینو وړانګو لاندې راغلی دی.څو اونۍ وړاندې د اسلامي امارت د فرهنګي کمیسیون یوه مطبوعاتي ټیم دې ولایت ته سفر درلود چې غواړم دلته ددې سفر په ترڅ کې د خپلو سترګو لیدلې خاطرې او حقائق درسره شریک کړم.

موږ خپل سفر د روزګان ولایت د خاص روزګان له ولسوالۍ څخه پیل کړ،دا د روزګان تر ټولو پراخه او ګڼ نفوسه ولسوالي ده چې له غزني،زابل او دایکندي ولایاتو سره ګډه پوله لري، یو وخت په دې ولسوالۍ کې ددښمن ډېر زیات قوت موجود و،په خارجي کفارو سربیره محلي ملیشې لکه د حکیم شجاعي ملیشې او د قومندان صمد اربکیان د سیمې په کلیو او درو حاکم و خو مجاهدینو د جهاد او دعوت په برکت دغه سیمه له دښمن څخه خلاصه کړه، اوس ددې ولسولۍ ټولې ولس میشتې سیمې لکه شالۍناوه، سلطان محمد ناوه اونوړې علاقې دمجاهدینو په کنترول کې دي. یونیم کال کیږي چې دښمن د ولسوالۍ په مرکز کې محاصره ده چې یوازې یو کیلومتره مربع ساحه یې تر اثر لاندې ده، دښمن ته اکمالات په الوتکو کیږي، د ولسوالۍ بازارونه او ټول اطرافي مناطق په ټولیز ډول د سپین بیرغ تر سیورې لاندې د ارام ساه اخلي.

ورپسې د دهراوود ولسوالۍ ته لاړو دهراود ولسوالي د مرکز ترین کوټ لویدیځ اړخ ته موقعیت لري. د ترین کوټ او دهراود تر منځ د کوتل مورچې په نوم یوه غرنۍ سیمه ده چې ډېر ستراتیژیک اهمیت لري. دغه سیمه پخوا ددښمن په لاس کې وه چې د ټینګښت لپاره یې په کې یوه لویه قرارګاه او ۴ محکمې پوستې جوړې کړې وې.په دې توګه دشمن نه یوازې تر دهراوود پورې اکمالاتي لار په خپل واک کې ساتلې وه بلکې علاوه دا چې په مجاهدینو یې د هلمند پر خوا د تګ لاره هم بنده کړې وه تردې چې د هلمند په خوا تلونکي یا راتلونکي مجاهدین اړ و یوه نیم شبانه روز اضافه مزل وکړي.

خو د سږ کال عمري عملیاتو په لړ کې د کوتل مورچې ساحه په بشپړه توګه فتحه او ددښمن مراکز او پوستې له منځه وړل شوې وې،چې په دې توګه ددښمن عسکر د دهراوود په مرکز کې محاصره شول او د هلمند او روزګان مجاهدین سره وصل شول.

په دهراوود ولسوالۍ کې خو ډیرې سیمې تیر کال د عزم عملیاتو په لړ کې فتحه شوې وې خو بیا هم مجاهدینو په دې ولسوالۍ کې پرمختګونه درلودل او له ولسوالۍ بهر ددښمن څلور قرارګاوې یې سږکال له دښمن څخه نیولې وې چې په دې ډول دښمن یوازې د ولسوالۍ تر چاردیوالۍ پورې محدود شوی و.

په روزګان کې بله مهمه جهادي سیمه د د درویشان ناوه ده چې له مرکز ترین کوټ څخه شمال خواته د چورې ولسوالۍ په خوا غځیدلې او بیا همدا لاره تر ګیزاب او دایکندي ولایت پورې تللې ده.دغه دره چې تر چورې ولسوالۍ پورې څلویښت کیلومتره اوږدوالی لري څینې برخې یې د چورې ولسوالۍ او څینې یې د مرکز ترین کوټ مربوط دي.

دغه دره اوس مکمله د مجاهدینو په لاس کې ده ددښمن عسکر د چورې په ولسوالۍ مرکز کې محاصره دي د مرکز ترین کوټ مربوط د سجاول، کیپټو، او محمد هاشم قرارګاوو په شمول ددښمن لسګونه پوستې فتحه شوې دي او لویه لار د مجاهدینو لاس ته ورغلې. د یادو قرارګاوو له جملې د سجاول قرارګاه مجاهدینو په جنګ نیولې او نورې تسلیم شوي دي. په دې دره کې د قاهرخان په نوم قومندان چې د ۳۲ پوستې یې درلودې له خپلو کسانو سره مجاهدینو ته تسلیم شوی دی.

موږ په سیمه کې له موجودو هغه داخلي عسکرو سره هم ولیدل چې مجاهدینو ته له خپلو ټولو وسائلو سره تسلیم شوي وو. د محمدهاشم خان قرارګاه قومندان راته وویل: موږ ته به د پوځي تعلیم په وخت ویل کیدل چې مجاهدین پردي یرغلګر دي چې له پاکستان او پنجاب څخه راغلي او په افغانستان یې تیری کړی دی، له اولس سره ظلم کوي او ډیر جنایات یې ترسره کړي دي. مګر اوس چې موږ مجاهدین له نږدې ولیدل دوی د اخلاقو تر ټولو ښه مثالونه دي، له موږ سره یې د بندیانو په حیث هیڅ بد چلند نه دی کړی بلکې کوم خوراک او څښاک چې دوی کوي موږ ته یې هم راکوي حتی د والي او حلقه مشر په شمول مشران یې په موږ پوښتنه کوي او شکایت مو اوري. ددې حالت په لیدو زه په دې پښیمانه یم چې څو کاله د کفاروپه خبرو غولیدلی وم او له مجاهدنیو سره مې جګړه کوله، زه که بیا فرصت پیدا کړم د اشغالګرو امریکایانو په خلاف به جهاد کوم او یا به خپل شخصي ژوند ته ادامه ورکوم او له مجاهدینو سره به مرسته کوم.

یوه بل هزاره پولیس چې د کندز ولایت اوسیدونکی و او اوس مجاهدینو ته تسلیم شوی و، موږ ته یې وویل : په کابل کې د پوځي تعلیم په وخت به خارجي او داخلي مربیانو موږ ته ویل چې طالبان د افغان اولس دښمنان دي او سخت قومي او ژبني تعصب لري. تاسو هر څه کوئ مګر ګورئ چې ورته تسلیم نه شئ او نه هم ځان ژوندی په لاس ورکړئ، ځکه که طالبانو ته ژوندي په لاس ورغلئ نو بیا مو په مرمۍ نه وژني بلکې د موچي په تار مو حلالوي.

مګر موږ چې کله طالبانو ته په لاس ورغلو هغوی راسره هیڅ بد چلند ونکړ، زموږ لپاره یې پسونه حلال کړي وو او لویه میلمستیا یې تیاره کړې وه، هغوی له بندیانو سره هیڅ ډول زیاتی او ظلم نه کوي چې ددې حالت په لیدو ما ایله اوس طالبان وپیژندل چې لکه څرنګه یې چې د اسلام شعار په خوله دی په عمل کې هم واقعي مسلمانان او د اسلام احکامو ته ژمن دي. نو زه له همدې ځایه ټولو حکومتي

عسکرو ته وایم چې له طالبانو ته ویره نه کوي بلکې پـه پـوره ډاډ دې تسـليم شي او ځـان دې لـه مرګ او تباهۍ وژغوري.

د روزګان د مرکز ترين کوټ په مربوطـاتو کـې لـه تيـرو دوه نيمو مياشتو راهيسې مجاهـدينو پراخې سيمې فتحه کړې او دښمن يې د بازار په محدوده کـې ايسـار کړی دی.د روزګان د مجاهدينو په وينا له تير لوی اختر راهيسې چې دوی په ترين کوټ کې عمليات پيل کـــړي،د ښـــکته درويشــــان، ګرماب،مراباد او پايناوه سيمې يې ددښمن له شتون څخه پاکې کـړې دي چې په دې ټولو سـيمو کـې د مفتوحه پوستو او قرارګاوو شـمير تــر ۱۵۰ پــورې رسـيږي. دغـه پوسـتې او قرارګـاوې زيـاتره پـه جنګ نيـول شـوې او ځينـې يـې تسليم شوي دي.

په مفتوحه مراکـزو کـې يـو مهم کنډک د ترين کوټ مربـوط د کرنا په سيمه کـې و چـې د نظـم عامه د ځلور نمبر کنـډک پـه نـوم ياديږي. دغه کنډک چې په پاخه او اساسي ډول جوړ شوی امريکايانو يې په ودانولـو څـوارلس مليونـه ډالر لګولي او عصري ودانۍ يې په کې جوړې دي.په دې کنډک کـې د

قومندان شيرمحمد په شمول ۷۳ تنه عسکر مجاهدينو ته تسليم شول دغه راز يې ۲۸ شوبلې يا هاموي وسايط ۳۰ رينجر موټر سلګونه ميله مختلف النوع سپکه وسـله او دوه د وسلو او مهماتو ډک ډيپوګان يې مجاهدينو ته تسليم کړل.مجاهدين لـه کنـډک څخه وسلې، وسايط او مهمات خوندي ځايونو ته انتقال کړل اود کنډک وداني يـې د هيواد ديوې تعميراتي شتمنۍ په حيث سالمه ساتلې تر څو په مناسـب وخـت کـې د هيواد او اولس لپاره مناسبه استفاده ترې وشي.

لکه وړاندې چې وويل شول د روزګان ولايت په ټولو سـيمو کـې ددښـمن زور اوبه شوی يوازې د ولسواليو مراکز يې د وروستيو پناه ځايونو په حيث ټينـګ کـړي دي دغه راز مرکز ترين کوټ ددوی يوازينۍ داسې سيمه ده چې يو څه قوت په کـې لري خو دغه ښارګوټی هم له ځلورو خواوو مجاهدينو محاصره کـړی دی. مـثلا د د شمال مغرب خواته د چولنګر په استقامت مجاهدين دښار په نيم کيلومترۍ کې پراته دي.ختيځ خواته د سرچخلو دوراهي چې د ښار دروازه پـه کـې واقـع ده مجاهـدين ورسره پيوسته شتون لري. مشرق خواته د شپه خاک حاکمه غونډۍ چې ښـار تـرې لاندې دی د مجاهدينو په واک کې ده لويديځ خواته د تلني سيمه چې د ښار پـه نـيم کيلومتري کې ده هم د مجاهدينو تر واک لاندې ده په دې ډول دښمن له هرې خوا په مرکز ترين کوټ کې محاصره شوی دی.

په سيمه کې چې موږ ددښمن وضعيت ليـد يـا مـو د مخـابرو لـه لارې ددوی خبرې اوريدې دښمن په بشپړ ډول جنګـي مـورال بـايللی دی مـوږ اوريـدل چـې عسکرو به يې خپلو قومندانانو په مخابرو کې سپکې سپورې او ښکنځلې کولې او تر خپل منځ يې هيڅ هماهنګي او تشريک مساعي نه درلوده.

په روزګان کې زموږ د مشاهداتو له مخې يو تريخ حقيقت ددښمن مظالم او په ولسي خلکو ړانده توپونه ويشتل وو چې په ځينو سيمو کـې يـې اوس هـم جريـان

درلود. د روزګان عامو خلکو چې اوس یې داسلامي امارت تر واک لاندې د امن ژوند کاوو ددښمن له تیرو څو کلنو مظالمو یې خورا ترخې خاطرې بیانولې،د ترین کوټ مربوط د خورما په سیمه کې یوه ځوان چې په بدن یې د زخمونو نښې وې راته وویل چې د اردو عسکرو د مجاهدینو ماین کشف کړی و او بیا یې موږ درې تنه اولسي خلک مجبور کړو چې ورشئ او هغه ماین راوباسئ، موږ انکار وکړ خو دوی د مرګ ګواښ راته وکړ موږ یې چې په زور وروستو نو د نابلدئ له امله ماین په موږ انفجار شو او دوه کسه شدید زخمیان شوو.

دغه راز اوس هم په هغو سیمو کې چې ددښمن د توپو ګوزارونه ورته رارسیدل لکه ګرماب، پایناوه، شامنصور، محمددین خان اډه ، کوټوال او نوري سیمې دښمن د روزګان له هوایي ډګر څخه په ډي سي توپونو ویشتل او په ړندو او بې خریطې فیرونو کې یې اولس ته روزمره تلفات اړول.په روزګان کې ددښمن د ظلم او جنایت یوه بله پیښه د درویشان درې د محمد هاشم خان قرارګاه په سیمه کې رامنځته شوه،کله چې دغه قرارګاه د شپې په نهه بجې مجاهدینو ته تسلیم شوه مجاهدینو په تیاره کې د قرارګاه ټول وسایط ، وسایل او عسکر نقل کړل سبا سهار یو شمیر ولسي خلک چې د شاوخوا کورونو او کلیو ماشوم هلکان اونجونې هم په کې وې د قرارګاه شاوخوا ته د سیل او ننداریې لپاره ورغلل، مجاهدینو دوی ته وویل چې له دې سیمې لرې شي ځکه کیدای شي امریکایان بمبار وکړي، خو ولسي خلکو ویل چې موږ خو عام اولسي خلک یو چې اکثره یې ماشومان وو امریکایان په موږ ولې بمبار کوي. خو څه شیبې وروسته لومړی د امریکایانو چورلکې راغلې په سیمه یې دورې ووهلې ، وروسته جټ طیارې راغلې او په دې خلکو یې درانه بمونه وغورځول چې په نتیجه کې یې ۳۵ تنه ولسي خلک شهیدان او ۱۵ نور ټپیان شول. د روزګان محلي چارواکو او په خاص ډول د روزګان امنیه قومندان ولي جان سرحدي رسنیو ته وویل چې دغه کار موږ قصدا کړی ځکه وژل شوي کسان ټول طالبان دي، مګر کله چې حقیقت روښانه شو چې عام ولسي- وګړي وژل شوي امریکایي میدیا دا خبره پټه کړه او بیا یې هیڅ رسنۍ راپور خپور نه کړ تردې چې د اسلامي امارت د الامارة سټوډیو لخوا وړاندې مستند ویډیویي راپور نشر شو.

د اشغالګرو او ګوډاګیانو له یو شمیر مظالمو پرته نور په روزګان کې عمومي وضعیت د ډاډ او خوښۍ وړ و . کوم خلک چې د اشغالګرو له اذیت څخه خلاص شوي او سیمې یې د مجاهدینو تر واک لاندې راغلې وې له حالاتو ډیر خوشاله ول، امنیت تامین و، کلي او بازارونه له ګڼې ګوڼې ډک و، مجاهدینو په ملکي برخه کې هم فعالیت ته توجه درلوده د بیلګې په توګه لکه د مجاهدینو روغتیایي مراکزو عام اولس ته هم صحي خدمات وړاندې کول دغه راز د د روزګان او زابل تر منځ لاره چې پخوا یوه فرعي او خرابه لاره وه اوس له سره جوړه او پراخه شوې وه چې حتی لویو موټرو هم وړاندې په اسانۍ تګ راتګ کولای شوی دغه نوې جوړه شوې لاره چې د روزګان له مرکز ترین کوټ څخه په خاص روزګان د زابل خاک افغان او ارغنداب سیمو ته اوړي جوړښت یې ولسي وګړو ته لوی سهولت رامنځته کړی و.

نو دا د روزګان له ولایت څخه هغه د سترګو لیدلي حالات و چې تاسو ته په لنډون سره وړاندې شول.

د حق د بریا او باطل د سرکوبۍ په هیله

دشهید قوماندان ملا نقیب الله مدني (رحمه الله)

إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَىٰ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَ أَمْوَالَهُمْ بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ

زوکړه : شهیدملا نقیب الله مدني دمرحوم محمدشاه په یوه دیندوسته متدینه کورنۍ کې دې پاني نړۍ ته سترګې وغوړولي .

استوګنه : شهیدملا نقیب الله مدني دپکتیا ولایت داحمدخیلو لسوالي دموشکي کلي اوسیدونکي و .

هجرت کول : کله چې سرو روسانو په ګران هیوادیرغل وکړ نو شهیدملا نقیب الله مدني هم دنورو لکونو افغانانوپه څیر له خپل ټاټوبي څخه هجرت وکړ اوپه پاکستان کې دمهاجرینو په مختلفو کیمپونوکې استوګن شو.

زده کړې : شهید ملا نقیب الله مدني لومړنۍ زده کړې په خپل کور کې له مشر- ورور مولوي زاهدالله څخه پیل کړې اودنورو زده کړو لپاره دمردان په مختلفو مدرسوکې یې درسونه ولوستل ، داچې دنوموړي د قران کریم له حفظ سره ډیرشوق و نوزده کړې یې په نیمه کې پریښودله او دقران کریم حفظ ته یې ملا وتړله او له خپل ورور قاري عبدالله نه یې شپږ سپاري یادې کړې . خو دا چې په نوموړي شهید باندې دجهاد جذبه غالبه اووخت په وخت به یې دجهاد سنګرونه ګرم ساتل نوله دې آمله یې ونه شوی کولای چې حفظ او نورې زده کړې سرته ورسوي .

بیعت اوطریقت : په تصوفو کې یې بیعت دپیرسباق شریف دسلطان الاولیاء حضرت بابا جي صاحب رحمه الله نه کړی و .

خوی اواخلاق : شهید ملا نقیب الله مدني فطرتا دښواوښکلو اخلاقو خاوند ؤ ، ښکلی سپین رنګ یې درلود، درمیانه قداوقامت یې ؤ . چې چابه هم ورسره ناسته وکړه نو تردېره وخته به یې نه هیرولو . همیش به دده په خوله خوږې خبرې جاري وي اوپه مخ مبارک به یې مسکا ښکاریده . دهرمخلص مسلمان ورور سره به یې درحم اومهرباني په فضاء کې وخت تیرولو اودکفارو اوددوي له غلامانو ددې ایت کریمه دیرښه مصداق و چې فرمایي : اشداء علی الکفار رحماء بینهم .

د ډیرخوراک اوخبرو عادت یې نه ؤ، اوله دنیاڅخه ډیر بې رغبته . سره له دې چې دکومې مدرسي نه فارغ نه ؤ خو چې د علماء کراموورسره ملاقات وشو اودده مؤدبانه خبرې به واوریدلي نوورته ویل به یې چې مولوي صاحب له کومې مدرسي نه فارغ یې؟ اویابه یې ورته وویل چې لمانځه ته مخکې شه ! نوده به ورته وویل چې زه عالم یاقاري نه یم خو له علماء اوصلحاء سره مې ډیره مینه ده .

دده ټول عادتونه دعلماء کرامو په شان ؤ ځکه چې دده ډیره ناسته له علماء کرامو اوصلحاؤ سره وه ، ځکه خو وایې چې :

صحبت صالح ترا صالح کند

صحبت طالح ترا طالح کند

جهادي مبارزه : لکه مخکې چې تذکره وشوه چې دنوموړي شهید له جهاد سره بې کچې مینه وه ، چې کله به یې فرصت پیداکړ نو سنګر ته به یې ځان رساوه ، له جهاد اومبارزې سره دده دمینې په وجه دټولو ملګرو توجه ځان ته راجلب کړ او دخپلې علاقې ټولو مجاهدینو خپل مشراوقومندان مقرر کړ ، او همدا وجه وه چې دامارت مشرانولخوا ورته ځانګړې ډلګي منظوره شوه اودپکتیا په مختلفو محاذونوکې یې داعلاء دکلمة الله لپار دیرغلګرو سره کلکه مقابله وکړه اوډیرزیانونه یې ور واړول .

نوموړي شهیدرحمه الله ځانګړتیاوې : شهیدملا نقیب الله تـه الله تعالي جل جلالـه ډیرځانګړي خویونه ورکړي و،دمجاهدینو خدمت یې خپل شعارګرځولی ؤ ، تردې پورې چې یو ځل یې دبې هوشي په وخت کې ویل چې کاش ! دمجاهدینو قدمونه وای اوزما سترګي .

له عامو مسلمانانو سره دده په چلند اوښه رویه باندې دعلاقې عام اوخاص اعتراف کوي . همدا وجه وه چې په منطقه کې یې ډیرمحبوبیت درلود او ددې دځانګړیو اخلاقو په وجه په لر اوبر کې مشهورؤ . که څه هم چې چابه لیدلی نه ؤ خو له نوم سره یې اشناؤ اودده صفتونه به یې کول ،ډیرځله داسې پیښه شوي چې دی به ناست ؤ اودده صفت به ویې شروع کړ نو ده به ورته وویل چې نه دومره ښه سړي هم نه ده لکه تـه یې چې یاده وي ، هسې مشهور شوی ده .

شهیدملانقیب الله مدني تـه الله تعالي ډیره عاجزي ورکړې وه ، کله به چې په مجلس کې ناست و نـو لـه عامو مجاهدینو سره یې هیڅ فرق اوامتیاز نه ؤ ، ډیرځله بـه چې په مجلس کې یوچا دقومندان په صفت معرفي کړ نـوده بـه سر ښکته ونیو. دملګرو ترمنځ بـه یې پوره عدل اوانصاف کاوه ، چې څومره کوم ملګري اسلام ته وفاداري اومخلص ؤ هغه ده تـه نږدې ؤ ، لـه همدي آملـه دده پـه ډلګۍ کې دمختلفو ولایاتو مجاهدین موجود ؤ ، قومي اولساني امتیازات یې بد راتلل .

نوموړي شهید رحمه الله ډیرزیات زړور اوشجاعت مندؤ ، پـه دښمن باندې حملـه بـه یې پـه ډیر زیرکتیا او تکتیک سره کوله ، له همدي آمله په کوم جنګ کې بـه چې نوموړي موجود ؤ نو ټول ملګري به ډیر ډاډه او پوره میړانـه به یې ښودله . همیش به یې خپلوملګروته ویل چې هرانسان مرګ په خپل وخت راځي ، پـه کومـه مرمۍ چې ستانوم لیکلی وي اوپـه تقدیرکې دتا لپارمقرر وي ،هغـه بـه خامخادرته رسیږي ، همدا وجه وه چې نوموړی پـه همیشه دجنګ پـه وخت کې دټولوملګرو پـه سرکې موجود ؤ، اودځینو قومندانانو په څیربه له ملګرو هیڅکله نـه ورسته کیده .

دامریکادځوارلس کلن اشغال پـه دورکې یې ډیرامریکایان اودهغوي مزدوران دجهنم کندې تـه حوالـه کړل .

جهادي تجربـه : نوموړی شهیدرحمه الله دجنګ پـه نقشه کې ډیرمهارت درلود، چې کلـه بـه یې دجنګ نقشـه اومجاهدینوبه په هغه ترتیب جنګ وکړ دنویقینا بـه فتحـه دمجاهدینو په برخه وه . اوکه به کوم مجاهد د ده دترتیب شوي نقشه خلاف کړی و اوملګرو ته به نقصان رسیدلی و نو ملګرو په دې اقرار وکړو چې په دې ځای کې مونږ دخپل

قوماندان له نقشې سرغړونه کړې وه ، څکه مونږ تـه نقصـان ورسیده .

ددې ټولـو سره سره د ده هرجنـګ اومبـارزه يـوازې داعلاء کلمة الله ، شرعي نظام دحاکمیت اودالله تعالي درضا دحصـول لپـاره وه ، دخـاورې ، قـوم اوتنظیمـي موخـو لپـاره هیڅکله نه وه .

دشهادت شوق اوتمنا : اتل شهیدملا نقیـب الله مـدني به همیش داسوال کولو چې یا الله ! داسې شهادت رانصیب کړې چې تاته قبول وي ، اوته پرې راضي وي . یقینا چې لکه چې دده دغه دعاوې قبـولي شـوې وي اودیرلـه کرامـت نـه ډک شهادت الله تعالي ورپه برخه کړ .

وروسته پاتـه کـورنۍ : دشـهید مـلا نقیـب الله مـدني رحمه الله دخپلـو څلـورو واړو ورونـو کشر- ورور ؤ چې مشر- ورور یـې تکـړه عـالم اومـدرس مولـوي زاهـدالله ، الـف شاه، حافظ عبدالله ، او عارف الله نومیږي . او څلورېې زامـن دي : دادالله ، نصرت الله ، محمدعمراو محمدمنصور .

الحمدلله ګڼ شمیرویرونه هم لـري ، الله تعـالي دې لـه ټولونه ،دده دپاکو وینو په برکت ددین خدمتونه واخلي .

کرامت : دده پـه جنـازه کـې پـه زرګونوخلکـو شرکـت کړی و، چې چاته دده دشهادت خبر رسیدلی اوشرکت ورته ممکن ؤ نو ضرور یې دده اخیرنـی ملاقـات اوپـه جنـازه کـې ګډون کړی اوله ده سره دخپلې مینې اظهار کړی واودده په فراق یې له سترګو نـه بـې اختیـاره بهیـدلې . دا ددې دلیـل دی چې نومـوړي شـهیدپه خلکـو کـې دیرزیـات محبوبیـت درلوده . دشهیدملا نقیـب الله مـدني پـه جنـازه کـې دومـره خلکو ګډون کړی ؤ چې په دې علاقه کې یې څاری نه لیـدل کیده ، هرمسلمان به بیا بیـا غوښـتل چـې اخیـري دیـداریې وکړي .

غلامې اداري ډیرخلک دده له جنازه څخه ایسار کړي ؤ اونه یې ورته راپریښودل .

کومومسلمانانو چې دده په جنـازه کـې ګـډون کـړی ؤ دهغوي له جهادسره نوره هم مینه اوجذبې زیاتې شوې .

الله تعالي دې ټولومسلمانانو ته چې دده په جنـازه کـې ګډون کړی وي ،دده شفاعت ورپه نصیب کړي امین .

کله چې ملانقیب الله مدني زخمـي شـو نـو تـر پنځلس دقیقو پورې یې په ژبه دالله تعالي داسم ذات ذکر چـې الله ، الله ، الله دی جاري و.

اوکله یې چې په قبرکې کیښودل شـو نـو ده پـه شـنډو مسکا وکړه اووفـادارو ملګـرو دفـراق اوښـکي تویـه ولي ، پـه قبرکـې کیښـودنکو ملګـرو داسـې احسـاس کـاوه لکـه چـې قـبردده پـه راتلـو بانـدې خوښـي ښکاره کـوي . او ولي بـه دخوښې اظهارنه کوي ،خامخابه یې کـوي څکـه چـې داهغـه مخلص مؤمن ،غیرتي اوسپیڅلی پـاک مجاهـدؤ چـې خپلـه ځواني ،مال اوهرڅه یې په الله تعالي خـرڅ کـړل اودهغـې پـه عوض کې الله خپله رضا، خپل قروب اوخپل دیدار اوجنتونـه ورته نصیب کوي.

دشـهادت تـاریخ : محـترم اواتـل شـهیدقوماندان مـلا نقیـب الله مـدني دپنځـه دیـرش ۳۵کلونـو پـه عمـر پـه ۱۴۳۷هجري دذوالحجې دمیاشتې په ۱۴مه دجمعې مبـارکې په ورځ دخپل سرقرباني دخپل پروردګار پـه حضـورکې پیـش کړه ، په داسې حـال کـې چـې یوڅـوورځې مخکـې پـه لکونـو مسلمانان دخپل مالونو قرباني کړې وه اودشهادت لوړ مقام ته ورسیده اوله خپل رب سره یې وصال وشو انـا لله وانـا الیـه راجعون .

روح مبارک دې ښاد اویاد یې تل اوسه

ایا لیوني سپي به لیونۍ جګړه وګټلای شي؟

عبدالرحیم (ثاقب)

د امریکا نوی منتخب ولس مشر ډونلډ ټرمپ غـواړي جنرال جـیمس مـاټیس Gen. James Mattis د پنټاګون د مشر (دفاغ وزیر) په توګه وټاکي.

جنرال جیمس په کال ۲۰۰۱ کې د هیواد په جنوب کې د امریکایي ځواکونو د ځانګړې قطعې قوماندان او هلتـه د جګړې په مهال یې د لیوني سپې په نـوم شـهرت ترلاسـه کړی.

همدا راز نوموړي په ۱۹۹۱د خلیج د لومړۍ جګړې او په ۲۰۰۳ کې د عراق په اشغال کې فعال رول درلود.

اوس مهال د امریکا د نوي ولسمشر ډونلډ ټرمـپ او دهغه د دفاع وزارت لپاره تر ټولو مهم کار او لویه سـتونزه د افغانستان جګره ده چې باید پـه هـر ډول وي پایتـه یـې ورسوي؛ د امریکایانو لپاره د افغانستان جګـره د دوي پـه تاریخ کې تر ټولو اوږده او تاواني جګره بلل شوې.

په یادې جګړې کې بې له دې پرته چې کومه ملموسه بریا ترلاسه کړي د پنټاګون تکړه او مشهورو قوماندا نانو داسې ماتې خوړلې چې ډیرى یې د جګړې پـه ډګرکـې پـه سختو رواني ناروغیو تر اخته کیدو وروسته له خپلو دندو ګوښه شوي.

جنرال ستانلي مکریسټل یو د دغو مشهورو او تکـړه قومندانانو له جملې څخه دی چې د ۲۰۰۹ کال د جون پـه میاشت کې د ولس مشر او باما لخوا په افغانسـتان کـې د امریکایي ځواکونو د عمومي قومندان په حیث وټاکل شو.

د ده په اړه ویل کیدل چې نومـوړی د امریکـا د دفـاع وزارت د تر ټولو ماهرو جنرالانو له جملې څخه هغه حنرال دی چې د خبرو، خوراک او خواب لپاره ډیر کم وخت لري.

د نوموړي ټول وخت په محاربوي تکتیکونو، جنګـي پلانونو او د مخالفینو په ضد پوځي جګړو کې تیریږي.

خو دا ورزیده تکتیکي جنرال هم په افغانستان کې له داسې ماتې سره مخ شو چې له امله یې خپل عقلي تـوازن بـایلود او اخیر یـې د مخـالفینو پـه ځـای خپـل اعلـی سرقومندان (بارک اوباما) ته سپکې سپورې ویلې.

جنرال مکرستال د ۲۰۱۰ د جون د میاشتې په ۲۳ پـه لندن کې په یوه پروګرام کې د ګډون په مهال وویل:

((اوباما او دهغه مرستیال جوبایډن هغـه چـارواکي دي چې په افغانستان کې یـې امریکـایي ځوانـان د مـرګ خولې ته سپارلي، هغوی د مشر تابه وړتیا نه لري ، ځکه د دوي د ناسمې قومانـدې لـه املـه مـونږ یوزیـات شـمیر پوځیان په افغانستان کې له لاسه ورکړل او ډیر نـور اوس هم په سختو ستونزو کې ښکیل دي))

هماغه و چې بارک اوباما د خپـل تـر ټولـو تکتیکـي جنرال د جنون امیزه څرګندونو د اوریدو له مخې په غصـه او نوموړی یې واشـنګټن تـه تـر سمدسـتي احضـار ولـو وروسته له دندې ګوښه کړ.

په افغانستان کې د جنرال مکریسټل تر ناکامي او لیونتوب وروسته یو بل مشهور او تجربه کار جنرال ډیوید پټرایس چې هغه هم په عراق او بیا افغانستان کې د امریکایي ځواکونو د عمومي قومندان په توګه وګمارل شو.

خو جنرال پټرایس هم په افغانستان کې د خپل جګړه ییز ماموریت په مهال له داسې ستونزې سره مخ شو چې د ۲۰۱۰ د جون په ۱٦ یې ګانګریس ته د افغانستان په اړه د رپوټ ورکولو په مهال حواس بایلودل او د سناتورانو په مخ کې د سټیج پر سر پرمخې راپریوت.

د ګانګریس طبي کار کوونکو د ګانګریس په استماعیه غونډه کې د جنرال پټرایس بې هوښه کیدل د هغو خطر ناکو جنګي صحنو تشریح کول وبلل کومې چې په هلمند او د افغانستان په نورو ولایتونو کې امریکایي ځواکونه ورسره مخ شوي وو.

تر جنرال مکریسټل او پټرایس وړاندې جنرال جیمس ماټیس بل امریکایي جنرال دی چې په عراق او بیا افغانستان کې یې پوځي ماموریت ترسره کړی او ده هم د مکرسټل او پټرایس په څیر د سختې جګړې له امله حواس له لاسه ورکړي او په جګړه ییز جنون اخته شوی و.

نوموړی د خپلې عقلي ناروغۍ له کبله په لیوني سپي شهرت پیداکړی او بالآخره په ناکامي له افغانستانه وتلی.

په افغانستان کې د امریکا د دغو دریو پوځي جنرالانو لیونتوب د مشت نمونه یې خروار په توګه یاد ولای شو ، په حقیقت کې هغه ارقام چې خپله د امریکا د دفاع وزارت له لوري د افغانستان په جګړه کې د امریکایي پوځیانو د عصبي ناروغیو په اړه ورکړل شوي ډیر هیښوونکي دي.

د دفاع وزارت په هغه احصائیه کې چې د ۲۰۱۰ کال د نومبر د میاشتې په ۸ نیټه د antiwar.com لخوا نشر- شوې داسې راغلي:

د پنټاګون د رسمي سرشمرنو له مخې تر ۲۰۱۰ کال پورې د افغانستان په جګړه کې ۴۱۰۳۰ تنه امریکایي پوځیان ژوبل شوي او تر ۹۰۹۵ نفره زیات په عصبي او دماغي ناروغیو اخته شوي دي.

اوس چې د امریکا نوی منتخب ولسمشر- غواړي Gen. James Mattis د ټرمپ په اصطلاح لیونی سپې د دفاع وزیر په توګه وټاکی هدف یې دا دی چې څومره ژر کیدای شي نور د افغانستان له نه خلاصیدونکې لانجې څخه ځان خلاص کړي.

خو که ډونلډ ټرمپ جنرال ماتیس لیونی سپې بولي د افغانستان لانجه هم امریکایانو ته په لیوني جګړه بدله شوې چې هیڅ فکر نه کیږي لیونی سپی دې دا پیچلې جګړه د ټرمپ له نور لیونتوب پرته پایته ورسوي.

داسلام دویم خلیفه حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) فرمائي:

- ✓ لږه وینا حکمت ،کم خوارہ صحت او لږ خوب عبادت دی.
- ✓ له هغوخلکو سره مشوره کوئ چې له الله (جل جلاله) نه ویریږي.
- ✓ تر ایمان وروسته ستره پیرزوینه نیک خویه ښځه ده.
- ✓ طمع بیوزلي،د زړه غنا بډایي او غچ نه اخیستل زغم دی.
- ✓ هر شئ یوه ښکلا لري، د نیکۍ ښکلا داده چې سمدستي وشي.

تاریخ ولې لولو؟

حمزه مجاهد

په دې کې شک نه شته چې تاریخ دېرېو ذخیره او یاد دی، خو تاریخي پیښې څېړل، پند او درس ورځنې اخیستل هم دپیاوړو خلکو کار دی، دا چې تاریخ د ولسونو لپاره آیینه ده او د تېرو تجربو یو کښت دی چې دخلکو لپاره ښه ګټه او ښه حاصل ولري نو ځکه خو دا دکاملو نسلونو کار دی، هغه قوم او ملت چې دخپل شالید په اړه مطالعه نه لري، هغه د حال قیادت په سمه توګه نه شي اداء کولای او نه ورته راتلونکی روښانه کولای شي.

هغه ملتونه چې تاریخ نه لري او اوس کوښښ کوي چې د ځان لپاره خلکو ته په دروغو یو څه وړاندې کړي ښه مثال یې امریکا او اسرائیل دي په حقیقت کې هیڅ هم نه لري، خو غواړي په تاریخ کې خپله ونډه ترلاسه کړي.

هغه چې تاریخ یې په رنګینیو ډک وي، سرښندنو ، قربانیو او له غیرتونو څخه مالامال وي، لوی اتلان او ستر غازیان لري، هغوی بیا د خپل تاریخ څخه ګټه او پند نه اخلي، بلکې د تاریخ په سرچپه کولو او خرابولو لګیا دي او غواړي چې خپل تاریخ په نورو وپلوري، بلکې هغوی دقوم ستر خاینان او دنورو ټټوګان دي.

نو زموږ لپاره دا اړینه ده چې خپل تاریخ مطالعه کړو او دهغې څخه داسې څه زده کړو چې د راتلونکې په ځار کې ښې نمونې وپنځوي، ترڅو دمرژوانده ملت ته ژغورنده ساه وګرځي او دهغې تللی برم او مجد خپل ځای ته وګرځوي.

یوعرب تاریخ پوه وایي چې: هغه څوک چې دتېر شوي کلونو په اړه معلومات ولري او په پېښ شوو حوادثو پوهه ولري دهغه په عمر کې د همدومره کلونو عمر زیاتیږي د کومو چې دی تاریخي علم لري.

همداراز دتاریخ په اړه ناپیلون ویلي چې زه مې خپل اولاد ته دجګړې طریقه نه ورښیم، بلکې پر هغوی دتاریخ مطالعه کوم چې همدا دجنګ د زده کړې لپاره یواځینې وسیله ده.

نو د تاریخ لوستونکي ته په کار دي چې ډېرې داسې فوائد او تجربې چې دده مخې ته راځي باید هغه وارزوي باید له هغې څخه ګټه واخلي او هغه سمې او خطا تجربې مخې ته کېږدي نو دده کامیابي هلته وي چې له غلطیو یې ځان وساتي او کامیابو تجربو عمل وکړي.

له همدې امله ډېرې امامان او خلفاء د اسلامي تاریخ لوستلو ته ځانګړې پاملرنه کړې وه. حضرت معاویه رضي الله عنه به هر سهار له لمانځه وروسته د تاریخ لوستلو لپاره په جومات کې ځانګړې ناسته درلوده او بیا به عبید بن شُرير الجرهمي راته او د تېرو پاچایانو کیسې به یې ورته اورولې او دهغوی د جګړو او حالاتو په اړه به یې پوره معلومات ورته وړاندې کول ترڅو دغه تاریخ ورسره په حال کې مرسته وکړي.

امام شافعي رحمه الله به تل د تاریخ لوستلو باندې ټینګار کاوه، هغه به ویل: چا چې تاریخ ولوست او ورباندې وپوهېد؛ نو دهغه عقل زیات شو.

نو مونږ چې سپیڅلی اسلامي، ملي او له غیرت څخه ډک افغاني تاریخ لرو ! باید له هغې څخه دحال زمانې دتطبیق لپاره غوره تجربې واخلو او بدې یې وغورځوو، ترڅو په راتلونکې کې تاریخي خطاوې بیا تکرار نه کړو او ښکلی روښانه تاریخ ولرو.

❊❊❊

غزل

ملا مطمئن

پریږدم دې نه هیڅ کله خپل جواب درنه غواړم
دهر ظلم جدا،جدا حساب درنه غواړم

زما د زورولو او مرګ خط چې پرې لیکلی
فتوا هم درنه غواړمه کتاب درنه غواړم

چې زه به یې رابیدار کړمه په توره نیمه شپه کې
قاتل مې درنه غواړمه قصاب درنه غواړم

پنځه وخته لمونځو کې مې لاسونه ستا په لور دي
ای ربه ظالمانو ته عذاب درنه غواړم

چې نه د چاپې ډار وي نه بنګنې په سر ګرزي
یوه شپه داسې بیغمه آرام خواب درنه غواړم

د سر پرونی یې نشته دی سرتوره کور کې ناسته
برما مظلومې خور ته مې حجاب درنه غواړم

خاونده ذالجلاله! مطمئن لاس په دعا یم
د خپلو عملونو مې ثواب درنه غواړم

Shahamat

زموږ غمیزه

دهیواد نومیالي شاعر استاد فضل ولي ناګار پخوانی شعر
چې د اسلامي نړۍ د نن غمیزه پکې په خورا ښه او لوړ شعریت سره انځور کړې...

لکه ګلاب ښکاري بغداد انځور رنګین ورسره
مصر په وینو کې لمبیږي فلسطین ورسره
په تباهۍ د اسلامي نړۍ چا ونه ژړل
په زمزمو د هلاکو ځي تور او سپین ورسره
په سره اور وسو د (ځلویښت ابدالو) شام شریف
شیعه سني شته خو هیڅ نشته درد د دین ورسره
سیند ورته خوړ، غرونه یې ښپو لاندې مېده مېده وو
هغه مومن څه شو و ایت مبین ورسره
په لوی اسلام جنګ دی ملا صېب ضوات او زوات پرېده
شیطان راوتی دی ملګري تول ضالین ورسره
د اسیا د زړه تودوخه شاوخوا ته رسي
دښمن زموږ پر سر لوبیږي روس او چین ورسره
د زماني کوم یو فرعون ته بیا نیل جوړیږي
څپې څپې ځي زموږ وینې اباسین ورسره
د شفقي کابل تصویر خپله چېنه کې ګوري
تندر یې ونېوه فضا هلال پروین ورسره
د سرې لیلا د ډولۍ بد انجام ته یې ونه کتل
د ماتې تور داغ به ډالۍ وړي په جبین ورسره
د پروني غازي وارث د اکبر توره څه کړه
څنګه به غاړه ګرځوي زنار وریښمین ورسره
زموږ اتل ساړه غوړونه خرابات کې ناست دي
د ملیونونو شهیدانو ستر نفرین ورسره
خدایه! مهدي دا د امت ناجي به کله راځي
محشر محشر، پرښتو ووایي امین ورسره
چوپ دي شپېلۍ د تکبیر مه شه د ختیځ فاتحه
شمله دې هسکه په ننګ اوسه هوډ یقین ورسره
خلک به وایي چې اسلام او پښتو څه مانا؟
څوک چې غزا له ځي ناګاره اس که زین ورسره